# پښتو پانګه

Download from:aghalibrary

حبیب الله رفیع

ددی کتاب دوهم اودریم ټوک هـــم
بشپړ کړی، چی دپښتو چاپ سوو
آثارو مجموعــه پوره ســی . زه دده
سعی دستاینی وړ ګڼم اوامید لـرم
چیِ د پښتو ټولنی په همت زر چاپ
سی.

پوهاند عبد الحی حبیبی
کابل :جمال مینه ۱ میزان ۱۳۵٤

Download from:aghalibrary

# سر ټکی

سوړ چې اوس د پښتو د پراختیا ، پیاوړ تیا او پر مختیا په هڅه کې
یو او غواړو چې پښتو له هرې خواسړ ه اوغنی‌شی ، علمی‌ژ به وکرځی
او دنړی‌له‌ژوند یو ژ بو سره‌او ړه په‌اوړه‌روانه‌شی نو پدې حساس
وخت کې د :

- څه‌لرو ؟

- په کوسو- کوسو برخوکې یې‌لرو ؟

- چا- چا ، په کوسو- کوسووختوکې‌څه - څه لیکلی ؟

- اودپښتو اوسنی‌پانګه سوڅوسره اوڅنګه‌ده ؟

پوښتنې راسنځ ته کېږي‌اودا اثر ماد همدې پوښتنو دځوابو
په‌غرض پیل کړی چې‌البته دټولو ټوکونو په‌بشپړ بدلو سره به‌یې
سوږته زسوږ دهرڅه پته را په‌کو ته شی اوراته‌ښکاره به شی چې‌په
پښتوکې‌تراوسه‌څوسره‌آثار لیکل‌شوی‌او کوسې کوسې‌ساحې‌اوبرخې‌یې

- لومړی-

Download from:aghalibrary

په لمن کې را نغښتې دي .

کله چې دا پوښتنې ځواب ومومي نو بیا به موږ ته د پښتو د چټکې او ګړندۍ پراختیا او پرمختګ لاره هواره شي او په دې عصر کې به چې ټول کارونه د احصائیې ، شمېر او سنډونو له مخې تر سره کیږي موږ ته څرګنده وي چې پښتو ژبې ته په کومه برخه کې کار شوی او په کومه برخه کې د زیات کار او هاند اړه ده چې د همدې څرګندېدنې له مخې به د کار را تلونکي پلانونه او پروګرامونه جوړوو او په یوه ټاکلي علمي او اغیزمنه لاره به یون کوو .

کتاب ښود ( ببلیو ګرافي ) په کتاب پوهنه کې مهمه برخه لري او په نړۍ کې د کتابونو د پېژندنې له پاره زیات پام او اهتمام کیږي په افغانستان کې هم د کتابونو د معرفۍ په هکله لوړ ګامونه اوچت شوي او تر یوه حده کار پرې شوی دی، د پښتو کتابونو د پېژند ګلوۍ په باب سره له دې چې څه نه څه کار شوی مثلاً د ښاغلي راز محمد ویښ « پښتو کتابونه » او د « پښتو ټولنې کتابونه » یا د ښاغلي فرید « ببلیو ګرافي » او د ښاغلي مایل « فهرست کتب مطبوع افغانستان » چې د پښتو یو شمېر کتابونه هم پکې راغلي او یا د بورکوي « د افغانستان خطي نسخې » د بلوسهارت « د برېتش موزیم د قلمي نسخو فهرست » د میکنزي « په لویه برېتانیا کې پښتو نسخې »

– دوهم –

Download from:aghalibrary

د دو تنا لـد « د افـغـا نستا ن تشر يحى ببليوگرافى»
ا ودمولوی عبدالرحيم« د پېښور د اسلاميه كالج د كتابخانې فهرست»
چې پښتو كتا بونه هم پكې شته او نور ... خو بيا هم دا آ ثا ر بشپړ ،
قانع كوونكي او لا ربښو دي نه دي او په سلو كې يې دلسو كتابونو معرفي
هم نه ده كړې ، زه دلته نه غواړم چې د ى كتابو نو ته كره كتنه وكړم
او نيمگړ تياوې يې را برسيره كړم نو ځكه تر ې تېر پږم او دخپل
كار په با ب خو خبرې كوم( ۱ ).

ما د پښتو پانګې په دې ټوك كې د پښتو د پنځسو (۵۰۰) ټو كو ببلو-
ببلو كتا بونو چې ببل - ببل موضوعا ت لري او په ببلو - ببلو
ځـا يـو نـو كـې خـپـا ر ه شـو ي ، معـر فـي ر ا وړې ده.
د كار تر تيب مې د كتابو نو د نومو نو د رديف له مخې كړى او په
دې ټوك كې معرفي شوي كتابونه له «الف» نه تر «يې» پورې رسيدلي د ى
پاتې كتابونه به په بل ټوك كې بيا هم له «الف» نه تر «يې» پو رې

---

( ۱ ) د پښتو او دري كتا بونو د نورو ببليو گرافيو،فهرستونو او كتاب
ښودونو د پېژ ند گلوې له پاره د آر يانا مجلې د ۱۳۵۳ كا ل په
څلورمه گڼه كې د درانه او محترم ښېرونكي ښاغلي حسين « نايل »
د « فهرست كتب چاپې افغانستان» نومې كتاب ښودسريز ه ولولى !ء

-دريېم-

ترتیبېږي که څه هم ما غوښتل چې لومړی باید د پښتو ټول کتابونه وګورم بیا یې له «الف» نه تر «يې» پورې په پرله پسې څو ټوکونو کې معرفي کړم خو څرنګه چې د پښتو ټول کتابونه مې په واك کې نه وو نو ځکه دا کار ناشونی ؤ، په همدې توګه مې په همدې موجوده بڼه خپل کار پیل کړ که ما پوره نه کړای شو امید شته چې بل څوك به یې تر سره کړي او هم که په دې ډول د کار په تر سره کولو بریالی شوم نو کېدای شي چې په بل چاپ کې بیا له سره تر پایه پورې په یو ځل ترتیب او تردیف شي، باوري یم چې د دې سلسلې په پیلېدلو سره به د پښتو خواخوږي هغه کتابونه چې له ما سره دې پته نشته، یا زما لاس نه ور رسېږي او یا د دوی په کورنیو کتابتونو کې خوندي دي د معرفي له پاره را په ګوته کړي او د دوی په مرسته به دا سلسله ورو ـ ورو پسې بشپړه شي.

زه به د پښتو پانګې په دوویا دریو لومړیو ټوکونو کې د پښتو هغه بشپړې رسالې او کتابونه چې په افغانستان، پښتونستان، پخوانی هندوستان، موجوده پاکستان او هندوستان، شوروی اتحاد، انګلستان فرانسې او نورو هېوادو کې خپاره شوي، معرفي کړم؛ په یوه ځانګړي ټوك کې به د پښتو او نورو ژبو سره ګډ کتابونه، رسالې، قانوننامې

ـ څلورم

نظامنامې، درسي کتابونه او پامفلیټونه معرفي شي؛ یو بل ټوك به د پښتو د خطي نسخو د معرفي له پاره وي؛ په یوه بل ټوك کې به د پښتو سوقوتي خپرونې: ورځپاڼې، جریدې او مجلې معرفي شي او په وروستني ټوك کې به د بشپړونې او تکمیل په توګه له نورو ټوکونه پاتې او یا نوي خپاره شوي آثار معرفي کیږي او په یوه ټاکلې زماني تمځای به دا سلسله ختمیږي. دا کتابونه، نسخې رسالې او خپرونې به یوه پرله پسې او یوه هم اختصاصي نوسره لري او په پای کې به د همدې نوسرو په اساس بیل بیل فهرستونه د موضوع، دلیکوالو دنوم، دچاپ د کال، دخپریدو دځای او نورو له مخې ورته جوړیږي چې له علاقمندانو او خصوصاً څیړونکو سره زیاته مرسته کولای شي.

بنايي ځینې لوستونکي انتقاد وکړي چې زما دا کتاب ولې دعصري ببلیوګرافۍ د اصولو په رڼا کې نه دی ترتیب شوي ځکه عصري ببلیوګرافي لنډه اواشاري وي او مخصوصاً دسؤ لفینو دنوم یاد کتابونو د موضوع له مخې ترتیبیږي، ما ښتیا هم چې خپل کتاب ولې په دې ډول نه دی ترتیب کړی دا دوه علتونه لري یو دا چې ماغوښتې چې د هر کتاب د معرفۍ په برخه کې د کتاب دموضوع لنډیز هم راوړم او په بیخي عام فهم ډول یې معرفي کړم او بل دا چې

دپښتو ټولنې دخپرونو
پرله پسې نومره (۲۱۱)

# پښتو پانګه

## لومړی ټوک

د پنځوسو (۵۰۰) ټوکو پښتو کتابونو پېژندګلوي

ليکوال

حبيب الله رفيع

پښتو ټولنه
۱۳۵۴

زیات کتابونه وو چی ځینو يې دچاپ کال، ځینو يې دچاپ ځای ځینو يې ناشر او نور نه درلو دل نوکه دعصري ببلیو گرافی په اساس راوړل شوي وای ډیری گڼوډي او دلار ښودنې گونگتیاوې يې پیښولې، دا هم باید یاده کړم چې په دی «کتاب ښود» کې دمحترم او فاضل استاد، پوهاند عبدالحی حبیبي د«راهنمای تاریخ افغانستان» روش تعقیب شوی دی .

ددی کتاب ښود دکار د لاری په باب نورسهم ټکي دادي:

۱- کتابونه یو هم د فهرستونو له مخې نه دي معرفی شوي ټول مې په خپله کتلي او بیامې معرفي کړي دي .

۲-د کتابونو مونه‌مې ددی له پاره چې پیدا کول يې اسانه‌وي په هماغه اصلي لیکدو دلیکلي او په څنگ کې‌مې يې معیاري شکل هم لیکلی لکه دښاغلي مفتون «څړیکې» چه د «سړیکې» په نامه خپرې شوې او ساهم د «س» په ردیف کې را وړې دي او یا لکه د ښاغلي د هقان « دسر و تعو یذ » چې پـه پښتې يې «سر و تعو یذ» کښل شوی او سا هم د «د» درديف په ځای د«س» په ردیف کي معرفي کړي دی.

۳- هغه کتابونه چې لوسړی او دوهم چاپونه يې زیات توپیر نه سره لري په هماغه یوه نومره معرفي شوي خو هغه کتا بونه چې

-شپږم-

دلوسړي او دوهم چاپ ترسنځ يي ډير تو پير سره را غلی او بشپړ بدلون، يا ډير زياتون يي موندلی لکه دسلنګ جان‌د « خوږې‌نغمې» لوسړی‌او دوهم چاپ، يا داستاد الفت د «ليکو الی- املاء انشاء» لوسړی او دوهم چاپ، دوا ړه دځانګړ و کتا بو په تو ګه تر بيلو بيلو نومرو لاندې راغلی دی .

۴- د کتابو په معرفی کی هڅه شوې چې د ا سا نتيا ری په غرض يی هماغه د پښتې دپاسه راغلی ښکنی را واخلم يعنی‌په کوم کتاب کی‌چی «ليکونکی»ليکل‌شوی « ليکونکی» خو که« ويونکی» ليکل شوی «ويونکی» او که «مؤلف » ايکل شوی «مؤلف » را اخيستل شوی دی، همدا راز په نورو برخو کی‌لکه‌ناشر،خپروونکی او نو ر ....

۵- د کو سو کتا بو په معر فی کې چې دخپر يد نګ کا ل دخپريدو ځای او نور نشته هغه په ا صل کې نه درلود او د کوم کتاب په باب مې چې په خپله معلومات‌تر لاسه کړی او په پښتې يا نورو پاڼوکې يې‌نشته هغه مې ددې اه پاره چې د کتا ب له ليکلو معلوماتو سره يی توپير وشی په ليندیو کې نيولی دي .

اوس چې‌خپلې خبرې بس کوم :بې انصافی ګڼم که د ګران او خواږه سلګر ي،ځو ان ليکوال ښاغلی ز لمی هيو اد مل د هغې

زيارمننه او ياد و نه ونه كړم چې زما د دې څو كلو را هيسى يادداشت شوو خورو ورو پاڼو په راټوليدنګ كې يې را سره كړې ده او يقيناً كه دده مرسته نه واى نو دا پاڼې به دڅونو رو كلو نوله پاره هم همداسې خورى ورې پاتې شوې وى .

زه ددې كتاب دراټلونكو ټو كونو دتر تيب او د كار دښه كيدلو په باب ددرنو لوستونكو او دنظر دخاوند انو ا رخښتنا كو نظريو او انتقادو ته سترګى په لاريم او د هغو كتابو په برخه كې چې له ما سره نشته او يا زما لاس نه وررسيږى دپښتو د خواخوږو مرستې ته زيا ته اړه وينم .

په مينه

**حبيب الله رفيع**

كابل، بريڼ (باغ بالا)

۱۳۵۴/۶/۲۰

د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز
د نړيوالي غونډې په وياړ

# اهدا

د پښتونستان ملي شاعر او پیاوړی
فولکلور پسټ اولیکوال
ښاغلي ولي محمد سیال کاکړ ته

چې:

له خپلې ژبې، خپلې مینې، خپل لوی هیواد،
خپل ملي ادب او خپلو ملي ویاړو نو سره
لیونی مینه لري

او

خپلې په زیار پیدا کړې پیسې د پښتو قلمي
نسخو په راټولو او د خپلو پښتو کتابو په
خپرولو لګوي

ح — رفیع

# سریزه

## په اوسنی دنیا کی کتاب پیژندنه
Bibliography

یوه داسی علمی اساسی‌مو ضوع ده،چی هر لیکوال او خیړ نوا ل‌او هم هر عادی زده کوو نکی او ښو- ونکی ورته اړدی ، او هره میاشت د دنیا په ژوند یو ژبو کی داسی پـه سوو کتا بونه خپر یږی، او هم په پو هنتو نوکی یوه درسی بر خـه لری‌او خلك یی زده کوی.

پښتو ژبی په‌دی وروستی پیړی کی‌په چاپی توگه په خپرونو لاس پوری کړی دی او کوم وخت چـی‌د ۱۸۰۰ م په شاو خوا کی دچـــاپ صنعت هندو ستان ته راورسیدئ

نود پښتو ځینی کتابونه هم چا پ
سول.

هر څوك چی په‌پښتو کی څیړنه یاکتنه کوی، باید په دی وپو هیږی چی تر‌اوسه کوم کوم کتابونه چاپ سوی‌یالیکل اوتا لیف سوی دی؟

زما په خیال دپښتو ټولنـــی دا لومړی وظیفه ده‌چی‌ددی مقصد لپاره دڅیړو نکو او لیکوا لو سره کو مك وکی اود پښتو چاپ سوو کتا بــو یو رهنما وړاندی کړی.

ښاغلی رفیع‌د «پښتو پانگه» هــم ددی مقصد لپاره کښلی ده چـــی په دی لومړی‌ټوك‌کی یی ۵۰۰کتابونه ښوولی دی ، او دهر کتاب لنــډ تعریف اود مو ضوع ټاکنه هم ور سره ده.

زه ددی کتاب چاپول ګټه ور گڼم اوله رفیع صاحب څخه داغواړم چی

«۲»

## آدم درخانی

ویونکی : صدرخان ختک.

دیباچه له : محمد نواز خان طائر.

خپروونکي : پښتو اکېډمي ، د پېښور یو نیورسټي .

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۵۹ ، پبلک آرټ پریس ، پېښور .

کچه : ۱۴ × ۲۲ سم.

مخونه : ۱۸۲

موضوع : دآدم خان او درخانۍ مشهوره ملي او فولکلوري کیسه ده چې صدرخان ختک په خواږه او روان نظم منظومه کړې ده .

«۳»

## آئینهٔ معنی نما

### دیوان معزالله خان مومند

ویونکی : معزالله خان مومند.

ترتیب او تدوین : دخیال بخاري .

خپرووکی : پښتو اکېډیمی ، د پېښور یونیورسټۍ .

دخپرېدو کال : ۱۹۵۸ ، خلیق سنز پرنټنګ پرېس ، پېښور .

کچه : ½ ۱۶ × ½ ۲۰ سم.

مخونه : ۵۰ + ۱۷۶ = ۲۲۶



موضوع : دپښتو دنامتو شاعر معزالله خان مومند داشعارو مجموعه ده ، چې چاپ یې د هغې نسخې له مخې شوی ، چې پخپله دویونکی په مهر ممهوره ده .

«۴»

## ابدالي توره

لیکوال : غوث (شهامت) .

خپروونکی : افغانستان اکاډیمی ، دپښتو دتقویې او انکشاف (آمریت).

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۵۲ ، دولتی مطبعه .

کچه : ½ ۱۶ × ۲۳ سم.

مخونه : ۱۳۶

موضوع : یو تاریخي داستان دی چې په هند کې د اعلیحضرت احمدشاه بابا فتوحات پکې بیان شوي دي او د تاریخي مطالب په بڼه کې داستاني بڼه لیکل شوي دي .

«۵»

## ابوریحان البیروني

مؤلف : سید حسن برني .

مترجم : عبد الاحد عارض .

خپروونکی : دافغانستان اکاډیمی، د پښتو د انکشاف او تقویې (آسریت).
دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۵۲، دولتی مطبعه .
کچه : ۱۵ × ½ ۲۲ سم .
مخونه : ۳۳۲
موضوع : دافغانستا دلوی عالم اومنجم ابوریحان محمد بن احمد البیرونی (۳۶۲ ـ ۴۴۰ق) دژوند په باب څېړنه شوې او دده تألیفات او علمی تحقیقات پکی ښودل شوی دي .

## «۶»
## اتالیق پښتو

تألیف : عبدالحلیم اثر افغانی .
خپروونکی : یونیورستی بک ایجنسی، پېښور .
دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۶۰ ع، منظور عام پریس، پېښور .
کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .
مخونه : ۱۲۸
موضوع : داردو ژبوله پاره د پښتو د زده کړې له لومړنیو کتابونو څخه دی چې لومړی برخه یې ویې (کلمې) اودوهمه برخه یې خبرې (جملې) دي چې په څنګ کې اردو ژباړه هم ورسره کښل شوې ده .



## «۷»
## اتفاق

ویونکی : ګڼ شاعران .
ټولونکی : جمال شاعر دګنداب.
ناشران : حاجی عبدالمنان، محمداجمل (اسلامی کتبخانه ).
دخپرېدو ځای : حمید یه پریس، پېښور .
کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .
مخونه : ۷۲
موضوع : دګڼو اولسی شاعرانو دچار بیتو، غزلو، لوبو او نورو اولسی شعرونو مجموعه ده چې د پښتو اولسی ادب په څېړنه کی په کار راځی .

## «۸»
## اته ګیسونه

ویونکی : سیدبشیراحمد کاکاخیل او سراج الاسلام .
خپروونکی : ادبی ټولی، زیارت کاکا صاحب .
دخپرېدو کال : ۱۹۵۹ع.
کچه : ۱۲ × ½ ۱۷ سم .

مخونه : ۴۸

موضوع : د کاربن ډای اکساید، نایتروجن، آکسیجن، هایډروجن هایډروکلورک ایسډ، کلورین، امونیا، سلفرډای اکسایډ ګازونو په باب منظوم معلومات دی او دا په پښتو کې لومړنی منظوم اثر دی چې ساینسي دنیا پکې څېړل شوې ده .

«۹»

## احیاء العلوم

لیکوونکی : امام غزالی.

ژباړونکی : محمد عباس.

خپروونکی : یونیورسټی، بک ایجنسی .

د خپرېدو کال او ځای : ۱۹۶۶ ع (ړومبی ځل، زرټوکه) منظور عام پریس، پېښور .

کچه : ۱۳ × ۱۹ سم .

مخونه : ۳۷۰ .

موضوع : یو دیني کتاب دی چې په نثر ژباړل شوی، د علم د فضیلت او د پخوانیو علومو په باب مفصل بحث لري .

«۱۰»

## ادب څه دی؟

لیکوونکی : سحر یوسفزی .



خپروونکی : عظیم پبلشنګ هاوس، خیبر بازار ، پېښور .

د خپرېدو کال : ۱۹۶۷ ع .

کچه : ۱۲ × ½ ۱۸ سم.

مخونه: ۲۴۴

موضوع : د «ادب څه دی؟ تنقید څه دی؟، پښتو ادب، ناول څه دی؟، ډرامه، افسانه، انشائیه، رپورتاژ، شخصیت نګاری، ادب او مقصد» ترسر لیکونو لاندې په ادبي موضوعاتو بحث شوی دی او په پښتو کې د ادبي څېړنو په برخه کې یو ګټور اثر دی .

«۱۱»

## ادبیات

لیکوونکی : عبد الباری اشنا .

خپروونکی : د طلوع افغان اداره .

د خپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۶ شوری، د کندهار دولتي مطبعه.

کچه : ½ ۱۴ × ۲۱ سم .

مخونه : ۱۱۴

موضوع : ادب او د پښتو د ادبیاتو د نظم او نثر ډولونه پکې څېړل شوي چې له معتبرو آثارو څخه استفاده پکې شوې ده .

«۱۲»

## ادبي بحثونه

ليکونکی: گل پاچا الفت.

خپرونکی: پښتو ټولنه.

دخپريدو کال اوځای: د۱۳۳۲ زمری، دکابل عمومی مطبعه.

کچه: ۱۸×۱۴ سم.

مخونه: ۱۳۲

موضوع: دادب په باب په زړه پوری څیړنه ده او د: «ادب، دادب د کلمې تاريخ، دادب تعريف، داد ب تقسيم، شعر، شعر د پښتنو شاعرانو په نظر کی، په ژوند کی د شعر اوادب اغيزه، دادب تاثير په اسلامی فقه اودينی احکامو کې، دادب ښه او ګټانه او عاميانه بلاغت» ترسر ليکونولاندی بحثونه پکی راغلی دی.

«۱۳»

## ادبي پنگه

مصنف: عبدالاکبر خان اکبر.

خپروونکی: په خپله مؤلف.

دخپريدو کال اوځای: ۱۹۷۱ ع (دوهم ځل) منظورعام پريس پېښور.



کچه: ۱۲×½ ۱۷ سم.

مخونه: ۱۷۶

موضوع: دپښتو دلوی شاعراو ليکوال اوملی مبارزښاغلی اکبر صاحب دادبي ليکنو اودملی شعرونو يوه خوندوره مجموعه ده چې دپښتونستانيانو دملی غوښتنوغبرګ پکی پوره ته شوی او دملی شاعر دملی احساس ترجماني يې کړېده.

«۱۴»

## ادبي تنقيد

ليکونکی: ميان سيدرسول رسا.

خپروونکی: يونيورسټی بک ايجنسی، پېښور.

دخپريدو ځای: منظورعام پريس، پېښور.

کچه: ۱۹×½ ۱۲ سم.

مخونه: ۱۸۶

موضوع: دادب اوشعرپه باب يوپه زړه پورې اثردی چې د: آرټ يافنون لطيفه، دعلم ادب تعريف، ادب اوشاعری اود شعر په هکله په زړه پوری څیړنه ده او دادب د ذوقمندانو سره زيا ته مرسته کولای شي.

## «۱۵»
## ادبي جرګې

ويناوې : د ډېرو ليکوالو .

خپروونکی : پښتو ټولنه، د کابل مجلې څانګه .

د خپرېدو کال او ځای : ۱۳۲۷، د کابل عمومي مطبعه .

کچه : ۱۸ × ½ ۲۶ سم .

مخونه : ۸۲

موضوع : «پېښور ته د پښتو ټولنې د غړو د تګ راپور، کابل ته د پېښور د ادبيانو د راتګ راپور، کنفرانسونه، په کابل راډيو کې مشاعره، د پښتو ژبې په شا او خوا کې څېړنې مذاکرې او فيصلې» پکې راغلي دي .

## «۱۶»
## ادبي څېړې

ليکوال : پروفيسر سيال کاکړ.

خپروونکی : پښتو ادبي دنيا کوټه.

د خپرېدو کال : ۱۹۷۴ع.

د خپرېدو ځای : جنګ پرنټنګ پريس، کوټه .

کچه : ۱۲ × ۱۷ سم .

مخونه : ۵۶



موضوع : په نوې ابتکاري بڼه د لرې او برې پښتونخوا د يو شمېر ليکوالو او شاعرانو عکسونه سره راغونډ شوي او په ډېر ښه ذوق سره ترتيب او خپاره شوي دي، دا د پښتو يوه ژوندۍ تذکره ګڼلای شو او د نورو تذکرو له پاره به يې راټول کړي عکسونه د ښه اخځ په توګه په کار يږي .

## «۱۷»
## ادبي ستوري

ليکوال : حبيب الله رفيع.

خپروونکی : پښتو ټولنه .

د خپرېدو کال : ۱۳۵۳ (د بايزيد روښان د زېږوال سيمينار په وياړ).

د خپرېدو ځای : د دولتي مطبعه .

کچه : ½ ۱۴ × ½ ۲۰ سم.

مخونه : ۲۰+۲۹۶=۳۱۶

موضوع : په دې اثر کې د پښتو د پنځوسو تنو هغو پخوانيو نوموړو شاعرانو سوانح او وينا راغلي چې تر اوسه په نورو تذکرو کې نه دي معرفي شوي او هم د پښتو د لسو تنو نامتو شاعرانو ورکه وينا پکې خوندي شوې ده .

«۱۸»

## ارمان

لیکونکی : عبدالرؤف قتیل ...

خپروونکی : داطلاعاتو او کلتور وزارت، د آثاروا و هنرد تشویق لوی مدیریت .

دخپریدو کال او ځای : ۱۳۴۴، دولتی مطبعه .

کچه : ½ ۱۳×۱۹ سم .

مخونه : ۱۱۲

موضوع : دښاغلی قتیل داوو اجتماعی، انتقادی او اصلاحی لنډو کیسو مجموعه ده چی ځینی ملی درد و نه پکی را نغښتل شوی دی .

«۱۹»

## ارمانونه

ویونکی : مطیع الله قریشی .

خپروونکی : په خپله مؤلف .

دخپریدو کال : ۱۹۶۳ ع .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۲۴



موضوع : دځوان شاعر دځوانو اوتودو احساساتو او دمینی دخوږو جذباتو یوه په زړه پورې هینداره او د خوندورو شعر و نو یوه ښکلې مجموعه ده .

«۲۰»

## ارمغان خوشحال

ویونکی : خوشالخان ختک .

مقدمه : دمیان سید رسول رسا .

خپر وونکی : یونیورسټی بک ایجنسی، پېښور .

د خپریدو ځای : منظور عام پریس، پېښور .

کچه : ½ ۱۸×۲۵ سم .

مخونه : ۱۴۴ سریزه + ۱۰۳۴ متن = ۱۱۷۸

موضوع : دخوشالخان ختک د ټولو منظومو آثارو مجموعه ده چی «بوللی، څلور یزی، بدلی، ټوټی او ګډ وډ، فارسی کلام فضل نامه، باز نامه، سوات نامه» ټول پکی را غلی او خپاره شوي دي.

«۲۱»

## اساسی نظامنامه دلوړ دولت دافغانستان

لیکونکی او خپروونکی : دافغانستان دولت .

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۰۲ ش، دوزیرانو دعالي مجلس مطبعه.

کچه: ۱/۲ ۱۵ × ۲۰ سم.

مخونه: ۲۴

موضوع: په ۷۳ مادو کې دافغانستان لومړنی اساسي قانون دی چې د افغانستان د خلکو حقوق، د کابینې او شورى تشکیل او نور پکې راغلي دي. داقانون د هغې وخت یو په زړه پورې او دیموکراتیک قانون دی چې خلکوته یې زیاتې آزادۍ او حقوق پکې منلي دي.

«۲۲»

## اسرار العارفين

مؤلف: امام غزالی.

پښتو کوونکی: شیرمحمد (هوتک کندهاری).

خپروونکی: میامحمد شریف او چهجو سنگه، د پېښور د کتابونو تاجران.

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۲۶ هق، مطبع اسلامیه، لاهور.

کچه: ۱/۲ ۱۵×۲۳ سم.

مخونه: ۳۹۱

موضوع: دیني راز-را زمسایل دي چې په خوږه لنډه مثنوي لیکل شوي او ځای په ځای آیات او احادیث هم پکې راغلي دي.



«۲۳»

## اسلام او غربي پوهان

تألیف، ترجمه او تتبع: عبدالهادی هدایت.

خپروونکی: دافکار و دروزنې انجمن.

د خپرېدو کال: ۱۳۳۶، عقرب، دولتي مطبعه.

کچه: ۱/۲ ۱۴×۲۰ سم.

مخونه: ۴۰

موضوع: داسلام او داسلام د پیغمبر په باب دلویدیځ پوهانو دنظریاتو او اعترافاتو لنډیز دی.

«۲۴»

## اسلامي قصې (کیسې)

لیکوونکی: حافظ محمد ادریس.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور.

کچه: ۱/۲ ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۱۷۲

موضوع: دماشومانو له پاره یو لړ انتباهي اسلامي تاریخي کیسې پکې راغونډې شوې چې له بېلو بېلو آثارو څخه رااخیستل شوې او ژباړل شوي دي.

«۲۵»

## اسو یلی

ویونکی :فضل حق شیدا .

خپروونکی : یو نیو رستی بکډایجنسی ، پېښور .

دخپرېدو کال او ځای :د ۱۹۶۲ ع جون، مطبوعهٔ لاهور.

کچه : ½ ۱۶ × ۲۰ سم.

مخونه : ۲۵۰

سوضوع :دفضل حق شیدا داجتماعی اورنگینوشعرونو یوه ښکلې مجموعه ده چې دژوند مشکلات ،ملی افتخارات ،اصلاحی انتقادونه شاعرانه جذبات او احساسات پکې راغونډشوی اوله هرڅه نه مخکې وايي:
« دحرم دزړه دننه دعاگانې چې راور سېدې خولې ته اسویلی شوې»

«۲۶»

## افغان یور یشیایی

### داساسی ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ژبې مقام

لیکونکی : کوثرغوریاخېل.

دخپرېدو کال اوځای: ۱۹۶۱ ع ،برقی پریس، پېښور.

کچه: ½ ۱۱+۱۸سم.

مخونه: ۱۶۰



سوضوع : د پښتو فیلا لوژی په باب یو ښکلی اثر دی اوپه دې اثر کې دهند دیور پی او سامی ژبو اساس او د پښتو ژبې مقام داساسی ژبپوهنې په رڼا کې څېړل شوی دی .

«۲۷»

## افکار هلالی

لیکونکی :الحاج خانمیرهلالی.

خپروونکې : دا ووه ورځنی جمهوریت اداره .

د خپرېدو ونېټه اوځای: د۱۹۶۱ ع فروری ـ منظور عام پریس پېښور.

کچه:۱۳× ½ ۱۸ سم .

مخونه: ۲۵۵

سوضوع :دالحاج هلالی داشعار ومجموعه ده چې را زـ رازد ینی او اجتماعی افکار یې پکې را نغښتی دی .

«۲۸»

## الهدین چراغ

تصنیف:عزیز الرحمی مفتی .

خپروونکی:قد یمی کتبخانه ، پېښور.

دخپر یدوځای: منظور عام پریس، پېښور .

کچه: ۱۲ × ½ ۱۷سم.

مخونه: ۶۹

موضوع: داله دين چراغ د مشهورې فولکلوري کيسې منظومه پښتو ترجمه ده او د کيسې د رنګينۍ له پاره ځای ځای لنډۍ، لوبې او نور اولسي شعرونه پکې راغلي دي.

«۲۹»

## امام اعظم

ليکونکی: اسرار د طورو (تورو).

خپروونکی: يونيورسټي بک ايجنسي.

د خپرېدو ځای: منظور عام پريس، پېښور.

کچه: ½ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه ۱۱۱

موضوع: د امام اعظم (رح) پېژندګلوي، د ده د مذهب په باب معلومات او د ده متعلق نورې ضروري خبرې پکې راغلي چې د امام اعظم د پېژندګلوي په برخه کې يو ګټور کتاب ګڼل کېږي.

«۳۰»

## امانت

ليکونکی: شېر زمان غمژن (غمجن).



خپروونکی: شرف نيوز ايجنسي.

د خپرېدو کال او ځای: ۱۹۷۱ع، حميديه پريس پېښور.

کچه: ½ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۱

موضوع: د پښتو يو غوره ناول دی چې د فني خوالي سره سره د موضوع له پلوه هم په زړه پورې او د پښتونستان د ځينې برخو د رياستي لاس لوڅي نظام نادودې او اصلي څېره يې پکې رابرسېره کړې ده.

«۳۱»

## انشاء د پښتو

د: نقيب احمد.

په فرمايش: د حاجي محمد شريف عبداللطيف.

کچه: ۱۶× ½ ۲۴ سم.

مخونه: ۹۶

موضوع: د پښتو ليکونو، قبالو، عريضو او نورو ضروري ليکنو نمونې پکې راغلې دي او د فارسي سرا مثلات په ځواب کې د پښتنو له پاره ليکل شوي دي.

«۳۳»

## اوراو او به

ليکونکی: اس ،ای ،رحمان ، کا کا خېل .

خپروونکی: يو نېو رستی بک ايجنسی .

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹٦۰ ع ، منظور عام پريس ، پېښو ر.

کچه: ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۲۱٦

موضوع: يوه په زړه پورې اصلاحی او انتقادی ډرامه ده چې پښتنی معاشره پکې منعکسه شوې او د ټولنې ځينی ناوړه دودونو ته دا نتقاد گوته پکې نيوله شوې ده .

«۳۳»

## او سنی ليکوال

### ( لومړی ټوک )

ليکونکی : عبدالرؤف بېنوا .

خپروونکی: دمطبوعاتو مستقل رياست ،د کو ر نيو خپرونولوی مديريت ،دجوائز و او کتابو چاپولو ځانگه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۴۰ ، دولتی مطبعه .



مخونه: ۵۴۴

موضوع: په دې ټوک کې دافغانستان او پښتونستان د پښتو د ۶۱ تنو او سنيو شاعرانو او ليکوالو دژوند پېښې او د آثارو نمونې راغلې دی.

کتاب دالفبی په ډول تر تيب شوی چې له «الف» نه تر «ر» پورې دليکوالو دتخلصو نو له مخې دد وی پېژند گلوی پکې راغلې ده.

«۳۴»

## او سنی ليکو ال

### (دو هم ټوک)

ليکونکی: عبد الرؤف بېنوا.

خپروونکی: دمطبوعاتو مستقل رياست ،د کور نيو خپرونولوی مديريت ، دجو ايزواو کتابو چاپولو څانگه .

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۴۱ ،دولتی مطبعه.

کچه : ۱۸× ۲۳ سم .

مخونه : له ۵۴۵ څخه تر ۹٦۸ _ ۴۲۴

موضوع: په دې ټو ک کې د پنځوسوتنو پښتنو اديبانو ژو ند پېژ ند نه راغلې چې ټول شمېر يې ۱۱۱ تنو ته رسېدلی او د «غ» ر د يف ختم شوی د ی .

«۳۵»

## اوسنی لیکوال

## (دریم ټوک)

لیکو نکی: عبدالرؤف بېنوا .

خپروو نکی: دپښتو دتعمیم او انکشاف لوی مدیت .

دخپرېد و کال او ځای: ۱۳۴۶ ،دولتی مطبعه.

کچه: ۱/۴ ۲۴+۱۷سم .

مخونه: له ۹۶۹ څخه تر ۱۵۱۲ =۵۴۴

موضوع: په دې ټوک کې هم د پښتو د ۱۱۵ تنو اد یبانو سوانح راغلي چې دټو لو شمېر ۲۲۶ تنو ته رسېد لی دی. دا سلسله په همدې ځای ختمه شوې او د«ی» تررديف پورې رسېدلې او هم يې پا يځورله «الف» نه تر«ی» پورې پکې راغلی دی.

«۳۶»

## اولسی نکلونه

ټولوونکی: سید عابد شاه عابد.

خپروونکې: پښتو اکیډمی، کوټه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹۷۲ع ،اسلامیه پریس، کوټه.



کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۱۵۵

موضوع: د پښتوا ته فولکلوری کیسې د«ژرند باز باچا، چند ن لاله، دخراسان باچا، ژړه غوا، نیکی و بد ی، سلاتېر، دری حافظان، توردیب» په نوم د خلکو په ژبه پکې خو ندي شوې دي، چې د پښتني فولکلور او پښتو لهجو د څېړونکو لپاره ښه اخځ دی.

«۳۷»

## باز نامه

لیکونکی: خوشال خان خټک.

خپروونکې: پښتو ټولنه .

دخپرېد و کال: ۱۳۳۲، زمری ، د کابل عمومی مطبعه.

کچه: ۱۸×۱۴سم .

مخونه: ۶۸

موضوع: دباز په باب دخوشال خان خټک یو منظوم اثر دی او د باز دساتنې او روزنې او ښکار په باب تجربه شوی معلومات لري.

«۳۸»

## باغ و راغ

ویونکی: میاں سید رسول رسا.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي.

دخپریدو کال: نه لري.

کچه: ۱۷×۲۰ سم .

مخونه: ۶۸۸

موضوع: د میا سید رسول رسا د هلکوالی او ځوانی دهغو ټولو شعرونو مجموعه ده، چی لاسوته ورغلی او راټول کړي یې دی. په دې اشعاروکی هم اجتماعي شعرونه شته او هم عشقی، هم انتقادی شعرونه لري او هم احساساتی، هم فلسفي شعرونه پکی لیدل کیږی او هم علمی.

«۳۹»

## بایزید روښان

لیکوونکی: قیام الدین خادم.

خپروونکې: پښتوټولنه.

دخپریدو کال: نه لري.

کچه: ۱۷× ½ ۱۳ سم.

مخونه: ۱۸۲

موضوع: دپیر روښان د ملی مبارزو په باب خبره نه، دده بیوگرافي، دده د آثارو په باب معلومات، او په پیر روښان پورې مربوط په زړه پوري بحثونه لري .



«۴۰»

## بله ډیوه

لیکوونکی: گل پاچا الفت.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

د خپریدو کال: د. ۱۳۲ کال عقرب، عمومی مطبعه.

دچاپ شمېر: پنځه سوه ټوکه.

کچه: ۱۳× ½ ۱۷ سم.

مخونه: ۹۵

موضوع: دښاغلی الفت دځینې اجتماعی ټوټو یوه ښکلی اورنگینه گلدسته ده، یوه برخه اجتماعی او انتباهی درسونه لری، او خواره انتقادونه ځای په ځای پکې موندل کیږي.

«۴۱»

## بنگالی سندرې

ویوونکی: قاضي نذر الاسلام.

ژباړونکی: محمدنواز خان طائر.

خپروونکې: پښتوا کیډمی، پېښوریونیورسټی.

دخپرویدو کال: ۱۹۶۴ع.

دچاپ ځای: خیبر میل پریس پېښور

کچه: ۱۴×۲۲ سم.

مخونه: ۲۱۰

موضوع: د بنګال د ملي او انقلابي شاعر قاضي نذر الاسلام د هغو ملي شعرونو مجموعه ده چې د پردي استعمار پر ضد يې ويلي او خپل خلک يې د خپل حق غوښتنې ته رابللي دي، او «د غليم په زندان کې ئې د پښو کړي د دې لپاره زغملې چې د خپل ملت اه غاړې نه د غلامۍ کړۍ وباسي»

## «۴۲»

## بنوں او دوزیرستان تاریخ

## (لومړی جلد)

مصنف: ګل ايوب خان سيفي.

د خپرېدو کال: ۱۹۶۹ ع.

د چاپ ځای: شاهين پرنټنګ پريس، پېښور.

کچه: ۱۵×۲۳ سم.

مخونه: ۵۱۲

موضوع: په ۲۶ بابونو کې دوزيرستان ځينې برخې معرفي شوې او د دې ځای د خلکو په کلتوري او اجتماعي ژوند رڼا اچوله شوې ده.



## «۴۳»

## بهار جانان

و يونکي: ګڼ شاعران.

ټولوونکی: مولوی محمد شريف جانان.

خپرونکی: مولوی عبدالله د کتابونو تاجر.

د خپرېدو کال: ۱۳۵۰ هـ، ق.

د چاپ ځای: د لاهور رصابر مطبعه.

مخونه: ۳۶

موضوع: په دې اثر کې د: «مخلص، محمد کريم، ملا زاهد، کمال بابا، برخوردار، شمس الدين، حاجی اختر، امير، سعادت، حليم بابا، غلام صديق، پردل، سليم بابا، ملا عبدالرحمن زميندا وری عبدالسلام کرزی، محمد ايوب، ملا ميران، عبد الله، فيض الله صديق آخوند زاده، ملا خواجه، او ملا محمد شريف جانان» نومو پښتنو شاعرانو شعرونه راغونډ شوي دي.

## «۴۴»

## بهارستان افغاني

ټولوونکی: قاضي ميراحمد شاه رضواني.

د چاپ کال: ۱۸۹۸ ع.

دچاپ ځای : مطبع مفید عام لاهور.

کچه : ۱۳ × ۱۷ سم .

مخونه: ۱۰۴

موضوع : د پښتو د نظم او نثر انتخابات دی چې رضواني پېښوري دلاهور کالج پنجاب یو نېو رسټي د زده کوونکو لپاره کړي دي .

## «۴۵»
## بهار گلشن افغانی

ټولوونکی : معلوم نه دی.

خپروونکی: گهړك سنگهه .

د خپرېدو کال او ځای : ۱۳۵۱ ه ق انار کلی مطبعه، لاهور.

کچه : ½ ۱۶ × ۲۵ سم .

موضوع : د « نعمت الله ، نورو ز ، محمد رفیق ، محمد دین ، توکل عبدالعظیم، ملا احمد جان ، غازالدین ، حمید گل ، سید احمد، شاه افضل اعظم الدین ، شاه پسند، داد محمد ، خیری ، قمرالدین ، محمد اکرم نورالدین ، شاه عالم، سلطان پېښوري ، شهنواز ، مطیع الله، عبدالرحمن خدا بخش ، میرا ، میر فقیر ، داراشاه ، گل احمد ، سید میر زین الدین او سعد الدین » نومو پښتنو شاعرانو شعرونه پکی راغلی دي.



## «۴۶»
## بهار مدینه

تصنیف : الحاج محمد امین.

ناشران : سیا حاجی عبدالخالق او فضل مالك.

د خپرېدو ځای : شاهین برقی پریس، پېښور .

کچه : ½ ۱۵ × ۲۴ سم .

مخونه : ۱۱۲

موضوع : د حاجی محمد امین د نعتیه او دینی شعرونو مجموعه ده ، چې په پای کې یې د دې شاعر د ژوند بشپړ حالات هم راغلي دي.

## «۴۷»
## بهیر

لیکونکي : د پښتونخوا گڼ لیکوال .

خپروونکی: د قبائلو د مستقل ریاست د تبلیغاتو مدیریت .

د خپرېدو کال : ۱۳۳۶ - دولتی مطبعه - لوسړی ځل .

کچه: ۱۵×۲۱سم.

مخونه : ۲۶٦

موضوع : د لرې پښتونخوا د لیکوالو یو لړ سیاسی ، انقلابی، انتباهی او تراژیدی د استانونه پکی را ټول شوی او د پښتو د نوي ادب یوه

ښکلې او ګټوره مجموعه ده .

«۴۸»

## بي بي نوره

مصنف : سيد تکريم الحق کاکاخيل يا روغ ليوني .

چهاپونکی او خورورونکی : رحمن نيوز ايجنسي محل جنگي پېښور.

دخپريدو کال: نه لري ـ پبلك آرټ پريس پېښور .

کچه : ½ ۱۲ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۰۸

موضوع : د پښتو په افسانوی او روماني ادب کې يو نوی خيال او يوه نوې افسانه ده او د بي بي نورې په فرضي نوم يواځې ادبي ليکونکې ر اغونډ شوي او خپاره شوي دي .

«۴۹»

## بيربل نامه

ليکونکی : ولي محمد.

خپرونکی : عوامي کتب خانه.

دخپريدو ځای : منظور عام پريس پېښور.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۲



موضوع : د بيربل په نامه توکې او خندونکې کيسې دي، چې په نظم او نثر ليکلې شوي او د حجرې محفل پرې تودیږي .

«۵۰»

## پاکې بيبياني

مولف: عبدالعزيز مظاهري.

خورونکی: يونيورسټي، بک ايجنسي.

دخپريدو کال او ځای: ۱۹۵۹ ـ پبلک آرټ پريس پښاور.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه: ۱۶۵

موضوع: په دې کتاب کې د اسلامي پاکو او نامتو ميرمنو ژوند پېژندنه او د دوی کارنامې راغلي دي، د اکتاب تاسو د ۵۵ تنو پاکو بيبيانو سره معرفي کوي.

«۵۱»

## پت

ليکونکی: مير مهدي شاه مهدي .

خپرونکی: يونيورسټي بک ايجنسي.

دخپريدو کال او ځای: ۱۹۵۹ ع، رومبی ځل، زرټوکه، پبلک آرټ پريس پېښور .

کچه: ½ ۱۲ × ۱۹ سم.

مخونه: ۱۴۴

موضوع: ملي، اجتماعي، سیاسي او انتقادي په زړه پورې او خوږې افسانې یکې را ټولې شوي، چې د مهدي صاحب د افسانو د ریمه مجموعه او د پښتو د نوي ادب یو ګټور اثر دی.

«۵۲»

## پټه خزانه

لیکونکی: محمد هوتک.

تصحیح، تحشیه او تعلیق: د عبدالحي حبیبي.

خپروونکې: پښتو ټولنه ـ کابل.

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۲۳، عمومي مطبعه.

کچه: ۱۷×۲۴ سم.

د مخونو شمېر: ۲۲۹

موضوع: د پښتنو شاعرانو یوه بې ساری تذکره ده، چې ددې قیمتي خزانې په پیدا کېدو سره د پښتو د تحریري ادب ژوند دوهمې هجري پېړۍ ته ورسېده، او هم دې تذکرې د پښتو زیاته اندازه لرغوني لغات، لرغوني منثور او منظوم کتابونه او د پښتو یو شمېر نوموړي او مقتدر شاعران رامعرفي کړل، دا تذکره محمد هوتک د شاه حسین هوتکي د دربار یوه پیاوړي ادیب په ۱۱۴۱ هق کال کې کښلې، او نوموړی



سلطان زرطلاوي انعام هم ورکړی دی، چې بیا دا ستا د حبیبي په واسطه پیدا او د همده له خوا تحشیه، تعلیق او په دري ترجمه او خپره شوه (دا تذکره دوهم ځل په ۱۳۳۹ کال کې د پوهنې وزارت له خوا په ایران کې هم خپره شوې ده.)

«۵۳»

## پختنه (پښتنه) پیغله

## ګلرو بی بی

مصنف: سید راج جهان هلال.

خوروونکی: رحمان ګل (نیو کاکشال، پېښور).

د چاپ ځای: نیوا یګل ستار، پرنټنګ پریس، پېښور.

کچه: ۱۲× ½ ۱۷ سم.

مخونه: ۱۴۸

موضوع: د یوې پښتنې پیغلې کیسه ده، چې په دوه ایز (مثنوي) ډول یې ویلې، او ځای په ځای یې لوبې او سرې هم د کیسې د خوند لپاره پکې زیاتې کړې دي.

«۵۴»

## پردی غم

مصنف: علي حیدر جوشي.

خپرو ونکی: (عبدالمنان او محمداجمل) اسلامی کتب خانه.

دخپریدو ځای: حمید یه پریس، پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۶۴

موضوع: دجوشی دراز-رازاولسی شعرونواودسندریزادب یوه ښکلی مجموعه ده.

## «۵۵»

## پرواز عقل

تصنیف: دمولوی عبدالله.

خوروونکی: عبدالمنان اومحمد اجمل (اسلامی کتب خانه).

دخپریدو ځای: شاهین برقی پریس.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: دشعرونومجموعه ده، چې راز اصلاحی، انتباهی، تصوفی اونعتی شعرونه پکی راغلی او لنډۍ لنډۍ منظومې کیسې او امثال هم لري.



## «۵۶»

## پښتانه

## (لومړی ټوک)

مهتمم: میا خان....

خپروونکی: (دقبایلو ریاست).

دخپریدو کال اوځای: ۱۳۴۹، دولتی مطبعه.

کچه: ½۱۷ × ½۲۴ سم.

مخونه: ۱۸۶

موضوع: دخپلواکی ترون (*) په ځای په نوې بڼه راوتلی اثر دی، چې د پښتونستان دمشرانو او ځینې سیمو په عکسونو سر بیره د «پښتون»، «چترال» «سوېندو»، «باجوړ»، «دیر، میدان»، «جندول» اونورو سرلیکونولاندې د پښتنواودوی دسیمو په باب مطالب پکې راغلي دي.

## «۵۷»

## پښتانه

## (دوهم ټوک)

مهتمم: میاخان....

---

(*) دخپلواکی ترونونه د دې اثر په دوهم ټوک کې معرفي کیږي.

خپروونکی : دقبایلوریاست.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۵۰ ،دو لتی مطبعه.

کچه : ۱۷ ×۲۴ سم.

مخونه : ۲٦۸

موضوع : په دې توک کې هم دلو سړي توک په تعقیب د «تیراه»دسنځنی پښتونستان (وزیرستان) جغرافیا او ځینی نوروو رو- وړوسرلیکونو لاندې دپښتو نستان دځینو سیمو په باب مصور مطا لب خپاره شوي دي.

«۵۸»

## پښتانه او یو یونټ

ویونکی : باچاخان.

دچاپ ځای : شاهین برقی پریس پېښور.

کچه : ½ ۱۵ × ۲۴سم.

مخونه : ۱٦

موضوع : دپاکستان دیو یو نټ په باب دخدایی خدمتگا ری له نظره دپښتو نستان دمشر با چا خان له خوارښا اچو له شوې او دیویونټ په باب دپښتنو نظریه په صفا صفاتکو کې څرگنده شوې ده.



«۵۹»

## پښتانه

## دتاریخ په رڼاکې

لیکونکی : سیدبهادر شاه ظفر کا کا خیل.

خوروونکی : یونیورسټی بک ایجنسی -پېښور.

دخپرېدو کال : ۱۹٦۵ ع ،زرین آرټ پریس لاهور.

کچه : ۱٦×۲۵ سم.

سخو نه : ۱۴۰۰

موضوع : دپښتنو دوه نیم زره کلن تاریخ پکې لیکل شوی دی، اودپښتنود ژوند په ټولو اړخونو رڼا اچول شوې ده، چه د پښتنو قد نما هینداره یې بللی شو، دا کتاب دپښتنو په تاریخ کې یو مهم اثر دی.

«٦۰»

## پښتانه شعراء

## (لومړی ټوک)

لیکوال : عبدالحی حبیبی.

خپروو نکې : پښتو ټولنه.

دخپریدو کال او ځای : ۱۳۲۰، د کابل عمومی مطبعه.

کچه : ½ ۱۸ × ۲۴ سم.

مخو نه : ۳۹۴

موضوع : د پښتو دسلو تنو پخوانیو شاعرانو پیژندګلوي، د کلام نمونې اود ژوند نورې پیښې پکې راغلې دي، اوهم يې په اوله برخه کې د پښتو دشعر په سبکونو ژوره څیړنه شوې ده .

## «۶۱»

## پښتانه شعراء

### (دوهم ټوک)

لیکونکی : صدیق الله رښتین او د پښتو ټولنې نور غړي .

خپروونکې : پښتو ټولنه.

د خپریدو کال او ځای : ۱۳۲۱، د کابل عمومي مطبعه .

کچه : ۱۸ × ۲۳ سم .

مخونه : له ۳۹۵ تر ۶۸۳ = ۲۸۹

موضوع : په دې ټوک کې ۱۱۰ تنه پخوانی پښتانه شاعران معرفي شوي او په دې وسیله د دې شاعرانو شمیره ۲۱۰ تنو ته رسیدلې ده .

## «۶۲»

## پښتانه شعراء

### (دریم ټوک)

لیکونکې: د پښتو ټولنې دا دبیا توڅا نګه .



خپروونکې : پښتو ټولنه .

د خپریدو کال : ۱۳۴۲، دوهم چاپ ، دولتي مطبعه .

کچه : ۱۷ ×۲۴ سم.

مخونه : له ۶۸۴ تر ۹۰۷ پورې = ۲۲۳

موضوع : په دې ټوک کې ۱۲۹ تنه شاعران معرفي شوي او د کلام نمونې يې پکې راغلې دي، د پښتانه شعراء د شاعرانو د سلسلې شمیر په دې ټوک سره ۳۳۹ تنو ته رسیدلی دی .

(د پښتانه شعراء دریم ټوک په ۱۳۳۷ کال کې هم یو ځل چاپ شوی ؤ، خوله راوتو نه مخکې یې له څو نسخو پر ته نورې ټولې نسخې د مطبعې دسونګ په پیښه کې سوې اوله منځه تللې دي )

## «۶۳»

## پښتانه لیکوال

### ( اول ټوک )

لیکونکی او خپروونکی : همیش خلیل.

د خپریدو کال : ۱۹۵۸ -زرتوکه-اول ځل- پبلک آرټ پریس پېښور.

کچه : ۱۳ ×۱۹ سم .

مخو نه : ۳۳۶

موضوع : دلري پښتونخواد (۱۴۹) تنو معاصرو ليکوالو او اديبانو او شاعرانو بيوگرافي او د کلام نمونې پکې راغلې دي، چې يو په زړه پورې تاريخي اثر دی، او د ادبي تاريخ د راتلو نکو لاروېو د لارې يوه روښانه ډيوه کيدای شي .

## «٦۴»

## پښتنې

ليکونکی : سمندرخان سمندر بدرښو.

خپرونکی : يونيورسټي بک ايجنسی کابلی گيټ، پېښور .

دخپريد ونېټه : ۱۹۵۹ع-۱۳۷۸ هق-ورو مبی وار ، شاهين پريس، پېښور.

کچه : ۱۸ × ½ ۱۳سم .

مخونه : ۲۰۱

موضوع : د پښتنو د مبارزو او غيرتي او حقيقي پښتنې مېرمنو د کړوو وړويو ورښتينې هينداره ده، او د پښتنې حماسي تاريخ يو باب تشکيلوي، په دې کتاب کې هغه ريښتينې کيسې را ټولې شوې، چې د پښتنو ميرمنو په مېړانه او غيرت پورې تړلې دي .



## «٦۵»

## پښتنې ارمان

## لومړی ټوک

ويونکی : د پښتونستان گڼ شاعران.

خپرونکی : دقبايلو ريا ست .

دخپريدو کال او ځای : ۱۳۳۴، عمومی مطبعه.

کچه : ½ ۱٦ × ۲۰ سم .

مخونه : ۱۱۱

موضوع : د پښتونستان د حقي او ملي مطالبې په باب د پښتونستان دملي شاعرانو د خوږوا شعارو گل گېډی ده .

## «٦٦»

## پښتنې ارمان

## دوهم ټوک

ويونکی : د پښتونخوا گڼ شاعران.

خپرونکی : دقبايلو مستقل رياست-د تبليغاتو څانگه.

دخپريدو کال : ۱۳۳۵-، ۳۰۰۰ ټوکه-د کابل دولتی مطبعه.

کچه : ۱٦ × ۲۲سم .

مخونه : ۲٦۲

موضوع : د پښتونستان د شاعرانو د احساساتو، ولولو، قومي افکارو او رزمي اشعارو يوه ښکلې ګلدسته، چې د پښتونستان د موضوع په باب د پښتونستان د محکومو او آزادو سيمو د شاعرانو شاعرانه جذبات او ناوده احساسات پکې را ټول شوي او دا اشعار د دوی له شعري مجموعو او د پښتونستان له اخبارونو څخه راغونډ شوي دي .

## «٦٧»

## پښتني ارمان

### دريم ټوک

ويونکی : د پښتونستان ګڼ شاعران .

خپروونکی : د قبايلو رياست.

دخپريدو کال او ځای : ۱۳۳٦، دولتي مطبعه.

کچه : ۱٦×۲۰ سم .

مخونه : ۲۳٦

موضوع : د پښتونستان د بېلو بېلو سيمو شاعرانو هغه شعرونه پکې راغونډ شوي، چې د پښتونستان د ملي مطالبې په بر خه کې ويل شوي دي .



## «٦٨»

## پښتني افکار

### ( پښتو کيسې )

ټولوونکی : ولي محمد خان سيال کاکړ .

دخپريدو کال : ۱۹٦۹ ع، اسلاميه پريس کوټه.

کچه : ۱۲ ×۱۸ سم .

مخونه : ۸۰

موضوع : په دې رساله کې پښتو کيسې را ټولې شوې او حل شوې دي، د دې رسالې د کيسيو نه مخکې د کيسيو په باب يو په زړه پورې تحقيق او تفصيل راغلی، او بيا ور وسته منثورې او منظومې کيسې د الف بې په ترتيب راوړلی شوی دی، چې د اولسي او فولکلوري ادب له خېړونکو سره زيات مرسته کولای شي .

## «٦٩»

## پښتني جام

اثر د: ولي محمد خان سيال کاکړ.

دخپريدو کال: ۱۹۷۱، ۵۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۹٦

موضوع: د پښتون فولکلوریست او ملي شاعر ښاغلي ولي محمد خان سیال د ملي جذباتو، تودو احساساتو، پښتني خیالاتو او اجتماعي نظریاتو یوه خوږه منظومه مجموعه ده، چې د شعر رنګ یې اولسي او مطالب یې ټول د پښتني چاپیریال پر محور راڅرخي.

## «۷۰»

# پښتني خویونه

ایکوونکی: عبدالله (خدمتګار).

خپروونکی: د نشریاتو اوی مدیریت.

د خپرېدو کال: د ۱۳۳۴ عقرب، د کابل عمومي مطبعه.

۵۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۶×۲۰ سم.

مخونه: ۷۹

موضوع: «پښتو، پښتو ویل، پښتو کول، پښتو نواله، ننګ او غیرت، توره، مېړانه، د قام او ټبر مینه، د مېنې مینه، د مېلمه قدر، رښتیا ویل، په ځان ویسا، ښه ځواني، سر یتوب، دینداري، د آزادۍ مینه، عفت، وفاداري، ایثار، زیارایستل» او نور... داسې عنوانونه چې د پښتنو ژوند انځوروي، لري.



## «۷۱»

# پښتني سندرې

## لومړی ټوک

مهتمم: محمد دین ژواک.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

د چاپ نېټه: د ۱۳۳۴ کال زمری، د کابل عمومي مطبعه.

کچه: ۱۸ × ۲۴ سم.

د مخونو شمېر: ۳۹۸

موضوع: د پښتو د اولسي ادب لنډۍ، بابولالې، د اتڼ نارې، د شینخالو نارې او د کاکړو غاړې پکې راغلې دي چې د لنډیو شمېر یې له اتو زرو څخه اوړي، د اد پښتو د شفاهي ادب یوه لویه چاپي مجموعه ده او د پښتني کلتور د څېړنې په برخه کې زیاته مرسته کوي.

## «۷۲»

# پښتني سندرې

## دوهم ټوک

مهتمم: محمد حسن ضمیر...

خپروونکی: پښتو ټولنه ـ کابل.

د خپرېدو نېټه او ځای: د ۱۳۳۵ کال زمری ـ د دولتي مطبعه،

لوسړی ځل - زرټو که.

کچه : ۱۸ × ۲۶سم .

مخونه : ۳۰۶

موضوع : د پښتو داولسی ادب دسعلوسو سندر و : چا ربیتو ، غزلو مقامونو ، بګتیو، کیسو، داستانونواونیمکیویوه زیاته اندازه نمونی پکی راټولې شوې، اودلوسړی ټوک دبشپړ تابه کړی ده چې د پښتوداولسی ادب په برخه کې یو ښکلی او په زړه پورې اثر دی .

## «۷۳»

## پښتني فو لکلو ر

لیکونکی او خپروونکی : ولی محمد خان سیال کاکړ .

دخپر ېدو کال او ځای : ۱۹۷۱ ع ، اسلا میه پریس کو ټه.

کچه : ۱۲ × ۱۸سم.

مخونه : ۸۸

موضوع : د پښتني فولکلور ځینې نادرې نمونې ، لکه : «د کوشنیا نو (کوچنیانو) سندرې، دلویانو سندرې ، فالونه ، دګوندی سندری ، بی بی دستی فولکلوری دعاوې » او نور پکې خوندی شوي دی او د پښتني فولکلور دڅېړو نکو لپاره یو ښه ا خځ دی .



## «۷۴»

## پښتني ملی اتڼو نه او محلی نڅاو ې

لیکو نکی : غلام محی الدین . . . ملګری

خپروونکې : دفولکلور او ادب ټولنه.

دخپر ېدو کال او ځای : ۱۳۵۲ ، دولتی مطبعه.

کچه : ۱۶ ½ × ۲۲ ½ سم.

مخونه : ۲۸

موضوع : د پښتني اتڼو نو ډو لونه پکې ښودل شوی ، او د پښتنو د هری سیمې داتڼ ډول بیلابیل پکې تشریح شوی دی او ځای په ځای داتڼو نو او نڅاوو عکسونه هم لری .

## «۷۵»

## پښتني نومو نه

لیکوال : سیال کاکړ .

خپروونکی : سلیم بکله پو .

دخپر ېدو کال : ۱۹۷۳ ع .

دخپر ېدو ځای : اسلامیه پر یس کو ټه .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۲

موضوع : په دې اثر کې له یوې‌سر یزې‌نه‌وروسته دپښتونار ینه او ښځینه نومونه د«الف، بې » په‌تر تیب راوړل شوي او د پښتو یوشمېر خواره واره‌نومونه یکې راغونډ اوز یرمه‌شوی‌دی .

## «۷۶»

## پښتو ادب

لیکوونکی : عبدالحلیم اثر .

خپروونکی : ادارۀ اشاعت سرحد .

دخپرېدوکال او ځای : ۱۳۷۰ ه ق ، علمی پر نټنګ پر یس لاهور. او مړی چاپ، ۵۰۰ ټوکه .

کچه : ۱۶ × ۲۴سم .

مخونه : ۳۶۲

موضوع : دپښتودنظم اونثر په باب یوه څېړ نه‌ده په‌او له‌برخه کې دادب په‌تعریف ،ډولو نو اود پښتو دمنثور ادب پرخواؤ بحث شوی او په‌دوهمه برخه کې‌یې په‌شعر اود پښتو دشعر دډولونو په باب خبرې شوې‌دي.



## «۷۷»

## پښتوژبه

## (اول جلد)

پیش لفظ د : میاں‌سیدرسول رسا.

خپرووںکی : پښتوا کیډمی‌،د پیښو ر یونیورسټی .

دخپر یدو کال‌اوځای : ۱۹۷۰ع ، شا هین پر یس‌پیښور .

کچه : ۱۶ ½ × ۲۱ ½ سم.

مخونه : ۴۷۶

موضوع : پښتو په پښتوقاموس‌دی چې په‌دی‌ټوک کې یې‌له (آ) نه تر «ا م » پو ری لغات را غلی دی او دا لو مړنی قاموس دی‌چې‌پښتو په‌پښتو لیکل شوی دی .

## «۷۸»

## پښتو ژبه

## (دویم جلد)

پیش لفظ له :خیال بخاري.

خپرووںکی : پښتو اکېډمی ، پېښور یو نیورسټی .

دخپرېدو کال اوځای : ۱۹۷۰ع ،شاهین پرېس پېښور .

کچه : ۱۶ × ۲۰ سم .

مخونه : ۲۴۳

موضوع : د « د » « ا ن » نه تر « ای » پورې د پښتو قاموس دوهم ټوک دی، چې د پښتو اکېډمۍ د غړو په سرسته تیار شوی دی .

«۷۹»

## پښتو ژبه

## (دریم ټوک)

مؤلفین : پردل خان خټک، مولوی محمد اسحاق .

پیش لفظ : خیال بخاری .

خپرو ونکی : پښتو اکیډمی، پېښور یونیورسټی .

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۷۱ ع، شاهین پریس، پېښور .

مخونه : ۳۹۶

موضوع : په دې ټوک کې د «ب» ټول ویی راغلي دي .

«۸۰»

## پښتو سندرې

لیکونکی : گل پاچا الفت .

خپروونکې : پښتو ټولنه .

دخپریدو نیټه او ځای : ۱۳۲۵ ش - عمومي مطبعه - لویه ځل .

کچه : ۱۸ × ۲۶ سم .



مخونه : ۱۲۸

موضوع : د پښتو د شعر او ادب او د شاعرانو په باب ادبي تبصرې او خوندور بحثونه پکې دي، چې د پښتو یو ښکلی ادبي اثر دی.

«۸۱»

## پښتو قاموس لیکنه

لیکونکی : دکتور عبدالحکیم هلالی .

خپرو نکی : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال : ۱۳۵۴، دولتي مطبعه.

کچه : ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۲۵

موضوع : د پښتو قاموس لیکنی په تاریخچه او تیوري په زړه پورې بحث شوی او د پښتو چاپ شوو قاموسونو ته انتقا دی کتنه شوې ده .

«۸۲»

## پښتو قیصې ( کیسې )

لیکونکي : صدیق الله رښتین، غلام رحمن جرار.

خپروونکي : پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۳۱ ش کال-د کابل عمومي مطبعه.

کچه: ۱۳ × ۱۷ سم.

مخونه: ۱۶۴

موضوع: د پښتو يولړ لنډې فولکلوري کيسې، يکي را غونډې شوي او هم يولړيې له نوروژبو څخه ترجمه شوې دي او هم په های کې کيسې لري' د پښتنې فولکلور دخېړنې په برخه کې مرسته کوي.

## «۸۳»

## پښتو کتابونه

د: راز محمدوېښ تأليف.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال: ۱۳۳۷ ش.

دخپرېدو ځای: دولتي مطبعه.

کچه: ۱/۲ ۱۵ × ۱/۲ ۱۹ سم.

مخونه: ۲۳۶

موضوع: په دې اثر کې د پښتو ۵۰۳ توکه کتابونه، رسالې، په بريټش موزيم کې خطي نسخې، درسي کتابونه، کالنۍ او نور معرفي شوي دي، په سريزه کې د پښتو ټولنې تاريخچه هم لري او په شلګونو برخو کې يې. د پښتو ټولنې خپرونې او کالنۍ، د مطبوعاتو د مرکز خپرونې



د اصلاح دورځپاڼې خپرونې، د انيس دورځپاڼې خپرونې، د کابل راډيو خپرونې، د تاريخ ټولنې خپرونې، د هيواد دورځپاڼې خپرونې، د افکارو د روزنې خپرونې، د پامير د اخبار خپرونې، د قبايلو خپرونې، د طلوع افغان د ورځپاڼې خپرونې، د ننګرهار دورځپاڼې خپرونې، د سيستان د ورځپاڼې خپرونې، د وړانګې د جريدې خپرونې، د بدخشان خپرونې، د پوهنې د وزارت خپرونې، د برتانيې د بريټش موزيم پښتو قلمي کتابونه، د لري پښتونخوا خپرونې، د لاهور په کتابخانه کې پښتو چاپي نسخې، د شوروي روسيې د جمهوريتونو په مرکز (مسکو) کې پښتو چاپ شوي آثار او متفرق چاپ شوي آثار معرفي شوي دي.

## «۸۴»

## پښتو ليکونه

ليکونکی: عبدالمنان درد سند.

خپروونکی: د پښتو د تقويې او انکشاف رياست.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۵۱، دولتي مطبعه.

کچه: ۱۲ × ۱/۲ ۱۶ سم.

مخونه: ۳۳

موضوع: دوه ځنيو چار و په باب پښتو ليکونه دي چې د پښتو

ددفتری کېدلو لپاره به لیکونکی او میرزایان ترې ګټه اخلي.

**«٨٥»**

## پښتو مترادفات

لیکوال: سیال کاکړ.

خپروونکی: سلیم بکه پو.

دخپرېدو کال: اکتوبر ١٩٧۴ ع.

دخپرېدو ځای: اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ١٢×١٨ سم.

مخونه: ۴٦

موضوع: په دې کوچنۍ رساله کې پښتو مترادفات دا لفبی له مخې راغونډ شوي او د پښتو د بېلا بېلو لغتونو پکې راغلي چې د پښتو په بېلو بېلو سیمو کې د یوه شي له پاره ویل کیږي.

**«٨٦»**

## پښتو متلونه

مهتمم: محمد دین ژواك.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال او ځای: ١٣۴۴، دوه زره ټوکه، دوهم چاپ سره



له زیاتوالی، دولتی مطبعه.

کچه: ١۴ × ½ ١٨ سم.

مخونه: ١٧٣

موضوع: د پښتنو لویانو د هغو ښخو وینا ؤ یوه غوره مجموعه ده چې هر پښتون یې د خبرو، لیکلو او بیان په وخت کښې ټینګ استدلال ګڼې، ټینګه عقیده ورته لري او په درنه سترګه ورته ګوري. په دې مجموعه کې د پښتو (٢٧٧٠) متلونه راغلي دي.

**«٨٧»**

## پښتو نثرونه

لیکونکی: د پښتو ګڼ شمیر لیکوالان.

مدون او ټولوونکی: محمد دین ژواك.

خپروونکی: پښتو ټولنه — د کابل مجلې مدیریت.

دخپریدو کال: ١٣٣٥ — ز ر ټوکه — دولتی مطبعه.

کچه: ½١٧ × ٢٥ سم.

مخونه: ١٢٢

موضوع: د ژوند په مختلفو اړخونو کې د پښتو د لویو او قوي لیکوالو غوره او معیاری نثرونه دي چې خوږې کیسې او خواږه مطالب پکې بیان شوي دي.

«۸۸»

## پښتو نستان

ليکونکی: عبدالرؤف بېنوا.

خپروونکی: دمطبوعاتو مستقل رياست، د داخلي نشراتو د عمومي مديريت دوهمه څانګه.

د خپرېدو کال او ځای: د کابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۰ ش.

کچه: $۱۴\frac{۱}{۲} \times ۲۰\frac{۱}{۲}$ سم.

مخونه: ۴۸۰.

موضوع: د پښتونستان په باب هراړخيزه او ترېوه حده بشپړه څېړنه ده چې د تاريخي او نورو اسنادو په رڼا کې شوې وه او ورو سته په برخه کښې يې د پښتونستان علمي، ادبي او ملي مشاهير په لنډه توګه معرفي شوي دي.

«۸۹»

## پښتونستان حق دی

ليکونکی: محمد اکبر پاسير.

دطبع نېټه: نلري، دوه ز رټوکه.

کچه: $۱۴ \times ۱۶\frac{۱}{۲}$ سم.

مخونه: ۷۰.



موضوع: د پښتو نستان دحق په باب يو حقوقي او ملکي بحث دی او د پښتونستان دحقه حق په برخه کې حقوقي دلايل پکې راغونډ شوي دي او د پښتو نستان حق پکې په قوي دلايلو تثبيت شوی دی.

«۹۰»

## پښتو نو لی

ليکونکی: قيام الدين خادم.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال: د ۱۳۳۱ حوت، عمومي مطبعه.

کچه: $\frac{۱}{۲}$ ۱۳×۱۷ سم.

مخونه: ۲۰۴

موضوع: د پښتنو د کړو وړو او عادا تو يوه ښکلې مجموعه او د رښتيني او د حقيقي پښتون يو تصوير دی. د پښتنو د معاشرتا و ژوندانه او ددوی د بنيادي رواجو نو بيان کوي.

«۹۱»

## پښتو نوی مصدر

مؤلف: عبد الرزاق پالوال.

خپروونکی: کابل پوهنتون.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۵۰، د پوهنې مطبعه.

کچه : ۱۷ × ۲۴ سم.

مخونه: ۸۶

موضوع: «ددې لاړې رسالې موضوع زاړه او نوي مصدرونه دي... نوي مصدر په دې معنی نه چې د مخه نه ؤ ، بلکه د پښتو نوي پېژندل شوي مصدر دي.»

«۹۲»

## په افغانستان کې د اسلام خپرېدل

ليکونکی. مير غلام محمد غبار.

پښتو کوونکی. گل پاچا الفت.

خپروونکی: تاريخ ټولنه.

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۳۸ کال ، دولتي مطبعه.

کچه: ۱۸ × ۲۴ سم.

مخونه : ۹۰

موضوع: افغانستان ته د اسلام او عربو د راتگ په هکله مستند او علمي تحقيقات وړاندې کوي ، او په دې وخت کې د افغانستان د اوسېدونکو او خاورې په اوضاع رڼا اچوي.



«۹۳»

## په پټه د پښتو پلټنې

ليکونکی: شارل روبر دوما.

پښتو کوونکی: برهان الدين کشککی.

خپروونکی: د اصلاح ورځپاڼه.

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۱۸ ، د کابل عمومي چاپخانه.

کچه : ۱۶ × ۲۰ سم.

موضوع: د جاسوسۍ يو خوږنا ول دی ، چې د اصلاح په لمن کې له خپرېدو وروسته ، په ځانگړي او کتابي ډول خپور شوی دی.

«۹۴»

## په خارج کې پښتو څېړونکی

ليکونکی: عبدالرحيم رحيم.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

د خپرېدو کال: ۱۳۵۴ (د بايزيد روښان د نړيوال سيمينار په وياړ.)

د خپرېدو ځای: دولتي مطبعه.

کچه : ۱۶×۲۲ سم.

مخونه: ۹۵

موضوع: په دې اثر کې د هغو مستشرقينو لنډه سوانح راغلې چې د پښتو ژبې په باب يې کار کړی او د پښتو ژبې په تاريخ، ادب، گرامر او نورو خواوو يې څېړنې کړې دي، د کتاب ترتيب د مستشرقينو د ژوند د زمانې له مخې شوی دی.

## «۹۵»

## په نولسمه پېړۍ کې افغانستان

ليکوونکی: سيدقاسم رښتيا.

پښتو کوونکی: گڼ شمېر ليکوال ان.

خپروونکې: د افغانستان د تاريخ ټولنه.

کچه: ۲۴×۱۷ سم.

مخونه: ۴۸۲.

موضوع: د افغانستان د نولسمې پېړۍ هغه واقعات، ارد ورونه خانه جنگۍ او د انگريز په مقابل کې د ملي مجاهدانو ټينگې مجاهدې او مبارزې راښيي، چې د نولسمې پېړۍ له اوايلو نه د دې پېړۍ تر پايه پورې په دې خاوره کې پېښې شوې دي.



## «۹۶»

## تاريخ افغانستان

ليکوونکی: منشي احمدجان.

د خپريدو کال او ځای: ۱۹۳۰ع پېښور.

کچه: ۲۵×۱۶ سم.

مخونه: ۴۲۲

موضوع: «د افغان د ځمکې حال، د محمود غزنوي زمانه، د غور ټبر، مغل، همايون او کامران، د مغلو او پښتنو پېښې، د غلزو بادشاهي د درانو بادشاهي، د بارکزو زمانه، په افغانستان باندې د پېرنگيانو رومبنی لام، د ۱۸۴۲ نه تر ۱۸۶۸ع پورې د ايشيا په منځ کې د روسيانو او پرنگيانو حکمت عملي» د کتاب د متن عنوانونه دي، او په پورتنيو موضوعاتو يې خبرې کړې دي، خو بيا هم کتاب دا نگريزانو په فرمايش، لگښت، او ددوی له خوا خپور شوی دی او په استفاده کولو کې يې غور په کار دی.

## «۹۷»

## تاريخ څه ته وايي؟

مؤلف: پروفيسر، ای. اچ. کار.

مترجم : محمدحسن ...

خپروونکی : کابل پوهنتون ،دادبیاتو پوهنځی.

دخپریدوکال اوځای : ۱۳۴۹، دپوهنی مطبعه.

کچه : ۱۷ × ۲۴ سم .

مخونه : ۲۱۳

موضوع : د«مؤرخ او دهغه حقایق، فرداوجامعه، تاریخ سیاست او اخلاق ، په تاریخ کی علت سیند نه، تاریخ دترقی په حیث، پراخیدونکی غاړې او...» ترسرلیکونولاندې دتاریخ د تیوري په باب علمی بحث شوی دی .

## «۹۸»

## تاریخ مرصع

تالیف د : افضل خان ختک.

مقابله ،تصحیح اونوټونه له: دوست محمدخان کامل مومند .

خپروونکی : یونیورستی بک ایجنسی پیښور .

دخپرید وکال : ۱۹۷۴ع.

کچه : ۲۵$\frac{1}{2}$ × ۱۸$\frac{1}{2}$سم .

مخونه : ۱۴۹۴+۷۲ ـ ۱۵۶۶



موضوع : د پښتو یو لرغونی متن دی چې دری لویې برخې لري : د پښتنو په نسب او د پښتنو په تاریخ خبری کوي او د پښتنو ځینی مخور یکی معرفی شوی دي . په دې متن کی په مشهور واخځونو سر بیره له داسی اخځونو څخه هم استفاده شوی چې اوس ورك دی، دتاریخ مرصع لوی اخځ دنعمت الله هروی مخزن افغانی او مهم اخځ یی دخان خوشحال خان ختك بیاض دی، دکتاب ځینې برخی داو سنیو څیړنوله مخی ناسمې او باطلې دي خو ځینی برخی یی بیاد یرې گټورې او په زړه پوری دی چې خپرید نگ او دعلاقمندانو لاسو نو ته رسید نگ یی ضروری ؤ .

## «۹۹»

## تحفة الانصار

تصنیف : مولوی سید شیرباد شاه.

خپرووونکی : کتب خانهٔ رحیمیه ، پیښور .

دخپریدوځای : منظورعام پریس پیښور.

کچه : ۱۲$\frac{1}{2}$ × ۱۷سم .

مخونه : ۸۰

موضوع : ددینی کیسو، نعتونو او منظومو نصیحتونو مجموعه ده ،

چې شعرونه یې متوسط او په ادبي څېړنو کې ښکار یږي .

«۱۰۰»

## تراخه خوازه

لیکونکی : عبدالاکبر اکبر .

خپرونکی : یونیورسټي بک ایجنسی پېښور .

دخپرید وکال : نه لري ـ لوسړي خل . . دتوکه ـ منظور عام پریس، پېښور.

کچه : ۲۰×۱۶ سم .

مخونه : ۲۴۰

موضوع : یولړ انتقادي او اصلاحي نظریات ،اجتماعي خیالات ، ښتني احساسات او دریالیزم دمکتب او هنر دژوند دپاره یوه ښکلی نمونه ده چې دشعر په چوکاټ کښې نغښتل شوي دي .

«۱۰۱»

## ترینو

لیکونکی : سیال کاکړ.

خپرونکی : پښتو ادبي دنیا کوټه .

دخپریدوکال : ۱۹۷۳ع ، اسلامیه پریس کوټه.

کچه : ۱۲×۱۸ سم .



مخونه : ۴۸

موضوع : دپښتو دیوې ځانګړي لهجې څېړنه پکې شوې ده، دالهجه چې ترینو یا و نیڅې بلله کیږی دپښتو یوه داسې لهجه ده چې نور پښتانه نه پری پوهیږی نو ځکه یې ځینې مستشر قین ځانګړی ژبه بولي، ښاغلی مؤلف په دې اثر کې د دې ژبې دنظم او نثر نمونې اود پښو یې (ګرامر) پولونه یې خوندی کړي او ددې ژبې له ویو نکو سره یې مرکې کړې دي .

«۱۰۲»

## تعلیم الدین

لیکونکی : شاه اشرف علی تها نوی .

ژباړونکی : حافظ محمد ادریس دطورو .

ناشر : دپېښور یونیورسټي بک ایجنسی .

کچه : ½ ۱۲ × ۱۸ سم .

دمخونو شمیر : ۳۲۰

موضوع : دیني او تصوفي اثر دی چې د دین ځینې اجتماعي خواوې څېړي او غالباً چې له اردو څخه په ترجمه شوی وي.

«۱۰۳»

## تعلیمي قیصې ( کیسې )

لیکونکی : حافظ محمد ادریس .

خپروونکی : یونیورسټی بک ایجنسی پښاور .

دخپریدو نیټه : نلری .

کچه : ۱۲ × ½ ۱۷ سم .

مخونه: ۱۳۶

موضوع : انتباهی، اخلاقی، اصلاحی ' لنډې لنډې کوچنی کیسې
پکښی راغلی چی ټولی له یوه اولوست سره لری د ماشومانو په سویه
لیکل شوی او له مختلفو آثارونه ژباړل شوی او راټول شوی، شمیر یې
او یا کیسو ته رسیږی او یو ګټور اثر دی .

## «۱۰۴»

## تنکی مینه

و یونکی: مسافر .

خپروونکی: یونیورسټی بک ایجنسی، پیښور .

دخپریدو کال : ۱۹٦۴ - منظور عام پریس پیښور .

کچه : ۱۲ × ½ ۱۷ سم .

مخونه : ۲۰۰

موضوع : دښاغلی مسافر دعشقی شعرونو مجموعه ده چی په دریو :
« خط او خال ، رنګ - رنګ او حال او قال » برخو کی ترتیب شوې
او خواږه شعرونه لري .



## «۱۰۵»

## تواریخ حافظ رحمت خانی

مؤلفهٔ : پیرمعظم شاه .

دیباچه : محمدنواز طائر .

خپروونکی : پښتواکیډمی پیښور یونیورسټی.

دخپریدو کال : ۱۹۷۱ع شاهین پریس زرتوکه.

کچه : ½ ۱۳× ½ ۲۱سم.

مخونه : ۳۵ + ۱۸۸ = ۲۲۳

موضوع : د پښتو یو په زړه پوري او غوره متن دی چی دری نیم سوه
کاله عمر لری او د پیښور اوسوات د ځینی پښتنو قبایلو د وړتګ
واقعات پکی بیان شوی او د شیخ ملی د ملی ویش یادونه پکی شوی
ده په پښتو کی هم د تاریخی پوهنو او هم د پښتو نثر له پلوه په زړه پوری دی.

## «۱۰٦»

## تور بریښن

لیکونکی : عبدالله خدمتګار .

خپروونکې : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال : ۱۳۴۷، دچاپ شمیر زرتوکه، دولتی مطبعه.

کچه : ۱۷×۱۳سم .

مخونه : ۱۴۸

موضوع : دپښتونيو اولسي شاعرانو دحماسي اواستعمار ضد سندرو او اولسي ملي چاربيتو يوه خوږه مجموعه ده چې د تاريخ په اساس راټوله شوې دی .

«۱۰۷»

## تور يالي

مؤلف : الحاج هلالي .

خپرونکی: مکتبهٔ جمهوريت هلالي ، پيښور .

دخپريدو کال او ځای : ۱۹٦۷ ع ، منظور عام پريس پيښور .

کچه : ½ ۱۷ × ۲۴ سم .

مخونه: ۳۷٦

موضوع : له ۱۸۴۹ نه تر ۱۹٦٦ ع پورې د پښتو نثر او تاريخ اوپه دی کی دپښتنو مجاهدې او مبارزی راغلې دی خو ځرنګه چې ليکونکی ئې دپاکستاني ذهنيت خاوند دی نوځکه يې دمطالبو د باوريتوب په باب تأمل او تکني توب په کار دی .

«۱۰۸»

## تېرهېر شاعران

له : عبدالحليم اثر افغاني .



خپرونکی : پښتو اکيډمي د پېښور يونيورسټی .

دخپريدو کال : ۱۹٦۳ پبلک آرټ پريس پېښور ، زرتوکه .

کچه: ½ ۱٦ × ½ ۲۰ سم .

مخونه : ۲۸۴

موضوع : دپښتو د ۲۰ تنو هغو پخوانيو شاعرانو سوانح پکی راغلې ده چې پخوا يا په نورو تذکرو کی نه وو پېژندل شوی او يا يې ډيره مختصره ، لنډه او نيمګړې پېژندګلوی راغلې وه .

«۱۰۹»

## ټپې

ټولوونکی: سيد اکبر صابر .

خپرونکی : رحمان ګل اينډ کمپني ، بک سيلرز .

د خپرېدو ځای : حميديه پريس ، پېښور .

کچه : ½ ۱۲ × ۱۷ سم .

مخونه : ۱٦۰

موضوع : دپټ ، وطن ، جانان ، زلفو ، پېزوان ، پېلتون ، سترګو ، سالو ، ګودر ، اختر ، غم ، غماز ، طبيب ، پسرلی ، ملتان ، چمني خان ، سنګی شونډو او نورو عناوينو لاندې دپښتو دلنډيو (چې دخلکو دسندرو مهمه برخه ده) انتخاب او چاپ دی .

«۱۱۰»

## تہنگ تہکور

تصنیف: عبدالواحد تہکدار.

خپروونکی: حاجی فضل احد اینډ سنز.

دخپرېدو ځای: منظور عام پریس پېښور.

کچه: ۱۲ × ۱۷ سم.

مخونه: ۱۱۲.

موضوع: دپښتونستان دتکره اولسي شاعر د اولسي شعرونو مجموعه ده، چې چاربېتې، لوبې، نیمکۍ، غزل، رباعی او نورپه سلې او زانو برابر شعرونه پکی راغلی دي.

«۱۱۱»

## جنګنامۀ حسنین

## بی بی سکینه

تصنیف: سیدابوعلیشاه.

حسب فرمایش: حاجی فضل احد.

دخپرېدو ځای: منظور عام پریس پشاور.

کچه: ۱۷× پر ۲۵ سم.

مخونه: ۸۸



موضوع: داماماانو دشهوړې او خونړۍ واقعې انځور د پښتو په اوږده مثنوی شوی او دپښتو دمنظومو کیسو په برخه کی استفاده تری کیدای شی.

«۱۱۲»

## جنګنامۀ میرحاتم ومقاتل

ویونکی: ملا نعمت الله.

خپرونکی: حاجی عبدالخالق او فضل مالک تاجران بازارقصه خوانی.

دخپریدو ځای: مقبول عام پریس لاهور.

کچه: ۱۷× پر ۲۵ سم.

مخونه: ۲۰.

موضوع: دیوی فولکلوری کیسی پښتو ترجمه ده چې په اوږده مثنوی شوې ده.

«۱۱۳»

## جواهرالانبیاء

## مشهور به

## قصص الانبیاء

ویونکی: احمد.

خپروونکی : حاجی عبدالخالق ،فضل مالک.

د خپریدوکال :نه لری-شاهین برقی پر یس پیښور .

کچه: ۱۶ × ۲۳ سم.

مخونه : ۳۷۶

موضوع :دپخوانیو پیغمبر انو' انبیا ؤاوصالحانو کیسی دپخوا نیو روایاتو په اساس پکی نظم شوی او لیکلی شوې دی.

## «۱۱۴»

## چار گل

لیکونکی: همیش خلیل .

خپرو ونکی : دارالتصنیف ، پیښو ر.

د خپر یدو کال اوځای: ۱۹۷۳ منظورعام پر یس پیښور.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۱۶

موضوع : دپښتو دلوی محقق ښاغلی همیش خلیل دسیاسی افسانو لومړی مجموعه ده او (۹) بیلی بیلی افسانی پکې را غلی دي . چې د پښتو نستان دملی مبا رز ینو اوله دوی سره یی دد ښمنا نورویی پکې بیان کړې دي .



## «۱۱۵»

## چغیان

## «انگی»

ټولوونکی : والی محمدخان سیال کاکړ .

دخپر یدو کال : ۱۹۷۰ع' اسلامیه پر یس کوټه،زر ټوکه.

کچه :۱۲×۱۸ سم.

مخونه : ۴۸

موضوع :په دې رساله کې د پښتو داولسی ادب یوناد رټول سندرې را غلی دی چې دمؤ لف دوینا له مخی داسند ری په کا کړو کی دود یدو په وخت دناوی له خوادژ ړ اپه ملتیا و یلی کیږی، داولسی ادب خیړونکو ته ددی اثردرلودل په ز ړه پوری اوضروري دي .

## «۱۱۶»

## چمنی خا ن

مصنف: عبدالوهاب دستی.

خپروونکی: رحمان گل اینډ کمپنی باټ سیلرز .

دخپر یدو کال: نه لری – سرحد الیکټر ک پر یس پشاور.

کچه:۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۴۸

موضوع :دانګر یزانو او نورو سره دناستوملی سجا هد چمنی خان دسبارزو داستان دی چې داولسی اشعار و په طرز په لنډه یو ځلو بو ، غزلو اونوروکی په خواږه ډول لیکل شوی دی .

## «۱۱۷»
## چونغر

لیکونکی: سلیمان لایق.

خپروونکی : دمطبوعاتومستقل ریاست ، دکو رنیو خپرو نو اوی مدیریت دجوایز واوکتاب چاپولو څانګه .

د خپر یدو کال: ۱۳۴۱ لیندی- لو مړی ځل ، دولتی مطبعه.

کچه : ۱٦ × ۲۲ سم .

مخونه : ۱٦٦

موضوع : د پښتو داجتماعی او هغو نو یو اشعار ومجموعه ده چې هم دبنې له خوانوی دی او هم دمحتوی .

## «۱۱۸»
## ځلمو ! (زلمو)
### مست شی ء!

لیکونکی: خان عبدالولي خان.

خپروونکی: قریش ګل .

د خپر یدو ځای : شاهین برقی پر یس پېښور .



کچه : ۱۴ × ½ ۲۱ سم .

مخونه : ۱۰

موضوع : دهغې و ینامتن دی ، چې دنېشنل عوامي پارټۍ مشر خان عبدالولی خان د پښتون زلمي ځوانانو ته په یوه غونډه کې کړ یده.

## «۱۱۹»
## ځولۍ ګلونه

لیکونکی : ماسترعبدالکریم .

دخپر یدو کال : ۱۹۵۷ ع شاهین برقی پر یس پېښور .

خوروونکی : درهبر اداره، پېښور .

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۸۴

موضوع : څوتراژیدی او انتباهی کیسی په ډیره خوږه ژبه او عالی تخیل انځور شوې اولیکل شوی چې د پښتو دنوی ادب یو خوږ ډول اونمونې دي.

## «۱۲۰»
## څرخ

لیکونکی : عائشه ملك ( په انګریزي ) .

پښتوکوونکی: فضل حق شیدا .

خپروونکی : یونیورسټی بك ایجنسی - پېښو ر .

دخپر یدو ځای : منظور عام پر یس .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۷۲

موضوع : دپښتنود کړو وړو،ساده ژوند، عاد اتو ، ننګ ، نا مو س مروت او غیرت عکاسی یی دلنډو مضمو نونو او لنډ و ا فسا نو په شکل کی کړی اودپښتنو په با ب د یوی غیری پښتنی میر منی دوستانه نظر یات او احساسات دی .

«۱۲۱»

## حب الوطن

مصنف :محمد رحیم .

ناشران : میاں حاجی محمد عبدالخالق،فضل مالك تاجران کتب خانه رحما نیه .

دخپرید وځای :منظور عام پریس پېښو ر .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۶۴

موضوع : د اولسی شعر په چو کا ټ کې ځینې کیسی، نصیحتو نه



اواجتماعي افکار خوندي‌شوي دي، چې‌داولسي ادب په خیر نه کی په کار یږي .

«۱۲۲»

## حد یقۀ خټک

## (د یوان عبدالقادرخان خټک)

ویونکی : عبدالقادرخټک.

مدون اومرتب : سیدانوارالحق .

خپروونکی : یونیورسټی بک ایجنسی.

دخپریدوکال : ۱۹۶۹، منظور عام پریس پېښور.

کچه : ۱۷ × ۲۱ سم .

مخونه : ۳۰۳

موضوع : دعبدالقادر خان خټک چې د پښتو بېدل گڼل کېږي، د اشعارومجموعه ده، چې د قلمي اوچاپي نسخوله مخې په دقت سره خپره شوې ده .

«۱۲۳»

## حرص

له قلمه : د هلال احمد هلال.

خپروونکی: یونیورستی بک ایجنسی .

دخپریدو ځای او کال : منظور عام پریس پشاور ، زر ټو که.

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخو نه: ٥٦

موضوع : دښاغلی هلال د اولسی شعرو نو لکه غزلو، مقامو نو، چاربیتواولوبو مجموعه ده .

«۱۲۴»

## حکایت العبرت

## (دزړه ټکور)

مصنف : میرغلام صادق دنوښار .

ناشر : حاجی فضل احمد.

کچه : ۱۲× ۱۷ ½ سم .

مخو نه : ۹٦

موضوع : په خپله مؤلف لیکي : « په دی کتاب کي دیو ي عبرتنا کی خوندوري او حقیقی قصي نه علاوه خوا ږه خوا ږه نعتو نه ، زړه را ښکونکي ادبی او عوامي غزلي ، نوی ډول جوړي شوي چا ر بیتي ، زړه ته سرور وربښونکی لوبی ، نصیحت آموز او دمعاشري خرابی په گوته کوونکی



رباعیات او په زخمی زړونو سر هم لگوونکی د زړه د تله راوتي مصرعې په پښتو مینو ورونوته پیش کړی شوي دي ».

«۱۲۵»

## حکایت لا جواب

تصنیف : علی حیدر جوشی .

ناشران : حاجی عبدالمنان او محمداجمل (اسلامی کتبخانه).

دخپریدو ځای : حمیدیه پریس پېښو ر.

کچه : ۱۲× ۱۷ ½ سم .

مخونه : ۳۸

موضوع : دحضرت یوسف دسورة منظومه ترجمه ده، او ځای په ځای یي لوبي ، لنډ ی او غزلی هم پکی راوړی دي .

«۱۲٦»

## حیدر

لیکوونکی : اشرف مفتون .

خپروونکی : یونیورستی بک ایجنسی کابلي گیټ پېښو ر.

دخپریدو کال : ۱۹۵۸، منظور عام پریس پېښور.

کچه : ۱۳×۱۹ سم.

مخونه : ۱۳۲

موضوع : يولړ اصلاحي اوانتباهي راډيويي ړ را مې دي، چې داشرف مفتون له خوا د پېښور راډيو ته ليکل شوې او په راډيو کې له خپريدونه وروسته په کتابي بڼه هم خپرې شوې دي .

«۱۲۷»

## خدايي خدمتگار

ليکونکی : خان عبدالغفار خان .

خپرونکی : دقبايلو مستقل رياست .

دخپريدو کال : ۱۳۴۴ – لومړی ځل – دپوهنې مطبعه، دوهم ځل دولتي مطبعه.

کچه : ۱۱×۱۶سم.

مخونه : ۲۵

موضوع : دلرې پښتونخوا دخدايي خدمتگاردفد اکارانو د حزب داساسنامې او کړنلارې مهم ټکي .

«۱۲۸»

## خلاصة المريدين

مؤلف : شمس الدين .

مقدمه : دميرحسين شاه .

مقابله، تصحيح او اهتمام : دبسم الله خيرسن .



خپرونکی: کابل پوهنتون ، دادبياتو پوهنځی .

دخپريدو کال اوځای : ۱۳۴۴ ، دپوهنې مطبعه .

کچه : ۱۴ × ۲۲سم .

مخونه : ۱۰۸+ ۳+ ۱۲ = ۱۲۳

موضوع : په بيلوبيلو بابونو کې يو تصوفي منثور متن دی، چې خوسوه کاله پخوا ليکل شوی او دمقدمې ليکوال يې دشمس الدين کاکړ گڼی، خوفکر کيږي، چې داد کوم بل شمس الدين اثردی، او په دې باب ژوره څيړنه پکار ده. په هرحال د پښتو په ستونو کې يې د يوه په زړه پورې متن اضافه بللای شو .

«۱۲۹»

## خوابنامه وفالنامه

ليکونکی : احمد .

خپرونکی : گهړک سنگها ولعل سنگه .

دخپريدو ځای : تعليمی پرنټنگ پريس لاهور .

کچه : ۱۶ × ۲۴سم .

مخونه : ۱۶

موضوع : دخلکوله عقيدې سره سم دخوبونو تعبيرونه اوفالونه

دي ، چه په لنډه ښتوي په ۱۲۹۳ هق کال ليکل شوی او شعر يې ښه او روان دی.

## «۱۳۰»

## خوازه یادونه

ويونکی : سيا امان الملک نور .

خپروونکی : دارالادب لياقت ستريټ پېښور.

دخپرېدو کال: ۱۹۷۲ ع.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۲۰

موضوع : دښاغلی امان الملک دشعرو نو مجموعه ده، چې شعر يې متوسط او فکريې پاکستانی دی، بيا يې هم زيات شعرو نه عشقی او ادبی ارزښت لري .

## «۱۳۱»

## خود کشی

ليکونکی : سيال سيد رسول رسا .

خپروونکی : يونيورسټي بک ايجنسی پېښو ر .

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹۶۳ ، منظور عام پريس پېښور- زرتنو که.



کچه ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۵۸

موضوع : يوپه زړه پورې اجتماعي ، اصلاحي او انتقادي ناول دی چې د پښتني معاشرې عکاسی په ښه توګه پکې شوې ده ؛ او په دې برخه کې يوه په زړه پورې اضافه ده .

## «۱۳۲»

## خوږ ژوندون

ليکونکی : عبد الخالق خليق .

خپروونکی : اداره ٔ اشاعت سرحد .

دخپرېدو کال : ۱۹۶۴ ع.

کچه : ۱۲ × ۱/۲ ۱۷ سم .

مخونه : ۵۶

موضوع : د پښتو يو اصلاحي ډرامه ده چې دخواږه ژوند ، دورورۍ د ژو ند او د برابرۍ دژوند هيله پکې ښکاره شوې او سلې دردو نه پکې انځور شوی دی .

## «۱۳۳»

## خوږه شپېلۍ

ليکونکی: سمندرد بدرښو .

خپروونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور .

دخپرېدو کال : ۱۹۵۳ ع .

کچه : ۱۴ × ½ ۱۸ سم .

مخونه : ۲۸۰

موضوع : دسمند رصاحب هغه شعرونه دي ،چې دعربي عروض په چوکاټ کې يې ويلي ،اودفاعلاتن، فاعلاتن په تنګه جامه کې يې د پښتو دشعر له لاس او پښو لنډۍ ولونه وروسته ځای کړي دي، خود ادبی تاريخ په څېړنه کې کارترې اخيستل کېږي .

«۱۳۴»

## خوږې لطيفې

ليکونکی: حافظ محمدادريس .

خپروونکی: يونيورسټي بک ايجنسی .

دخپرېدو کال: نه لري، منظور عام پريس پېښور .

کچه : ۱۰×۱۶ سم.

مخونه: ۴۸

موضوع :دماشومانو لپاره يولړ داسې خندوونکې او انتباهي کيسې دي، چې دزده کړې، ښوونځی او تعليمي لوازمو سره اړه لري او يوښکلی اثر دی .



«۱۳۵»

## خوږې نغمې

ويونکی: ملنګ جان.

ټولوونکی: عبدالله (خدمتګار) .

خپروونکې: پښتوټولنه.

دخپرېدو کال او ځای: د کابل عمومی مطبعه، ۱۳۳۵، ۲۵۰۰ ټوکه.

مخونه: ۱۸۶

موضوع: د پښتو دملی شاعر ملنګ جان د هغو ملی سندرو مجموعه ده چې دلوسړی ځل لپاره راټولې شوې دي .

«۱۳۶»

## خوږې نغمې
## دملنګ جان

ټولو نکی: عبدالله (خدمتګار).

خپروونکې: پښتوټولنه.

د خپرېدو کال : ۱۳۴۸، دولتی مطبعه، ۱۵۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۶ × ۲۴ سم.

مخونه: ۳۲۴

موضوع : د پښتو د اولسي عوامي او ملي شاعر مرحوم ملنګ جان
دخوږو ترانو، شعرونو او سندرو په زړه پورې مجموعه ده، دا کتاب
ترلوړې چاپ زيات شعرونه او ښه صحافت لري.

«۱۳۷»

## خوشال خټک څه وايي ؟

ليکونکی: عبدالرؤف بېنوا.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

د خپريدو کال او ځای: ۱۳۲۹، عمومي مطبعه.

کچه: ۱۸×۲۷ سم .

مخونه: ۱۵۸

موضوع : د خوشحال خان خټک د ملي، رزمي او پښتني اشعارو او افکارو
څېړنه او دده د دښمن ضد ملي مبارزو څېړه پکې را برسيره شوې ده، د مولف
دوينا له مخې دا کتاب يوځل په هندوستان کې هم دوه نيم زره ټوکه چاپ
شوی وُ، خو دا چاپ افغانستان ته د راتګ په لاره کې د پاکستانيانو له
خوا مصادره شوی او ضبط شوی دی .



«۱۳۸»

## خوشحال او پسرلی

خوښوونکی: عبدالرؤف بېنوا.

خپروونکی: راډيو افغانستان. د پښتو برخ مديريت.

د خپريدو کال : د حمل اول ۱۳۳۷ ـ دولتي مطبعه.

کچه: ۱۴×۱۸ ½ سم.

مخونه : ۲۶

موضوع : د خوشال خټک له کلياتو څخه دده پسرلني اشعار
او څلور يزې انتخاب شوې او راغونډې شوې دي .

«۱۳۹»

## خيالونه

ويونکی : هلال احمد، هلال د طورو.

د خپريدو کال : ۱۹۶۷، ۲۵۰۰ ټوکه ـ روښي خل ـ منظور عام
پرېس، پېښور .

کچه: ۱۷×۲۰ سم.

مخونه : ۱۳۶

موضوع : اجتماعی او عشقی شعرونه ،چې زیاته برخه یې په‌سندریز او اولسی طرز ویل شوي دي.

«۱۴۰»

## خیالی د نیا

د: قیام الدین خادم.

خپروونکی : پښتوټولنه .

دخپرېدو کال : ۱۳۳۹ــ دولتی مطبعه، زرټوکه .

کچه : $\frac{1}{2}$ ۱۴ × ۲۱ سم .

موضوع : دښاغلی خادم داجتماعی، انتقادی اوژورفکر په‌اساس منځ ته راغلو خوږ وخوږو ټوټو مجموعه ده ،چې په‌موضوع سربېره په ښه ادبی قدر تلیکلی شوي دي.

«۱۴۱»

## خیالی لاله

لیکونکی: احمدعلیخان خیالی.

خپروونکی: دپېښورادبی ټولی.

دخپرېدوکال اوځای: ۱۹۵۶، شاهین برقی پرېس پېښور .

کچه : ۱۲ × $\frac{1}{2}$ ۱۸ سم.

مخونه : ۹۶



موضوع: په دې اثرکې د ښاغلی خیالی بیلا بیل شعرونه ، چې دبیلا بیلو موضوعاتو په باب دي ، راغلي او د پښتو ادبی تاریخ په څېړنه کې پکار ېد لای‌شی .

«۱۴۲»

## خیبر

ویونکی : ګڼ شاعران.

ټولوونکی : سیلاب . . .

خپرووکی : دقبایلو مستقل ریاست.

دخپرېدو کال : ۱۳۴۰

کچه : $\frac{1}{2}$ ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۸۸

موضوع : دخیبردتاریخی درې په‌باب د ویل‌شووهغوشعرونو مجموعه ده ، چې د لرې او برې پښتونخوا شاعرانو وخت په وخت ویلی دی ،او په پښتې یې دابیت لیکل شوی دی :

دخیبر دره خولا رد تلو راتلو ده
په کابل او پېښور کې افغان یودی

«۱۴۳»

## خیر البیان

تصنیف: بایزید انصاري .

ترتیب ،تدوین او حواشي . حافظ عبد القدس قاسمي.

خپروونکې: پښتوا کېډ یمي ،د پېښوریو نپور ستي.

دخپرېد و کال: ۱۹۶۷، خیبر سیل پر پس ' پېښو ر، زر تو که.

کچه : ½ ×۱۷ ½ ۲۱سم.

مخونه: ۱۶+۹۲+۲۰۶=۳۱۴

موضوع : د پیر روښان دمشهور کتاب بشپړ متن دی، چې یوازینی قلمي نسخه یې د المان په یوه کتا بخانه کې خو ندي د ه او متن یې په څلورو ژبو . پښتو، عربي ،دري ،او هندي دی ، دا کتا ب د پښتو یو لر غو نی متن د ی ، ا و یو ډ یر قیمتي او با ا ر ز ښته ا ثر دی .

«۱۴۴»

## خیر البیان

د: بایزر و ښان.

سریزه : پو هاند عبدالحی حبیبی .



دبایزید روښان یادونه . عبد الرؤف بینوا.

دخیر البیان لیکدود او لغتنا مه . پو ها ند عبدالشکور رشاد .

خپروونکی : دادبیاتو او بشري علومو پو هنځی .

د خپر یدو کال: ۱۳۵۳،(دبایزید رو ښان دبین المللی سیمنا ر په ویاړ )

کچه : ½ ۱۵× ۲۲ سم.

مخونه: ۹۸+۶+۳۳۴+۱۲۲ـ۵۶۰

موضوع :دبایزید روښان دنامتو کتاب(وگورئ تیره نو مره)عکسی چا پ دی چې دهغې یو ازینې نسخې دعکس له مخې شو ی چې د جر منی د تیوبنگن په کتابتو ن کې ساتله کیږي.

«۱۴۵»

## دآزادی تلاش

لیکو نکی : اکبر شاه .

کچه: ۱۴×۲۲ سم.

مخونه: ۵۹۰

موضوع :دمصنف دهغه سفر یادښتونه دي، چې د ۱۹۲۰ کال یعنی

دافغانستان داستقلال گټلونه وروسته یې له محکوم پښتونستان پېښورنه کابل، له کابل نه مزار شریف، بیا بخارا اوشوروی، وروسته ایران او په پای کې هندوستان ته کړی دی، دا سفر نامه سربیره پردی چې د یوه سفریا داشتونه دی، لکه دنامه نه یې چې ښکاري، دآزادۍ په تلاش وتلی ؤ، او دخلکو دآزادۍ ولولې او احساسات یې په خپله سفرنامه کې لیکلي دي او هم دافغانستان په باب په زړه پورې معلومات لري.

## «۱۴۶»

## دآزادۍ جنګ

لیکونکی : عبد الخالق خلیق.

خپرونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد پښاور.

دخپریدو کال : ۱۹۶۱ ع – روښې ځل، حمید یه پریس پېښاور.

کچه : ۱۹×۱۳ سم.

مخونه : ۳۹۶

موضوع : په دی کتاب کې دافغانستان او پښتونستان د خلکو دغوښتنو، جنګونو، اصلاحی حرکاتو، سیاسی شعور او نورو کیسې خوندي دی، چې څه یې مولف لیدلی اوڅه اوریدلی او په شلمه پېړۍ پورې مربوطې دي.



## «۱۴۷»

## دا باسین چپې

لیکونکې : ګڼ لیکوالان.

خپرونکی : داباسین دمجلې اداره.

دخپریدو کال او ځای : ۱۹۶۳، انټرنېشنل پریس.

کچه : ½ ۱۶×۲۴ سم.

مخونه : ۲۰۰

موضوع : په نظم اونثر کې بېل–بېل تاریخي اواجتماعی معلومات دي چې د کراچی داباسین دمجلې دادارې له خوا راغونډ شوي دي.

## «۱۴۸»

## دا باسین چپې

مرتبه اوخپرونکی : همېش خلیل.

دخپریدو کال او ځای : ۱۹۵۷، شاهین برقی پریس پېښور.

کچه : ۱۸×۱۲ سم.

مخونه : ۲۵۶

موضوع : داباسین په باب د پښتنو شاعرانو دویلو شو و شعرو نو مجموعه ده اوپه زیاتو شعرونو کې د اباسین سره تړلی د پښتنو تاریخی واقعات په ډیر ښکلی شاعرانه انداز کې را نغښتل شوي او

ډېرې نمونې يې زموږ دحماسي ادب په زړه پورې بيلګې دي .

## «۱۴۹»
## د اجمل په يادمشاعره

ټولوونکی : سيلاب ...

ويونکی : دافغانستان يوه ډله شاعران .

خپرو نکی : دراډيوافغانستان دپښتون ږغ څانګه.

دخپريدو کال : ۱۳۴۲ ـ دولتي مطبعه .

کچه : ۱۸ ½ × ۱۳ ½ سم.

مخونه : ۳۰

موضوع : داهغه مشاعره ده ،چې داجمل خټک ديوه شعرپه اقتفا جوړه شوې ده او په هغه وخت کې چې د پښتونستان دا ننګيالی ، انقلابي شاعر د پاکستان دجيل په تـورو تيارو کـې پروت ؤ ، له راډيوافغانستان څخه بروډکاست شوې،نوځکه د مشا عرې له ګډ ون کوونکو څخه يوشاعر داسې ورته وايی :

«اجمل ته دروازه د بند کړه بېرته بند يوانه
ته هم دچا په مينه زړه کباب لرې که نه»



## «۱۵۰»
## داخلاقو رڼا

مؤلف : قاضي اورادالدين .

خپروونکی: دانيس اداره.

دخپريدوځای او شمېر : عمومي مطبعه ، ۵۰۰۰ ټوکه.

کچه : ۱۷ × ۲۳ سم.

مخونه : ۱۳۵

موضوع : يوشمېر اخلاقي او اجتماعي لارښوونې دي ،چې تر بيلو-بيلو عناوينو لاندې د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې ليکل شوې دي .

## «۱۵۱»
## دادب مناره
## يعنی تشبيه استعاره

ليکونکی: سمندر دبدر ښو .

خو رو ونکی : يونيورسټي بک ايجنسي - پېښور .

دخپريدو کال : ۱۹۵۸ ـ شاهين برقي پريس لو مړی ځل - زرټوکه.

کچه : ۱۸×۱۳ سم .

مخونه : ۱۳۴

موضوع : دتشبیه اواستعارې په باب یوعلمي بحث دی، دتشبیه او استعارې ټول اړخونه په عالمانه توگه پکښې څېړل شوي ،او د پښتو ادب دتشبیه او استعارې نمونې وړاندې کوي .

## «۱۵۲»
## دازه یا گل وم؟

لیکونکی : اجمل خټک .

خپروونکی : یونیورسټی بک ایجنسي پېښور .

دخپریدو کال : ۱۹۵۸ع، منظورعام پریس ، پېښو ر .

کچه : ½ ۱۲ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۶۰

موضوع : داجمل خټک دزندان زړه غوځوونکی او ټکان ورکوونکی یادښتونه دي چې دپاکستان داسلامي (؟) اوجمهوري (؟) حکومت حقیقي څېره پکښې ښکاره شوې ده .

## «۱۵۳»
## داسلامي فکرمأخذ

مؤلف : سیدمظفرالدین ندوی.

ترجمه د : قاضي هدایت الله .

خپروونکي : پښتو اکیډیمي ، پېښور یونیورسټي .



دخپریدو کال : ۱۹۶۳ ، پبلك آرټ پریس، پېښور-زرټوکه.

کچه : ½ ۱۶ × ½ ۲۰سم.

مخونه : ۹۶

موضوع : داسلامي تصوف په اشاعره ؤ ، معتزله ؤ اوځنې نورو دیني مکتبونو تحقیقي لیکنه شوې او په روانه پښتو ژباړل شوې دی .

## «۱۵۴»
## داغونه

لیکونکی : سیدراحت الله راحت زاخېلی.

ترتیب او انتخاب د : رضا همداني.

ناشر : سیدراحت سرکی گیټ پېښو ر .

دنشر کال : ۱۹۶۱ع-منظورعام پریس پېښور- ۵۰۰ ټوکه .

کچه : ½ ۱۲×۱۹سم.

مخونه : ۲۵۶

موضوع : دپښتو دلوی صحافي شاعر اولیکوال سیدراحت زاخیلی د ښکلو اوزړه وړونکو اشعارومجموعه .

## «۱۵۵»
## دافغانستان پخوانی تاریخ
## (لومړی ټوك)

لیکوونکی : احمدعلی کهزاد اومحمد عثمان صدقی .

ژباړونکی : محمدیونس سراد ، عتیق‌الله معروف(اوس پژواك) غلام جیلانی جلالی او قیام‌الدین خادم .

خپرونکی : تاریخ ټولنه .

دچاپ نیټه : د۱۳۳۴ کال کب .

کچه : ۱۸×۲۶سم .

مخونه : ۳۵ د

موضوع : دافغانستان پخوانی آریایي تاریخ، د موریانوتر سقوط پورې، په دې کتاب کې د افغانستان په باب یوه‌سلسله مستند او په زړه‌معلومات راټول شوي،چې دآریایانو دژوند په چارو دودونو ، دستورونو ،معاشرت ادبیاتو اودژوند په‌نورو اړخونو ښه رڼااچوی .

## «۱۵۶»
## دافغانستان پخوانی تاریخ
## (دوهم ټوك)

مؤلف : احمدعلی کهزاد .



پښتوکوونکی : ګڼ پښتانه لیکوال .

خپرونکی : دتاریخ او ادب ټولنه .

کچه : ۱/۲ ۱۷× ۱/۲ ۲۵سم .

مخونه : ۶۱۱

موضوع : دیونانوبا ختری خپلواك سلطنت‌دشروع کید و څخه داسلام تر ظهوره پورې په څورلس فصلونو کې دهیو اددتاریخ بیلې بیلې دورې څیړل شوې‌دي .

## «۱۵۷»
## داکتشافاتو لنډ تاریخ

لیکونکی : از ابل بارکلی .

ژباړونکی : حبیب الله تږی.

خپرونکې : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال: ۱۳۴۱،لومړی‌چاپ - زرټوکه .

کچه: ۱۵×۲۰ سم .

مخونه: ۱۴۵

موضوع : له ۳۰۰۰ ق ، م څخه داکتشافاتو ترستر عصره پورې معلومات وړاندې شوي او په داستانی سبك پکې‌د اکتشافاتو او

«۱»

# آدم خانی اودرخانی

لیکو نکی : سید ابو علیشاه .

خپرووںکی : فضل احمد اوحاجی عبدالرحیم (قدیمی کتبخانه).

دچاپ ځای : منظور عام پریس، پیښور .

کچه: ۱۲ × $\frac{1}{2}$ ۱۷ سانتی متره .

مخونه : ۹٦

موضوع : د پښتوملی کیسو ددو ونامتو قهرمانانو آدم خان او درخانی دلیونی مینې کیسه ده، چی په‌دوه ایز (مثنوی ) روان‌شعر لیکله شوې او په خلکو کې خوره‌او منلې ده .

اختراعاتو بیان‌شوی دی ، دا اثر دلرغونو مصر یانو له شهکا رو نو څخه راشرو کیږي .

«۱۵۸»

## دالبیرونی کتاب ښود

مؤلف : احمد سعید خان دعلی ګړ داسلامی څیړنو کتاب ساتونکی.

ژباړونکی : پوهاند عبدالحی حبیبی .

خپروونکی : دبیهقی کتاب خپرولو مؤسسه .

دخپریدو کال اوځای : ۱۳۵۲ ، دولتی مطبعه .

کچه : ۱۴×۲۱ سم .

مخونه : ۱۳۹

موضوع : د البیرونی د ۱۷۳ هغو تألیفا توفهرست اومعرفی ده،چې ترا وسه دبیلو ـ بیلو اخځونو له لاری پیژند ل شوی دی ، د کتا ب ژباړونکی ځای په ځای منا سبی زیا تو نی پکې کړ ې او خپل معلومات یې پکې ورزیات کړي‌دي .

«۱۵۹»

## د الم‌سو که (څوکه)

ویونکی : سمندر دبدرشو .

خپروونکی : یو نیورستی بکک ایجنسی‌پیښور .



دخپریدو کال : ۱۹۶۶ ، زرتوکه، منظور عام پریس ، پیښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۰۴

موضوع : ددې فرد ترعنوان لاندې :

دالم په څوکه نا ست یم

زه له ټول جهانه پور ته

یواوږد ترجیع بند دی، چې د پښتنی سیمې د یوه ګوټ‌سمو رې پکې په رنګینو، خوږو اوشاعرانه الفاظو اواندازکې شوې ده، د رسالې دنیمی‌نه زیاته برخه دښاغلی رسا سقدمې نیولې ده ، اوپه پای کې دسمندر صا حب څونورې‌توتې اور باعی‌ګانې هم‌را غلې دي .

«۱۶۰»

## داودل سمدخان اڅکزي بیان

ویاند : خان عبدالصمدخان اڅکزی.

دخپریدو ځا ی : اشرف پریس لا هو ر .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۶۷

موضوع : دلا هور په‌محکمه کې د نوموړي ښاغلی هغه‌بیان‌دی

چې د خپلې مبارزې په باب يې ورکړی، د خپلې مبارزې له نه تار يخچه يې پکې راوړې، او له ځانه يې دفاع پکې کړې ده.

«۱۶۱»

## داور لمبې

## دردونه

تصنيف : فدا مطهر .

ناشران : حاجي عبدالمنان او محمد اجمل (اسلامي کتبخانه).

دخپرېدو ځای : حميد يه پريس پېښور .

کچه ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونو : ۹۶

موضوع : داولسي شاعر په تپو، غزلو، رباعياتو، چاربيتو، لوبو نيمکيو کې : کيسې، نعتونه، وصيتونه، دعاوې او نور راغلي دي .

«۱۲۶»

## د بنګ مسافري

ليکونکی : نور محمد . . .

خپرونکی : پښتو ټولنه .

دخپرېدو ځای : دولتي مطبعه .



کچه : ½ ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۹۸

موضوع : د رياليستيک ادب د مکتب په پيروي د پښتو ښکلې ناول دی، چې د پښتني ژوند او محرومیتونو تصوير را کاږي .

«۱۶۳»

## د بوډۍ تال

ليکونکی : سير مهدي شاه مهدي .

خپرونکی : د رهبر د مجلې اداره .

دخپرېدو نېټه : ۱۹۵۸ ع - لوهړی ځل، منظور عام پريس پېښور.

کچه : ½ ۱۲ × ½ ۱۸ سم .

مخونه : ۲۵۶

موضوع : د پښتو نستان د ملي ليکوال يو لړ داستانونه چې تراژيدي زړه غوځو ونکې صحنې لري او د پښتنو د زړه دردو ونکي ژوند يوه هينداره يې ګڼلای شو، سياسي، اصلاحي او انتباهي په زړه پورې داستانونه پکې راغونډ شوي او شمير يې ۱۹ ته رسيږي .

«۱۶۴»

## د بهاي جان کليات

ويونکی : بها يي جان .

خپروونکی : ملک سراج الدین اینډ سنز .

دخپرویدو کال : نه لري ـ زرتو که ـ تعلیمی پر یس لاهور .

کچه : ۱۶ × ۲۴ سم .

مخونه : ۱۵۲

موضوع : د پښتو دنامتو اولسی شاعر بهایی جان عشقي سندرې او سندر یز نظمو نه یکی را ټول شوي چې له پښتني موسیقی سره زیا ته سرسته کوی، (دا کتاب لومړی ځل د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی ؤ . )

«۱۶۵»

## د بېد یاګلو نه

ویونکی : میان سید رسول رسا .

خوروونکی : یونیورسټی بک ایجنسی، پېښو ر .

د خپر یدو کال : ۱۹۶۳ ـ دوهم چاپ ـ منظور عام پریس پېښور.

کچه : ۱۷ × ۲۱ سم .

مخو نه : ۳۶۸

موضوع : د ښاغلی سید رسول رسا د رنګینو اشعا ر و یوه لویه مجموعه ده چې دده په قول ، دده د ژوند د هرې دورې شعر ونه پکی شته ، چی ان دده د سکول د دورې شعرو نه هم پکی را غلی دي .



«۱۶۶»

## د بینوا پر یشا نه افکا ر

لیکو نکی : عبدالرؤف بېنوا .

خپروو نکې : پښتو ټولنه.

د خپرېدو کال : د ۱۳۳۵ کب ـ زرتو که ـ دولتی مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۱۸ سم .

مخونه : ۵۵

موضوع : د ښاغلی بېنوا دانتباهی ، انتقا دی او ا جتماعی اشعا رو ښکلې ا ور نګینه مجموعه.

«۱۶۷»

## د پښتنو تا ریخ

## ( لومړ ی جلد )

لیکو نکی : قاضی عطا ءالله خان.

خپروونکی : اداره ا شاعت سرحد ، پېښور.

دخپرېدو کا ل ا و ځای : ۱۹۶۲ (د و هم ځل ) حمید یه پریس پېښور.

کچه : ۱۶ × $\frac{1}{2}$ ۲۴ سم.

مخونه: ۵۴۰

موضوع : له ۱۶۲۲ ع کال نه تر ۱۸۳۸ ع پورې دافغانستان دتاریخ څېړ نه ده اودغلجیانو او ابدالیانو دوره یې د مهمو اسناد وپه رڼا کې څېړلې ده.

«۱۶۸»

## د پښتنو تاریخ

### (دویم ټوک)

لیکو نکی: قاضی عطاء الله خان .

خپروو نکی :اداره اشاعت سرحد پېښو ر

کچه: ۱۶ × ۲۴سم .

مخونه : ۴۰۱

موضوع :د افغانستان دنولسمې پېړۍ تاریخ دامیردوست محمدخان لهاوسړی سلطنت نه دده تر دوهم سلطنت پورې،د افغانستان د ا خلي اړ دوړ اوله انگریز انوسره مقابلې او مقاومتونه ، په دې کتاب کې په ډېر ښه ډول راغو نډ شوي دي ا وله مستند ومعلو ما تو او موثوقو کتابو نو نه پکې استفاده شوې ده٬ دا کتاب مرحوم عطاء الله خا ن دبند پهدوره کې لیکلی او د افغانستان په تاریخ کې یولوی سند دی.



«۱۶۹»

## د پښتنو تاریخ

### (دریم جلد)

لیکو نکی: ار واښا دقا ضی عطاء الله خا ن.

خپروو نکی :اداره‌اشاعت‌سرحد پېښو ر.

کچه: ۱/۴ ۱۶× ۲۴سم .

مخونه : ۱۲۰

موضوع : دامیر دوست محمد خان‌او و زیرا کبر خان د نظر ی اختلاف په موضوع شرو کېږي‌او ددوهم ځل له‌پاره له افغانستان‌نه دانگریزانوتروتلوپورې‌اوړ دېږي اوتردې سنځ‌ټو لې پېښې‌پکې راغلی د ي چې دنو لسمې پېړۍ‌دوروستی بر خې ښکار ند وی‌دی.

«۱۷۰»

## د پښتنو تاریخ

### (څلورم جلد)

لیکونکی: امیرعبدالرحمن خان.

ژباړو نکی:قاضی عطاء اللهخان.

دخپرېدو کال : ۱۹۶۰ - لومړی‌ځل -منظور عام پر یس پېښور.

خپروو نکی .اداره اشاعت‌سرحد پېښاور- عبدالخالق‌خلیق.

کچه: ۱/۴ ۱۶×۲۰سم.

مخونه: ۲۶۷

موضوع: دامیر عبدالرحمن خپل سرگذشت له کوچنیتوب نه تر سلطنت پورې. په دغه کتاب کې نوموړي امیرخپلې بهادرۍ او میړانې ښودلې او کوم جنگونه چې یې له خپلو ترونو او نورو سره کړي، پکې راغلي دي دا کتاب په پارسي لیکل شوی، له هغه نه بیا انگریزي شوی او قاضی صاحب له انگریزي متن نه په پښتو کړی او دپښتنوتاریخ څلورم جلد یې شمېرلی دی.

## «۱۷۱»
## دپښتنو یرغل

لیکونکی: لېډي سیل.

پښتو کوونکی: پاینده محمدزهیر.

خپروونکی: دپوهنې وزارت ددارالتألیف ریاست.

دخپرېدو کال: د ۱۳۲۹ کال زمری، دکابل عمومي مطبعه.

کچه: ۱۷ × ۲۰ سم.

مخونه: ۲۳۴

موضوع: دافغان او انگلیس دلومړي جنگ چې د ۱۸۴۱-۱۸۴۲ع کال پورې یې دوام درلود، ورځنۍ یادښتونه دي، چې دجنرنیل سیل میرمن لېډي سیل هره ورځ لیکلي او په ډېر ربړ یې له ځانه سره انگلستان ته وړي او بیا یې خپاره کړي دي، په دې کتاب کې لېډي سیل دپښتنو میړانه او دملي قهرمانانو فداکارۍ ستایلې او دا نگریز انو دماتې او شکست ټول راپورونه یې هم پکې درج کړي او یو مستندتاریخي اثر دی.

## «۱۷۲»
## دپښتو ادبیاتو تاریخ
## (لومړی ټوک)

لیکوونکی: عبدالحی حبیبي.

خپروونکی: دکابل پوهنتون داد بیاتو پوهنځی.

دخپرېدو نیټه: ۱۳۲۵ش کال-دکابل عمومي مطبعه-لومړی ځل.

کچه: ۱۹ × ۲۷ سم.

مخونه: ۱۳۷

موضوع: د ادب په باب څېړنه، دپښتو ژبې زړې ریښې او له نورو آریایي ژبو سره پر تلنه او نور پکې راغلي دي او دپښتو ژبې په قدامت اوزړښت زیاته رڼا اچوي، دپښتو یو ښکلی علمي او تحقیقي اثر او تر اوسه یو بې ساری او بې ارزښته کتاب دی.

«۱۷۳»

## د پښتو ادبیاتو تاریخ

## (دوهم ټوک)

لیکوونکی: عبدالحی حبیبي.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپریدو نیټه: ۱۳۴۲ - دولتي مطبعه - د چاپ شمیر ۲۰۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۷ × ۲۶ سم.

مخونه: ۳۶۸

موضوع: د پښتو ادب عمومي تاریخ دی او د پښتو د ادب په زړه پورې مواد: د پښتو دوه نیم زره کلن شعر، لویکان او پښتو، او د پښتو دادبي تاریخ نورې خوا وې لري. دا اثر یو ځل په ۱۳۳۸ کال هم خپور شوی دی چې له نوموړي چاپ څخه په دې چاپ کې ډیر زیاتوالی راغلی دی، او: «زړه پارسو، دوه نیم زره کلنی شعر - د لویکانو کورنی، پیر روښان او د ده دنثر مکتب» څغه نوی او مهم مطالب دي، چې په لومړي طبع کې نشته.



خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۲۰، عمومی مطبعه، لومړی ځل.

کچه: ½ ۱۲ × ½ ۱۷ سم.

مخونه: ۳۹۲

موضوع: د پښتو د اصطلاحاتو او محاورو ډیره په زړه پورې برخه ده چې د پښتو (۱۹۰۶) محاورې او اصطلاحګانې پکې راغونډې شوې تشریح شوې او په دري ترجمه شوې دي.

«۱۷۵»

## د پښتو پخوانی تذکرې

لیکوونکی: حبیب الله رفیع.

خپروونکی: د افغانستان اکاډیمی، د تاریخ او ادب ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۵۰، دولتي مطبعه، زر ټوکه.

کچه: ۱۵ × ½ ۲۲ سم.

مخونه: ۸۸

موضوع: د پښتو د ۱۲ پخوانیو تذکرو او ۱۳ شپه تذکرو بشپړه او مفصله معرفي ده. چې د پښتو د ادب له څیړونکو سره څه نه څه مرسته کولای شي.

## «۱۷۶»

## د پښتو د ادب تاریخ

لیکونکی: صدیق الله رښتین.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

کچه ۱۶½ × ۲۳ سم.

مخونه: ۱۸۸

موضوع: د پښتو د ادب لنډه تاریخچه او د پښتو د ادب د نوسیالیو لنډه بیوگرافي ده، چې د پښتو د ادب د مینانو سره سرته کوي، او هم د دوهم ځل لپاره د پوهنې وزارت، د دارالتألیف د ریاست له خوا په ۱۳۳۲ کال کې خپور شوی دی.

## «۱۷۷»

## د پښتو ژبې لیار

مولف: محمد گل مومند.

نشر: د بلخ د بریښنا شرکت له خوا په بلخ کې.

د خپرېدو کال: ۱۳۱۷، د چاپخای لاهور.



کچه: ½ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۵۶

موضوع: دا کتاب په دري برخو کې د پښتو د صرف، نحو، گرامر او د پښتو مصدرونو په باب په زړه پورې تحقیقات لري، او د لوی پښتون محمد گل مومند د پښتو سره د مینې یو ښه ښکارندوی دی.

## «۱۷۸»

## د پښتو عروض

مولف: میا اشرف.

کتنه او سپړنه: د صدیق الله رښتین.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

د خپرېدو کال: ۱۳۴۳ - د پوهنې مطبعه.

کچه: ۱۴× ½ ۲۱ سم.

مخونه: ۳۸+۳۴ = ۷۲

موضوع: په پښتو ژبه د عربي عروضو تطبیق او په پښتو کې په عروضو برابر د اسې شعرونه ویل چې د عربي عروضو په تله وتلل شي، پکې راغلي، دا یو په زړه پورې هاند او هڅه ده، چې فاضل مولف میا اشرف دوه سوه کاله پخوا په پښتو کې کړې او عروض یې پکې تطبیق کړي دي. خو د کتنې او سپړنې په برخه کې یې ځینې تېروتنې شته.

«۱۷۹»

## د پښتو قاعدې

## (صرف و نحو)

ليکونکی: سيدراحت زاخيلی.

خپروونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور .

دخپرېدوځای : منظور عام پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۸۸

موضوع : د پښتو صرف ونحو د عربی گرامر په چوکاټ کی پکی څېړل شوی دي، چی په ژبنيو څېړنو کی يی کتل گټور دی .

«۱۸۰»

## د پښتو قواعد

تاليف : دسيدمحمد تسنيم الحق اوسيدمحمد تقويم الحق .

خپرونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد .

دخپر يدوځای. منظو رعام پر يس، پېښو ر .

کچه: ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۲۱٦



موضوع : داسم ، فعل اوحرف په و يش د پښتو گرامر په باب دعربی گرامر په چوکاټ کې بحث شوی دی چې په ژبنيو څېړنو کې ښه اخځ دی .

«۱۸۱»

## د پښتو گرامر

ليکونکی : هر برت پنزل ، دامر يکا د مشيگن پوهنتون پروفيسر .

پښتو کونکی. محمدرحيم الهام .

خپروونکی : کابل پوهنتون داد بياتو پوهنځی .

د خپر يدونېټه : ۱۳۴۰ ، زرتهو که، دولتی مطبعه.

کچه : ۱۸ × ۲۴ سم .

مخونه : ۲۱۵ + ۳۰ _ ۲۴۵

موضوع : دپښتوژ بی دگرامر په هکله علمی بحث شوی او د نړی دگرامری اصولو په اساس څېړل شوې ده، چې اته فصلونه او يو قاموس لری په لومړی فصل کې د پښتو دلهجو فونيمونه ، په دوهم فصل کی ادات، په دريم فصل کې نومونه ، په څلورم فصل کې صفتونه ، په پنځم فصل کې ضميرونه ، په شپږم فصل کې افعال ، په اووم فصل کې عمومی نحو او په اتم فصل کې دنمونې متن او په پای کې دژباړونکی له خوا

ددی گراسر دعلمی اصطلاحاتو لنډ کی قاموس لیکل شوی دی .

## «۱۸۲»
## د پښتو مناثره

لیکونکی : دهیواد لیکوالان .

خپروونکې : پښتوټولنه .

دخپریدو کال : ۱۳۲۸ دکابل عمومی مطبعه ، ۲۰۰۰ ټوکه .

کچه : ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۴٦

موضوع : د پښتوهغه مناثره ده ، چې په ۱۳۲۸ کال له راډیو افغانستان څخه بروډ کاست شوی اوددې مناثرې دهدف له مخې یې ټولې مقالې په بو به پښتووې اود هیوا د ۱٦ تنو لیکوالو برخه پکی ا خیستی وه.

## «۱۸۳»
## د پښتو نخوا افسانی

لیکو نکی : سیراجان سیال .

دخپریدو نیټه : د ۱۳۳۱ جدی ـ لو مړی ځل ۵۰۰ ټوکه ،

دکابل عمومی مطبعه .



کچه : ۱۵ × ۲۰ سم .

مخونه : ۳۸

موضوع : د پښتو یولړ لنډې محیطی کیسې پکی راغلی چی شمیر یې ۲۱ کیسوته رسیږی ، دایوه سلسله هغه واقعی کیسې دی ، چی په پښتنی سیمه کې پیښی شوی خو «خو» پکې د اده ، چې په اولسی ژ به نه دی لیکلی شوې، په دې کیسو کې یولړ اصلاحی ، انتقا د ی ، انتباهی اورزمی مطالب راغلی دي .

## «۱۸۴»
## د پښتو نخو ادشعرهارو بهار

ټولو ونکی : ډارمستتر فرانسوی .

خپروونکی : دپاریس دختیځ ټولنه .

دخپریدو کال او ځای : ۱۸۸۸ ع ، دپاریس سرکاری مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۲۵ سم .

مخونه : ۲۲۸ پښتو برخه .

موضوع : په دې اثر کې د پښتو غزلی ، چار بیتی ، ټلونه ، کیسې لنډۍ ، سندرې اونور راټول شوی ، چې مهمی یې هغه چار بیتی دی چې د احمدشاه بابا له وخت نه راورو سته له هندو انو او انګر یزانو

مره د پښتنو دمبارزو په باب و یلې شوې دي ،دا کتاب په فرانسوی ژ بـه هم یوه برخه لري ، چې « دا رستر پښتو خپرنې » په نا مه ترجمه شوې او پښتوټولنې خپره کړی ده .

«۱۸۴»

## د پښتو نستان په باب کې دا فغا نستان نظریات

دخپر یدو کال : ۱۳۳۳ ، ۵۰۰ ټوکه .

کچه: ½ ۱۴ × ۲۰ سم .

مخونه. ۳۵

موضوع : د پښتونستان دملی مسألې په باب دوخت دصد راعظم ښا غلی محمد دا ؤ د او خارجه و زیر محمد نعیم ، دهغو و ینا وو لنډ یز د ی، چې د پا کستا ن دیو یو نټ د جوړ ید و په ضدیې کړی او دپښتو نستان ملی مسأله یې پکی څیړ لې ده .

«۱۸۶»

## د پښتو نستان دو رځی په مناسبت د پښتو مشاعره

و یونکی . ګڼ شمیر شاعران .

خپروونکې : کا بل مجله .

دخپر ید و کال : ۱۳۴۱



کچه : ½ ۱۶ × ½ ۱۳ سم .

مخو نه: ۱۰۴

موضوع . د پښتونستان دمشاعرې د هغوشعر ونو مجموعه ده ، چې د پښتوټولنې له خوا په راډیو افغانستان کې شوې وه .

«۱۸۷»

## د پښتو نستان مسأله

## د حق خودارادیت په ر ڼا کې

مولف او مدون . محمدابراهیم عطایی.

خپروونکی: دقبایلو دمستقل ر یاست دتبلیغاتو څانګه.

دخپریدو کال: د ۱۳۴۸ کال دسنبلې نهم، د و ه ز ره ټو که، د پوهنې مطبعه .

کچه : ۱۷ × ۲۴ سم .

مخونه : ۳۴۸

موضوع . د پښتونستان په باب تاریخی، جغر افیایی ا وحقوقی بحثونه چې په او و بر خو کې لیکل شوی ،لومړی برخه مځکه او خلک، دوهمه برخه تاریخی هویت، دریمه برخه دپښتونستان سره دافغانستان تعلقات پس له هغه چې له افغانستان څخه جلاشویدی، څلورمه برخه د پښتونستا ن مسأ له د حق خودارا دیت په رڼا کې، پنځمه بر خه

د پښتونستان دوا تعاتودتیر کال پس منظر،شپږمه بر خه د پښتونستان په باره کې دمغو و یناوولنډیز چې په تیر کال کې ایراد شوې وې، اوو مه برخه د پښتونستاني شاعرانو حماسي اد بیات .

«۱۸۸»

## د پوهانو افکار

ټولوونکی: عبدالقدوس پرهیز .

خپروونکې: دانیس ورځپاڼه.

دخپریدو کال: ۱۳۲۶ ش-د کابل عمومی مطبعه-لوسړی‌خل .

کچه: ۱۷ $\frac{1}{2}$ × ۲۲ سم.

مخونه: ۱۰۳

موضوع: د۲۸۳ تنوپو هانو وجیز کلمات او لنډې ویناوې چې را ټولې شوې دي او دفلسفی او اجتماعی افکارو یوه ښکلې مجموعه او په پښتو کې یوه درنه او دقدرووړ اضافه ده.

«۱۸۹»

## د پیر محمد کاکړ دیوان

ټولوونکی: عبدالرؤف بینوا.

خپروونکې: پښتو ټولنه- کابل.



دخپریدو کال : ۱۳۳۵ -عمومي مطبعه،لوسړی ځل.

کچه: ۱۸×۲۷سم .

مخونه: ۱۴۲

موضوع: داحمد شاه بابا د زمانې دتکړه شاعر پیرمحمد کاکړ درنګینو اشعارو مجموعه .

«۱۹۰»

## دتاریخ په باره کې

مولف: محمدحسن (ضمیر).

خپروونکی: د کابل پوهنتون،داد بیاتو پوهنځی.

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۳۹ ،دولتی مطبعه، زرتو که .

کچه: ۱۸×۲۶سم.

مخونه: ۱۳۸

موضوع: «دتاریخ لغوی خوا ،دتاریخ دعلم تعریف، تاریخ د پوهانو په نظر کی، دپوهانو خبرې، تاریخ کله ا وڅنګه منځ ته را غی ؟ تاریخی دورې ،تاریخ په ځوړوله ویشل کیږی' دتاریخ دتحول سیر، د تاریخ اصول، دتاریخی وقایعو د تدقیق طرز، تاریخ څه شی د ی ؟ دتاریخ فلسفه' دتاریخ ارتباط اومناسبات له نورو علوموسره» ترعنواوینو لاندې دتاریخ په باب ګټور مطالب پکی راغلی دی .

«۱۹۱»

## دتاریخ ټولنې کتابونه

ليکونکی: حبیب الله رفیع

خپرونکی: دتاریخ اوادب ټولنه .

دخپریدو کال: ۱۳۵۱ ، کابل دولتی مطبعه.

کچه: ۱۳×۱۹ سم.

مخونه: ۸۲

موضوع: دتاریخ ټولنې د ۱۰۰ هغو کتابونو معرفی پکی راغلې ده، چی دتاریخ ټولنې له منځ ته راتګ نه تر ۱۳۵۱ کال پورې خپاره کړې دي، او دتاریخ ټولنې علاقمندان ترې ګټه اخیستلی شي.

«۱۹۲»

## دتمدن قهرمانان

ليکونکی: ژوزف کاتلر اوهیم جاف .

فارسی کوونکی: ذبیح الله منصوري .

پښتو کوونکی. محمد ابراهیم ثابت.

دخپریدو کال: ۱۳۳۰، زرتوکه، دولتی مطبعه.

کچه: ۱۸×۲۵ سم.



مخونه: ۵۰۸

موضوع: په ځلورو برخو کې د اکتشافاتو دقهرمانانو، دخاصوعلمي قهرمانانو، داختراع دقهرمانانو او دژوندانه پېژندنې او طبابت دقهرمانانو دژوند پېښې او د دوی دقهرمانانۍ څرنګوالی په ډېر خواږه او روښانه شکل پکې ليکل شوی دی، چی د علم ، سیانس او تخنیک د پرمختګ له اوږدو سره مو اشنا کوي.

«۱۹۳»

## دتورې او قلم خاوند

مرتب: محمد نواز ختک .

خپرونکی. ادارهٔ اشاعت سرحد پېښاور .

دخپرېدو کال او ځای. منظور عام پرېس ۱۹۵۷، دوهم ځل.

کچه. ۱۶×۲۰ سم .

مخونه: ۱۸۰

موضوع: دهغو شعرونو مجموعه ده، چی په ۱۹۴۹ کال کې د ادبي جرګې له خوا ادبي مشاعرې په ترځ کې د خوشال ختک په قبر او رول شوی وو او هم په دوهمه برخه کې يې د هغو شاعرانو لنډه پېژند ګلوي راوړې چی په مشاعره کې يې شعرونه راغلي دي.

«۱۹۴»

## دتورې شړ نګ (شړ نګ)

ليکونکي: دمحکوم پښتونستان ګڼ ملي ليکوال .

خپروونکی: دصوبهٔ سرحد دحکومت دمطبوعاتو اداره.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۷۲ ع، حميديه پرېس، پېښور.

کچه: ۱۸×۲۴ سم.

مخونه: ۱۹۶

موضوع : «د پښتنو غازيانو، شهيدانو، يوه ننه، يادګېرنه » دا اثر د محکوم پښتونستان دنېشنل عوامی پارټی دحکومت لومړنی اثر دی چې دخپل لنډ واك په وخت کې يې خپور کړی دی، په دې اثر کې دبېلو ـ بېلو مقالو په ترڅ کې دبېلو ـ بېلو ملي ليکوالو په وسيله دپښتنو هغه ملي مبارزې چې د انګريز انو او پاکستانيانو په مقابل کې يې کړې، خوندي شوې او يو ډېر ګټور اثر دی.

«۱۹۵»

## د ټکړو شکور

## (په نوی طرز)

تصنيف: تندر ختك .

ناشر : حاجي فضل احد.



دچاپ ځای: منظور عام پرېس پيښور.

مخونه: ٦٤

موضوع. د پښتو داولسي ا دب په ډېره پوري: لوبې، قصې، چاربيتې نيمکی، غزلې ، ټپې اوحمدونه، نصيحتونه او نعتونه پکې راغلي دي.

«۱۹٦»

## دټولنو په تنظيم کې دشرعی حدودو اغيزه

تأليف : دعبدالباري غيرت.

خپروونکې: ستره محکمه .

دخپريدو کال اوځای : ۱۳۵۰، د ولتی مطبعه .

کچه : ۱٦ × ۲۲½ سم .

مخونه : ۴۸

موضوع : دګناهونو په کولو کې دشرعی حدودو اغيزې په باب اود حدودو داهميت په باره کې ددينی ارشاداتو په رڼا کې خبری شوې اودنوی عصر له غوښتنو سره سم ښکاره شوي دي .

«۱۹۷»

## دټولنې په جوړولو کې دقرآن لار

ليکونکی: استاد شيخ شلتوت.

ژباړونکی : محمدشاه ارشاد .

خپروونکی : دمطبوعاتومستقل ریاست ، دکور نیو خپرو نو مدیریت ، دجوایز واو کتابو نو دخپر و لومدیریت .

دخپریدو نېټه : ۱۳۴۰ ـ لوړی ځل ـ کابل ـ دولتی مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۲۰ سم .

مخونه : ۱۷۷

موضوع : دآسمانی مقدس کتاب قرآن کریم داجتماعی لارښوو نو او متینو قوانینو په شاوخوا کې یوه ژوره څېړنه ده .

«۱۹۸»

## د جبر او اختیار دیالکتیک

لیکونکی : سیدبهاءالدین مجروح .

خپروونکی : کابل پوهنتون ـ دادبیاتو پوهنځی ـ دوړسي مجلې څانگه .

کچه : ۱۶×۲۲ سم .

مخونه : ۱۳۲

موضوع : دجبراواختیار په پېچلی موضوع باندې یوعلمی اومنطقی تحلیل دی ، چې یوه مقدمه ، دوې برخې او یوه نیتجه لري ، د کتاب په پای کې داصطلاحاتو ترعنوان لاندې په کتاب کې راغلی لغات تشریح شوي اوداعلامو ترعنوان لاندې په کتاب کې ذکر شوي



اشخاص په ائلفبائي توگه معرفی شوي دی .

ددې کتاب لومړی برخه : انسان دطبیعت په مقابل کې ، دوهمه برخه : انسان دخپل نفس په مقابل کې ، دریمه برخه : فرد داجتماع په مقابل کې ترعنوانو لاندې لیکلې شوی دی .

«۱۹۹»

## دجمهوریت وزمې

د : حبیب الله رفیع .

خپروونکي : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال : ۱۳۵۲

دخپریدو ځای : دولتی مطبعه .

کچه : ۱۳ × ۱۷ سم .

مخو نه : ۳۸

موضوع : هېواد ته دجمهوریت له راتللو نه وروسته دشاعر هغه شعرونه پکې راغلی چې دجمهوریت دوگړنی رژیم د راتگ تر احساس لا ندې ویلی او خپله دزړه خوښي یې پکې انځور کړې ده .

«۲۰۰»

## دځلو پښتو کلو نو په دوره کې

## شوروي افغان پيژندنه

ليکونکي: ر. اخراموويچ، ن. گوريوويچ، ل. دور و فيئوا، گ. گيرس.

پښتو کوونکي: ل. پاستيوويچ.

خپرونکې: دختيځو ادبياتو دنشر ياتو اداره، مسکو.

دخپريدو کال: ۱۹۶۱ ع.

کچه: ۱۳ × ۲۰ سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: «په شوروي اتحاد کې دافغانستان د تاريخ تحقيقات، په شوروي اتحاد کې دافغانستان د اقتصاد زده کړه، په شوروی اتحاد کې دافغانستان دژبو زده کړه او مطالعه، او په شوروی اتحاد کې دافغانستان دادبياتو زده کړه.»

«۲۰۱»

## دخېړنې لارښود

ليکوال: محمد صديق روهی.

خپرونکې: پښتو ټولنه.



دخپريدو کال: ۱۳۵۴

کچه: ½ ۱۴ × ۲۰ سم.

مخونه: ۱۶۸

موضوع: دا اثر ځوانانو او څېړونکو ته دڅېړنې د علمي اصولو او لارو چارو ښودنه کوي چې د: «علمي ميتود، د څېړنې اهميت، دڅېړنې لارې، ايکټنښي» ترلويو سرليکونو لاندې دموضوع په اړخونو خبرې کوي او له ځوانانو سره دڅېړنې په لارښوونه کې لويه او په زړه پورې مرسته کوي.

«۲۰۲»

## دحجرې محفل

## قصه دشيخ چلی

مصنف: شاعر ولی محمد.

خپرونکې: عوامی کتب خانه.

دخپريدو ځای: حميد يه پريس پېښاور.

کچه: ۱۲ × ½ ۱۷ سم.

مخونه ۴۸

موضوع: په شيخ چلی نومی افسانوی موجود پوری هغه ټوکې شوې

کیسې دي لکه د ملا نصر الدین د کیسو غوندې چې په خلکو کې مشهورې دي، په نظم کې راغونډې شوې او محفلونه پرې تودېږي.

«۲۰۳»

## دحق چیغه

تصنیف: د عبدالوهاب دستي.

خپرونکی: دارالاشاعت مغمومیه کتابخانه.

دخپرېدو ځای: حمیدیه پریس پېښور.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۶۴

موضوع: دحضرت خضر او حضرت موسی علیه السلام، مشهوره کیسه ده، چې په پښتو اولسي نظم ـ نظم شوې او ځای په ځای د کیسې د تنوع او زړه راښکلو په غرض ځینې لنډۍ، رباعیانې، وبې او د اولسي شعرونو ډولونه پکې زیات شوي دي.

«۲۰۴»

## د حمید نیرنګ عشق

ویونکی: مولانا محمد اکرم غنیمت.

پښتوکوونکی: حمیدبابا.



خپرونکی: پښتوټولنه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۴۹، دولتي مطبعه اته سوه ټوکه.

کچه: ۱۵ × ۲۰ سم.

مخونه: ۲۳۶

موضوع: د نیرنګ عشق یوه خوږه فولکلوري کیسه ده، چې مولانا غنیمت لیکلې او حمید بابا په روانه پښتو او خوږه نظم اړولې ده، خو د پښتو ټولنې د هغه وخت مشرانو له بده مرغه بېرحمانه لاس پکې وهلی دی، او ډېر مطالب یې په لوی لاس غلط کړي او له منځه یې وړي دي.

(دا کتاب لومړی ځل په ۱۲۹۹ هـ ق کال خپور شوی دی.)

«۲۰۵»

## دحنان بارکزي دیوان

ټولوونکی او خپرونکی: پښتوټولنه ـ د کابل مجلې مدیریت.

دخپرېدو کال: د ۱۳۳۶ کال اسد، ۱۰۰۰ ټوکه، دولتي مطبعه.

کچه: ½۱۶ × ½۲۴ سم.

مخونه: ۲۴۴

موضوع: د پښتو دویا رلسمې هجري پېړۍ د یوه تکړه او نکته‌دان شاعر میرزا حنان د اشعارو ښکلې او رنګینه مجموعه ده چې د ۱۲۵۵ کال په شاوخوا کې یې په کندهار کې ژوند کاوه.

## «۲۰۶»
## د خپلواکۍ جګړې

مؤلف: مولوی محمد ظاهرشاه...

خپرونکی: دقبایلو مستقل ریاست.

د خپرېدو کال: ۱۳۲۷، دولتي مطبعه، ۳۰۰۰ توکه.

کچه: ۱۷ × ۲۲ سم.

مخونه: ۱۸۲

موضوع: په شلمه پېړۍ کې د استعمار او استثمار په مقابل کې د پښتنو مبارزې، او مجاهدې دلراوبر پښتون ګډها ندونه، کوښښونه او هڅې پکې انځور شوې دي.

## «۲۰۷»
## د خلکو سندرې

لیکوال: حبیب‌الله رفیع.

خپرونکی: دافغانستان اکاډیمی، دتاریخ اوادب ټولنه.



د خپرېدو کال: ۱۳۴۹، دولتي مطبعه، پنځه سوه توکه.

کچه: ۱۴ × ½ ۲۰ سم.

مخونه: ۳۲۲

موضوع: د پښتو د اولسی ادب: «دمیندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د ورو ماشا عرې، کیسې، دلویانو سندرې، محلي پارچې، داتڼ نارې، بابو لالی، لنډۍ، فالونه، سروکی، منظوم متلونه، دهوتکو نارې، کاکړۍ، ساندې، غبرګونه، دمړوتو کسرونه، مقامونه، چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، کیسې، داستانونه او مشاعرې د پېژندګلوۍ او نمونو سره پکې راغلي دي او د اولسی ادب د څېړونکو مرستندوی دی.

## «۲۰۸»
## د خندا پلوشې

لیکونکی، یښتو کوونکی، مصحح، مهتمم، او ناشر: محمد ناصر نصرت.

د خپرېدو نېټه: ۱۳۴۹ لمریز کال، دولتي مطبعه.

کچه: ۱۴ × ۲۰ سم.

مخونه: ۱۴۹

موضوع: د ټوکو ټکالو او لنډو خندوونکو کیسو مجموعه ده، چې ښاغلي نصرت‌الله کتابونو او اجتماع څخه راغونډې کړې او د فولکلوري څېړنو په برخه کې استفاده تري کېدای شي.

«۲۰۹»

## د خوشحال‌خان خټک ملغلرې

ټولوونکی: عبدالحی حبیبی.

خپروونکي: دطلوع افغان اداره ـ کندهار.

دخپرېدوکال: د ۱۳۱۷ کال ثور ـ ومړی ځل ـ ۵۰۰ ټوکه، دکندهار د بر ینه مطبعه.

کچه: ۱۷ × ۲۰ سم.

مخونه: ۱۱۲۸

موضوع: د پښتو دادب پلار ـ دتورې اوقلم خاوند خوشحال خان خټک د غزلو، قصایدو، رباعیاتو او قطعاتو مجموعه ده او هم د خوشال بابا پرژوند عالمانه څېړنه شوې ده.

## دخوشال خټک یو شعر

لیکوونکی: حمزه شینواری.

دخپرېدو کال: ۱۹۵۹ ـ اومړی ځل ـ زر ټوکه ـ پبلک آرټ



پرېس پېښور.

کچه: ۱۳ × ۱۹ سم.

مخونه: ۱۸۳

موضوع: دخوشحال خټک ددې بیت:

«په هر څه کې ننداره دهغه مخ کړم
چې له ډېرې پېدا ایښې ناپدید شو»

تفسیر دی، چې په خاصه فلسفي او تصوفي توګه‌شوی دی.

«۲۱۱»

## دخیبر ادب

لیکوونکی: مراد شینواری.

د خپرېدو کال: ۱۹۵۸ ع، منظورعام پرېس پېښور.

کچه: ½ ۱۲ × ۱۹ سم.

مخونه: ۳۲۲

موضوع: دخیبر دشاعرانو او ادیبانو تذکره ده او هم په‌سر کې دخیبر اوغزل ـ دروښانیانو دوره او اولسی دورې په باب یو لړ معلومات لري.

## «۲۱۲»
## ددولت لوانی دیوان

سر یزه د: پوهاند عبدالشکور رشاد .

خپروونکي : پښتوټولنه .

دخپر یدو کال : ۱۳۵۳ ( د بایزید روښان دبین المللی سیمینار په ویاړ . )

دخپر یدو ځای : دولتی مطبعه.

کچه ۱۸ × ½ ۲۴ سم .

مخونه : ۳۵+ ۲۷۹ = ۳۱۴

موضوع : دنامتو روښانی شاعر دتصوفی شعرونو مجموعه ده چې ځای په ځای دروښانی تصوف ځانگړ نې پکې انځور شوی اود پښتو دلرغون ادب یوه ارځښتنا که پا نگه ده .

## «۲۱۳»
## در اومر جان

### «دیوان عبدالحمید»

و یونکی : حمید بابا .

مقدمه ، تصحیح او اهتمام : دپاکترسیدانوار الحق .

خپروونکی : یونیورستی ، بك ایجنسی .



دخپر یدو کال : ۱۹۵۸ ، منظور عام پریس ، پیښور .

کچه : ۱۹× ۲۵ سم .

مخونه : ۱۷۲

موضوع : دپښتو دخوږ ژبی اوموشگاف شاعر ، حمید باباداشعارو دیوان دی ، چی په ښکلی صحافت خپورشوی او په پای کې دگرانوټکو معنی هم لیکل شوی ده . په لوسړی پانه لیکل شوی .

« چې هیچیرې په پارسی کی موندونه شی
هسې ساز دی حمید اینښی په پښتو کی
فارسیانو دحیرت گوتی په غاښ کړ ې
چې حمید سخن سازی کړه په پښتو کی »

او هموگو ری ! دعبدالحمید دیوان .

## «۲۱۴»
## درحمان بابادیوان

و یونکی . رحمان بابا .

تصحیح ، مدون اومقابله کوونکی . عبدالرؤف بینوا .

خپرو ونکې : پښتو ټولنه .

دخپر یدو کال او ځای : دکابل عمومی مطبعه ، ۲۹/۱۳۲۸

کچه : ½ ۱۰ × ۱۲ سم .

مخونه : ۲۶۰

موضوع : د پښتو د تصوف او لسان الغیب شاعر رحمان بابا د اشعارو مجموعه ، چې په جیبي کچه خپره شوی او هر ځوک کولای شي چې په جیب کې یې له ځانه سره وګرځوي او وخت په وخت استفاده ترې وکړي .

«۲۱۵»

## درشهوار

### (یو څو تاریخي افسانې)

لیکونکی : عبدالرؤف نو شهروی او محمد یوسف کاکا خیل .

خپرونکی : عظیم پبلشنګ هاؤس ، بیرون کابلي ګېټ پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۸۴

موضوع : څو اسلامي او تاریخي ، انتباهي او رومانی بڼکلې افسانې — چې د پښتو ادب یو په زړه پورې شهکار دی او هم په سر کې : « د افسانې حقیقت ، د قصو خصوصیات ، د افسانې قسمونه ، د افسانې اهمې حصې ، پلاټ ، د افسانې عنوان » تر عنوانونو لاندې په زړه پورې



تحقیقي او مستند معلومات لري .

«۲۱۶»

## د روښانیانو ملي نهضت

لیکوال : استاد اسلانوف .

مترجم : محمد اکبر معتمد .

خپرونکی : پښتو ټولنه .

د خپرېدو کال : ۱۳۵۳

د خپرېدو ځای : دولتي مطبعه .

کچه : ۱۳ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۰ + ۳۶ = ۶۶

موضوع : په لومړي یو دیرشو مخونو کې د مترجم سریزه ده او په ۳۶ نورو مخونو کې : « د روښانیانو ملي نهضت او د شپاړسمې او اوولسمې پېړۍ د پښتو په ادب کې یې انعکاس ، د روښانیانو تاریخ د روښانیانو د حرکت خصوصیت ، د روښانیانو مخالفین ، خوشحال خان او د روښانیانو حرکت » تر سرلیکونو لاندې په زړه پورې مطالب لري .

«۲۱۷»

## درې ننګیالي

لیکونکی : محمد عظیم افریدی .

خپروونکی : نو رمحمد افریدی .

دخپر یدو کال او ځای : ۱۹۷۳ ، حمید یه پر یس کوټه .

کچه : ۱۲× ۱۸ سم .

مخونه : ۱۷۵

موضوع : پەدی اثر کې دلو یې پښتونخوادرې تنه هغه مبارزین معرفی شوي ، چې له انگر یز انو سره د خپلی خاوری د ساتنی له پا ره جنگیدلی دی ، دادری ننگیالی : کمال خان، سلطان خان اوعجب خان دی ، چې دستندو اسنادو په رڼا کې معرفی شوی دي.

«۲۱۸»

## دزرو اقتصاد

لیکونکی : ماسم (معصوم) اڅکزی .

خپروونکی : جعفر پبلشنگ هاو س، ار باب کرم خان روډ، کو ټه.

دخپر یدو نیټه : نه لري ، روببی ځل.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۳۸

موضوع : په پښتو کې یوبی ساری ا قتصاد ی کتاب د ی چې دپیسو داهمیت ، دپیسود پیدا کیدو ، دبا نکنو نو دماهیت اونو رو



په زړه پوری اقتصادي مطالبو په درلو دلوسره چې دعصری کتا بو پـه استناد څیړل شوی او راټول شوی دی یو په زړه پوري اثر دی .

«۲۱۹»

## دزړه ټکور

مصنف: سلیم خان د کوټهی .

خپروونکی : عوامی کتبخانه ، پیښو ر .

دخپر یدو ځای : منظور عام پر یس پیښور .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۸۰

موضوع : دا ولسی شاعرد داستانو ، لو بو ، غزلو ، ربا عیګا نو ، سسر یواونورو اولسی شعرونو مجمو عه ده .

«۲۲۰»

## دزړه خواله

لیکونکی: عبدالرؤف بېنوا.

خپروونکی : د کتاب چاپولو مؤسسه .

دخپریدو کال : ۱۳۴۵ ـ دولتی مطبعه ، دري زره ټو که .

کچه : ۱۴×۱۹ سم .

مخونه : ٦١

موضوع : یوشمېر اصلاحي، انتقادي او انتباهي لیکونه دي چې نوموړي د خپل بې نومه سلګرۍ په نامه خپل اجتماعي دردونه پکې منعکس کړي دي او ټول ۱۲ بې عنوانه لیکونه لري .

«۲۲۱»

## د زړه راز

ویونکی : عبدالله (خدمتګار) .

خپرونکی : د مطبوعاتو ریاست، د نشراتو مدیریت .

د خپرېدو کال : ۱۳۳۵ ـ ۰ . ه . ټوکه، د دولتي مطبعه .

کچه : ۱۶×۲۱ سم .

مخونه : ۱۸۲

موضوع : د بناغلي عبدالله (خدمتګار) د اجتماعي، اصلاحي، انتقادي، عشقي او نورو راز ـ راز اشعارو لوسړني مجموعه ده، چې په زړه پورې مطالب پکې د شعر په چوکاټ کې اچول شوي او هم یې یوشمېر شعرونه په اولسي طرز ویلي دي .

«۲۲۲»

## د زړه قطرې (کترې)

ویونکی : عبدالله جان اسیر .



خپرونکی : ونیورسټي بک ایجنسي، پېښور

د خپرېدو کال : ۱۹۵۶ ـ لومړی ځل، عام پریس پېښور .

کچه : ۱۶×۲۱ سم .

مخونه : ۲۱۶

موضوع : د عبدالله جان اسیر د اجتماعي اشعارو د غه مجموعه ده، شعرونه یې خواږه، احساسات یې عالي او شعر یې د ژوند په درد خوري، تر هرڅه د مخه وایي :

که په صور د اسرافیل سړي و بېښېږي
دا اشعار به زما ویښ که افغانان

«۲۲۳»

## د زړه لوګی

لیکونکی : محمدالدین مقید .

خورونکی : رحمان نیوز ایجنسي .

د خپرېدو کال : ۱۹۶۰، منظور عام پریس پېښور .

کچه : ½ ۱۲×۱۹ سم .

مخونه : ۱۴۴

موضوع : د بناغلي مقید د ریاستي اشعارو یوه ښکلې مجموعه ده، چې

ملي دردونه پکی انځور شوي دي .

## «۲۲۴»

## د زړه وینا

لیکونکی: ګل پاچا الفت .

خپروونکی: پښتو ټولنه .

د خپریدو نېټه: د ۱۳۴۱ کال اسد ـ د پوهنې مطبعه ـ آفسیټی چاپ.
لومړی ځل ـ د چاپ شمېر ۱۰۰۰ ټوکه .

کچه: ۵۰۰ ټوکه، منځنی، ۵۰۰ ټوکه، کوچنی ۱۴×۱۰ سم .

مخونه: ۱۲۲

موضوع: اجتماعی، اصلاحی، انتقادي او انتباهی اشعار، چی یولړ موضوعات، لکه: ښکلا او هنر، د صلح نړی، سینه او دوستی، صلح ګل، پکی ښېخی نوي دی، او په پښتو کې یې د ریالیزم د مکتب یو په زړه پوري اثر ګڼلای شو .

## «۲۲۵»

## د ژوند پیغام

مؤلف: فیض الله فیض

خوروونکی: یونیورسټی بک ایجنسي کابلی دروازه پېښور ـ ښهر .

د خپریدو کال: ۱۹۵۹ ع ـ منظور عام پریس پېښور .



کچه: ۱/۴ ۱۸×۱۲ سم .

مخونه: ۱۷۶

موضوع: د ښاغلی فیض د ژوند د ترخو او خوږو خاطراتو او رنګینو اشعارو یوه پرسوزه مجموعه .

## «۲۲۶»

## د ژوند سندره

لیکونکی: صدیق الله رښتین.

خپروونکی: راډیو افغانستان .

د خپریدو کال: د ۱۳۳۸ کب، د دولتی مطبعه، لومړی ځل ۱۰۰۰ ټوکه .

کچه: ۲۴×۱۶ سم .

مخونه: ۱۱۸

موضوع: د سازپه شا او خوا کی یوه څېړنه، او د پښتو د ساز د آلاتو معرفی او د پښتني ټنګ ټکور په باب تبصري او بحثونه .

## «۲۲۷»

## د ژوند سندره

لیکونکی: محمد اشرف مفتون .

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۵۲، سرحد الکتریک پریس پېښور.

کچه: ۱۳×۱۸ سم.

مخونه: ۱۰۹

موضوع: دپښتو دپیاوړی اورند شاعر ښاغلی مفتون درند انه شعرونو یوه خوندوره مجموعه ده چې د شعرو پلو خاص سبک له ورایه پکې ښکاري.

## «۲۲۸»

## دسپرلی (پسرلی) ګل

لیکونکی: عبدالله جان اسیر.

خپروونکی: پبلشر سینچر پیکو لمټېډ.

دخپرېدو کال: د ۱۹۳۸ کال فروري، زرټوکه.

کچه: ۱۳×۱۹ سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: دعبدالله جان اسیر دوطنپرستانه اشعارو او غلوریزو یوه ښکلې او رنګینه مجموعه.



## «۲۲۹»

## د سپرلی (پسرلی) نغمه

لیکونکی: میررحمن «غازی».

خپروونکی: رحمن نیوز ایجنسي پېښور.

دچاپ نېټه: ۱۹۶۱ ع کال، اوسړی ځل، منظور عام پرېس پېښور.

کچه: ۱۷×۲۱ سم.

مخونه: ۲۰۴

موضوع: دیوان اجتماعی اشعارو مجموعه ده، موضوعات یې حیاتی انتباهی او انتقادي دي خو د شعرله پلوه لږ څه سستي لري.

## «۲۳۰»

## دستار نامه

لیکونکی: خوشحال خان خټک.

خپروونکی: پښتو ټولنه.

دخپرېدو نېټه: د ۱۳۴۵ کال اسد، د ولتی مطبعه.

دچاپ شمېر: ۲۵۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۵×۲۱ سم.

مخونه: ۱۵۴

موضوع: د پښتو د ادب د نړۍ د لوی قهرمان خوشحال خان خټک دیولړ اجتماعی مقالو مجموعه ده چې د پښتو یو پخوا نی متن دی او دا اثر د توري او قلم اتل د اورنگزیب په بندیخانه کې لیکلی دی او د پښتو ټولنې له خوا د خوشال خان د ۲۸۶ تلین د سیمینار په مناسبت خپور شوی دی، چې د پښتو متونو په لړ کې یو قیمتی ا ثر دی.

## «۲۳۱»
## دسهیل ستوری

ویونکی: صاحبزاده محمد ادریس.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد پېښاور قصه خوانی.

دخپرېدو کال: ۱۹۵۷ ع.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۴۴

موضوع: دصاحبزاده صاحب داجتماعی، عشقی او نورو اشعارو مجموعه ده، چې د پښتو ادبی څېړنو په برخه کې گټه ترې اخیستل کېدای شی.

## «۲۳۲»
## دشاعر پسرلی

لیکونکی: محمد جان فنا.



خپروونکی: محمد قاسم موزان.

دخپرېدو نېټه: د ۱۳۴۰ حمل، ۵۰۰ نسخې، د کابل دولتی مطبعه لومړی ځل.

کچه: ½ ۱۹×۱۴ سم.

مخونه: ٦٨

موضوع: یو لړ اجتماعی شعرونه چې هنر یې د ژوند لپار ه پکې به ښه ډول په کار وړی دی، له هر کاڼی بوټي، څانگی او هر هرڅه څخه یو اجتماعی درس اخلی، چې په پښتو اشعا ر و کې نوي موضوعات دي.

## «۲۳۳»
## د شمس الدین کاکړ دیوان

ټولوونکی: عزیز الله واصفی.

مهتمم: حفیظ الله.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال: د ۱۳۳۳ کال ز سري، لومړی ځل، ۱۰۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۸×۲۵ سم.

مخونه : ۱۶۹

موضوع : دشمس الدین کاکړ د اشعارو مجموعه او د ادبی صنایعو او رنګینیو کیڅی .

«۲۳۴»

## د ښاغلی اجمل خټک وینا

لیکونکی : اجمل خټک.

د خپریدو کال : ۱۳۵۲، دولتی مطبعه .

کچه: ۱۵×۲۰ سم.

مخونه : ۱۰

موضوع : دنیشنل عوامی پارټی، دلوی منشی ښاغلی اجمل خټک د هغې وینا متن دی چې په ۱۳۵۲ کال کې یې دپښتونستان د ورځې په مناسبت له راډیو افغانستان څخه وکړه او د پښتنو په حقه حقوقو یې منطقی او حقوقی رڼا واچوله .

«۲۳۵»

## دصدري ناروغیو مختصره جراحی

لیکونکی : پروفیسور رابرت .آر.شا .

ژباړونکی اومتتبع : دوکتور غلام محمد دستګیر .



خپرونکی : ننګرهار پوهنتون، دطب پوهنځی .

دخپریدو کال : ۱۳۴۶ – ۵۰۰ ټوکه، د پوهنې مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۲۲ سم .

مخونه: ۲۱۷

موضوع : دعصري طب دنویو خپرونو اوانکشافاتو په لړ کې دصدري ناروغیو په هکله، په زړه پورې بحثونه شوې ده، چې په پښتو کې دطب دعلم په باب یوبې جوړی او بې ساری اثر دی .

«۲۳۶»

## د ضمیر آواز

مصنف: نصرالله خان نصر .

مرتب : همیش خلیل.

دخپریدو کال : ۱۹۵۸، لوسړی خل، زرټوکه، شاهین برقي پریس.

کچه : ۱۲ × ۱۹ سم.

مخونه : ۱۴۶

موضوع : د پښتو دبادرده او وطن پرست شاعر نصرالله خان نصر دخوږو اوسلي اشعارو دوهمه مجموعه ده.

## «۲۳۷»

## دعبدالحمید دیوان

ټولوونکی : صدیق‌الله رښتین .

خپروونکې : پښتو ټولنه .

د خپریدو نېټه: د ۱۳۳۱ کال وری، لوسری‌خل، . . . ۱ ټوکه.

کچه: ۱۸×۲۷سم.

مخونه : ۱۵۴

موضوع : دعبدالحمید بابا دښکلو اورنګینو اشعارو مجموعه او

دنازک‌خیالیو اوادبي رنګینیو یوه‌رنګینه‌اوښکلې خزانه، چې یوه‌مقدمه

او حاشیې لري .

## «۲۳۷»

## دعبدالقادر ختټک دیوان

ټولوونکی : عبدالحی حبیبی.

خپروو نکی : دطلوع افغان اداره ، کندهار.

دخپریدوکال : د۱۳۱۷ کال میزان، لوسری‌خل، . . . ۵ ټوکه،

دکندهار ډبرینه مطبعه .

کچه: ۱۶½ × ۲۰سم.



مخونه : ۲۳۷

موضوع : دخوشال خټک دنومیالي زوی عبدالقادر خټک له

صنایعو ، بدایعو، رنګینیو اوخوندونو ډک غزلو نه، رباعي ، قصاید،

قطعات او نور . . .

## «۲۳۹»

## دعشق آواز

تصنیف : میر زمان محتاج .

خپروونکی : رحمان ګل نیوکا کشال.

کچه : ۱۲× ½ ۱۷سم .

مخونه : ۴۸

موضوع : دنعتیه هغو تصنیفو نومجموعه ده چې په خاصو محافلو

کې په‌خواږه وزن ویل کېدای‌شي اوروحاني مجلسونه پری‌تودیږي.

## «۲۴۰»

## دعشق تاو

ویونکی : دلاور خان سیلاب.

خپروونکی : په خپله .

دخپریدوکال اوځای : سرحد الکتریک پرېس پشاور .

کچه : ۱۲ × ۱۷ سم .

مخونه : ۹۶

موضوع : دنوسوړی شاعر داولسي اوسند ریزو شعرونو یوه خوږه خوندوره او په عین حال کې لوسړنی مجموعه ده.

## «۲۴۱»

## دعشق جلوه

ویونکی : محمدشاه ارشاد.

خپروونکی : دمطبوعاتو وزارت 'دافکارو دتنویر ریاست' د کتاب چا پولو مدیریت.

دخپرېدو کال : ۱۳۴۴ ، دولتي مطبعه .

کچه : ۱۶×۲۱ سم .

مخو نه : ۱۰۰

موضوع : دښاغلی ارشاد د اجتماعی ،ادبي اشعارو یوه مجموعه ده چې ځینې اجتماعي مطالب او ادبي موضوعات پکې راغلي دي.



## «۲۴۲»

## دعشق داستان

## قصه

## د

## شرینی او فرهاد

مصنف : ولی محمد افغان.

خپروونکی : رحمان گل ،عواسی کتبخانه .

دخپرېدو ځای : شاهین برقی پریس .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۶۳

موضوع : دشیرینی اوفرهادمشهوره کیسه دپښتوداولسی شاعر له خوا داولسی سندرو دداستان په چوکاټ کې ویله شوې اوځای په ځای یې د کیسې درنگینی لپاره لوبې ،غزلی اولنډۍ پکې راغلی دي .

## «۲۴۳»

## د عصبی جهاز توصیفی تشریح

مؤلف : پوهاند دوکتور سیدعبدالقادر بهاء .

خپرو نکی : دکابل پوهنتون .

دخپرېدو کال اوځای: ۱۳۵۱، دپوهنتون مطبعه .

کچه : ½ ۱۷× ½ ۲۳ سم .

مخونه : ۱۲۷

موضوع : دعصبي جهاز په برخه کې يو گټور طبي اثر دی ، چې خصوصاً په پښتو دداسې علمي آثارو منځ ته را تلل د پښتو په علمي کېدلو کې ستره برخه دراودلای شي .

«۲۴۴»

## دعلم رڼا (رڼا)

ليکونکی : عبدالرؤف نوشهروی.

خپروونکی: يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور .

دخپرېدو کال: ۱۹۶۵ ع.

کچه: ½ ۱۴× ½ ۲۲ سم.

مخونه : ۴۸۸

موضوع : د ساينس او عصري تخنيک په باب په زړه پورې معلومات لري چې په شپاړسو فصلونو کې را ټول شوي دي .

«۲۴۵»

## دغازي سندره

ليکونکی : مير رحمان غازي .



مرتب : هميش خليل.

خوروونکی: يونيورسټي بک ايجنسي .

دخپرېدو کال: د۱۹۵۷ اکتوبر .

کچه: ½ ۱۲× ½ ۱۸ سم .

مخونه: ۱۹۲

موضوع : دښاغلي غازي دریالستي او وطني : حماسي او رزمي اشعارو مجموعه .

«۲۴۶»

## دغالب کلام

پښتو کوونکی : سراج الاسلام سراج.

خپروونکی: دارالادب ، لياقت سټريټ .

دخپرېدو کال: ۱۹۶۹، منظور عام پريس پېښور .

کچه: ۱۲× ½ ۱۷ سم.

مخونه : ۶۴۰

موضوع : دلاهور دمشهور او نامتو شاعر غالب دځو شعرونو پښتو منظومه ترجمه ده چې شعريې متوسط او دترجمه شويو شعرونو په برخه کې داستفادې وړ دی .

«۲۴۷»

## دغروڅوکی

لیکونکی او خورو ونکی: صاحبزاده حمیدالله.

دخپر یدو کال: ۱۹۶۹، اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۴×۲۲ سم.

مخونه: ۹۶

موضوع: دپښتو هغه اولسی سندرې چې راغونډې شوې چې دبیلو بیلو موضوعاتو په باب داولسی شاعرانو له خواو یلی شوې اود خلکو په خولو کی له کلو کلو راهیسی خورې دی، اوس یې په دی سندرو خیړنه کړی ده او بیایې داسندرې دموضوع په وېش راوړی دي اوداولسی ادب او پښتنی فولکلور خیړونکو لپاره په زړه پوری اثر دی.

«۲۴۸»

## دغره ګلونه

لیکونکی: فضل احمدغر.

سرتب: همیش خلیل.

خوروونکی: یونیورستی بک ایجنسی.

دخپریدو کال: ۱۹۵۷ ع، شاهین برقی پریس، پېښور، زړتوکه.



کچه: ½ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۵۰.

موضوع: دفضل احمدغر صاحب دښکلو اشعارو او رباعیاتو رنګینه خزانه او دغر صاحب دلوړو خیالاتو یوه و یرمه او د پښتو اد ب د ګلستا ن دګلونو یوه زړه وړ ونکی ګېډی.

«۲۴۹»

## دغلبیل زړه فریاد

مؤلف: اعظم خان اعظم.

خوروونکی: یونیورستی بک ایجنسی.

دخپریدوځای: منظورعام پریس پېښور.

کچه: ½ ۱۱×۱۸ سم.

مخونه: ۲۳۹

موضوع: دځوان شاعر دځوانو احساساتو، اجتماعی موضوعاتو او عشقی اشعارو یوه خوږه او په زړه پوری مجموعه چې نوی روح او نوی رنګ پکې لیدل کیږي.

«۲۵۰»

## دغنمو وږي

لیکونکي: عبدالروف بېنوا.

خپروونکی : پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۲۵، عمومي مطبعه .

کچه : ۱۳×۱۸ سم .

مخونه : ۳۱

موضوع : داحمد شاه بابا دتاج پوشۍ تاریخي وقایع په یوه ښکلې منظومه کې بیان شوي او د ترکیب بند په شکل کې ویل شوي دي، چې یو ښکلی تاریخي منظوم اثر دی .

## «۲۵۱»

## دغني پلوشې

لیکوال : خان عبدالغني خان .

خپروونکی : پښتو ټولنه — کابل .

دچاپ نېټه : ۱۳۳۹ ش کال، دولتي مطبعه .

کچه : ۱۹×۲۸ سم .

مخونه : ۲۳۶

موضوع : دفخر افغان د مشر زوی خان عبدالغني خان د یو لړ حیاتي، فلسفي، حماسي، انتقادي، اصلاحي او کومېډي، نوې او رندانه اشعارو یوه نوې او ښکلې مجموعه، چې واقعاً په پښتو ادب کې یوه نوې اضافه ده .



## «۲۵۲»

## دغیرت چیغه

لیکوال : اجمل خټک .

خپروونکی : یونیورسټي بک ایجنسي پېښور .

دخپرېدو نېټه : ۱۹۵۸ ع — ۱۵۰۰ نسخې، منظور عام برقي پریس پېښور، روسبي محل.

کچه : ۱۶×۲۰ سم .

مخونه : ۲۳۲

موضوع : دانقلابي او ملي اشعارو یوه رنګینه او ښکلې ټولګه چې په خپله لیکوال یې : «دژوبل احساس یو څو څرېکې، د زخمي غیرت یو څو غورځنګونه، دسرې وینې څو ترم څاڅکي، داولسي جونګړې یو څو شنه اوښکې، د غربت یو څو ترخې تجربې، دسرمایې یو څو ناکړدې، دغاوره اقتدار یو څو رنډې لتې او ور سره د پښتو نولي احساس» بولي .

## «۲۵۳»

## دفضا تسخیر

## داسلام په نظر کې

مؤلف : عبدالاحد وحید .

کچه : ½ ۱۴ × ۲۰ سم.

مخونه : ۴۶

موضوع : سپوږمۍ ته تګ او په سیاراتو کې د بشر د ژوند موضوع، د دین او نوي علم په رڼا کې په دقیق او عالمانه ډول څېړل شوې ده.

## «۲۵۴»

## د فکر یون

لیکوونکی: مولانا عبدالقادر.

ټولوونکی: عبدالرحمن شباب.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي.

د خپرېدو وکال: ۱۹۶۴ع، زر ټوکه، منظور عام پرېس پېښور.

کچه: ۱۷ × ۲۱ سم.

مخونه : ۲۸۶

موضوع : په مختلفو موضوعاتو لکه په رسم الخط، ثقافت شعراو او شاعرۍ باندې د مولانا عبدالقادر د لیکل شوو مقالو یو مجموعه ده، چې د استقلال وخت په وخت د ډیلي په «نن پرون» او د پښتو اکېډیمۍ، د «پښتو» په مجلو کې خپرې شوې دي.



## «۲۵۵»

## د قرآن پیغام

لیکوونکی : میاں سید رسول رسا.

خپروونکی : یونیورسټي بک ایجنسي.

د خپرېدو کال : نه لري، منظور عام پرېس پېښور.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۱۸۲

موضوع : د څو شعرو نونه ورو سته په یوه اوږده مسدس کې د اسلام پخوانی حالات او اوسنی حالات څېړل شوی او ښه څه چې د قرآن سره برابر دی ستایل شوی او نور غندل شوي دي.

## «۲۵۶»

## د قرآن ژړا

لیکوونکی : سمند ردید رښو.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد، قصه خوانی پېښور.

د خپرېدو کال : ۱۹۶۰ع (دریم ځل) ۵۰۰ ټوکه، منظور عام پریس پېښور.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۲۸۶

موضوع :«په پښتو ژبه د رزم او بزم اولنی نظم » په یوه اوږده مسدس کې د پخوانو مسلمانانو او پښتنو یاد او د قرآن گیلې لیکل شوې. یو انتباهي نظم دی، په پای کې څو رباعیگانې هم ورسره ملې شوې دي.

## «۲۵۷»

## د کاظم شیدا دیوان

مدون ،مصحح او مقابله کوونکی: عبدالرؤف بینوا.

خپروونکې: پښتو ټولنه ،کابل.

دخپرېدو کال: د ۱۳۳۰ ـ ز سری ، د کابل عمومی مطبعه، زر ټوکه .

کچه: ۱۶×۲۰ سم.

مخونه: ۲۲۱

موضوع: د پښتو د نازکخیال شاعر کاظم شیدا د نازکو افکارو، تشبیهاتو او استعاراتو نه ډکو اشعارو ښکلې او رنگینه مجموعه.

## «۲۵۸»

## د کسې د لمنې

## پښتانه لیکوال

مؤلف: سیال کاکړ.



خپروونکې: ادبي دنیا ـ کوټه.

دخپرېدو کال: اکتوبر ۱۹۷۴ ع.

دخپرېدو ځای: زمانه پرنټنګ پریس کوټه.

کچه: ۱۷ × ۲۵ سم.

مخونه: ۲۲۴

موضوع: په دې اثر کې د سهیلي پښتونخوا د مړو او ژوندیو ۳۶ تنو شاعرانو او لیکوالو سوانح او وینا راغلې او هم د ځینو کسانو د ژوند په باب په زړه پورې انتقادي خبرې شوې او د ځینو شاعرانو او لیکوالو عکسونه هم ورسره مله دي.

## «۲۵۹»

## د کسې د لمنې

## پښتو ژورنالیزم

مؤلف: سیال کاکړ.

خپروونکی: سلیم بکډپو.

دخپرېدو کال: ۱۹۷۳ ع.

دخپرېدو ځای: اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۱۴۴

موضوع: په دې اثر کې دسهیلي پښتو نخوا دسوقوتوخپرو نو لکه جریدو، مجلو او کلنیو معرفي راغلې ده او ددی ټولو خپرونو د خپرېدو موده او د فعالیت ډول پکې څرګند شوی، همدا راز په دې اثر کې د پښتو صحافت په باب هم خبرې شوې او په کتاب کې ټولې معرفي شوې خپرونې پنځلس کېږی.

## «۲٦۰»

## د کندهار مشاهیر

لیکونکی: محمد ولی زلمی.

خپروونکی: داطلاعاتو او کلتور (وزارت).

دخپرېدو کال: ۱۳۴۹ ش.

کچه ۱۷ × ۲۵ سم.

مخونه: ۳۳۰

موضوع: د کندهار اوشاوخوا دصوفیانو، عارفانو او مزارونو په باب لنډ معلومات پکې وړاندې شوي دي.

## «۲٦۱»

## د کورنیکمرغی

لیکونکی: علی فکری.



ژباړونکی: عزیز الرحمن سیفی.

خپروونکی: دمیرمنو ټولنی ریاست.

دخپریدو کال: ۱۳۳۹، زرتوکه، دولتی مطبعه.

کچه: ½ ۱۷ × ½ ۲۳ سم.

مخونه: ۱۵۴

موضوع: د کورنی ژوند اوخصوصاً کور جوړولو په هکله، چې دواده ټول موضوعات پکې دی، یو پهزړه پورې بحث دی په دی کتاب کې سربیره پردی چې دواده په ټولو اړخونو او دواده کولو په هکله معلومات وړاندی شوی، دنمونی په توګه دواد، په باب ځینی تاریخی او اسلامی روایات او هم د ځینی هیوادونو دونهبودل شوی دی.

## «۲٦۲»

## دګلوڅانګه

تصنیف: عظیمخان عظیمسوسند، صادق آبادی.

ناشر: حاجی فضل احد.

د چاپ ځای: نلری.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۸۰

موضوع : دعظیم خان عظیم داولسي ډوله اجتماعي شعرونو یوه مجموعه ده چې د پښتو اولسي ادب په څېړنه کې استفاده ترې کیدای شي .

## «۲۶۳»
## دګلو خزانه

مصنف : خان محمد جان .

خپروونکی : په خپله مصنف .

دخپریدو ځای : پرنټنګ ایجنسي ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۷۹

موضوع : دلوبو ، داستانونو اودشاعر داولسي غزلو مجموعه ده .

## «۲۶۴»
## دګورکي ادبي لیکونه

پښتو کوونکی : م . حسن . . .

خپروونکی : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال : ۱۳۳۹ ، دولتي مطبعه ، ۱۵۰۰ ټوکه .

کچه : ۱۵ × ۱۹ سم .



مخونه : ۳۶

موضوع : دشوروي اتحاد داوی اوریالیست لیکوال ماکسیم ګورکي هغه ادبي لیکونه دي ، چې د روسي نامتو لیکوالو : انتون چخوف لیو تولستوی ، فیوډور جالیاپان ، ج . ج والز ، رومن رولان ، ستیفن زوایګ ، م . م پریشوین ، جاپي ګین ، ن . ك کپروت ، سکایاتواستوی تتمرباکوف ، او نورو په نامه یې لیکلي دي .

## «۲۶۵»
## دلوی مخلص کلیات

مهتمم اومصحح ( ؟ ) : غلام محی الدین ایوبي .

خپروونکی : داحمدشاه بابا د کتاب چاپولو مؤسسه .

دخپریدو کال اوځای : ۱۳۵۱ ، دکندهار دولتي مطبعه .

کچه : ۱۴ × ۲۰ سم .

مخونه : ۲۱۲

موضوع : دکندهار دلوی او مخلص شاعر د غزلو ، څلوریزو او نورو متفرقو شعرونو مجموعه ده چې دلوی سړي خل لپاره خپره شوې ده .

## «۲۶۶»
## دلی او شهي

ویونکی : صدر خان خټك .

مقدمه : له‌خیال بخاری .

خپرووونکی : پښتوا کیډیمی ، د پښتو ریونیورسټی .

دخپریدو کال : نه لري ، پبلک آرټ پریس .

کچه : ½ ۱۶ × ½ ۲۰ سم .

مخونه : ۱۳۲

موضوع : ددلی او شهي مشهو ره ملي او فولکلوري کیسه‌ده، چې صدر خان ختك په ۱۲ هجري پیړی کې په‌خواږه اوروان نـظـم منظومه کړي ده .

## «۲۶۷»

## دمحلو نو خوا کی

لیکونکی: طاهر اثر افریدی.

خپرووونکی : سلیم راز .

دخپریدو کال اوځای : ۱۹۷۱ ، شاهین برقی پر یس پیښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۵۶

موضوع : دڅورلسو لنډو کیسو مجموعه‌ده چې د خلکو ژوند پکی رانغښتل شوی او طبقاتی سره‌لیری‌و الی ته‌پکی گوتې‌نیولی‌شوې‌دي.



## «۲۶۸»

## دمحمد عبقریت

لیکونکی : عباس محمود العقاد مصری .

ژباړونکی : محمد گلاب ښشار .

خپرووونکی : دمطبوعاتو دمستقل ریاست دلارښوونی مدیریت .

دخپریدو نیټه: د۱۳۴۱ کال اسد، ۰. ۵ټوکه، دولتی مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۲۰ سم .

مخونه : ۱۰۱

موضوع : داسلام دلوی پیغمبر حضرت محمد(ص) دعبقری ژوندانه حالات ، چې ستر عناوین یی دادي :

« دمیلاد علامی — د داعی عبقریت ـ دمحمد (ص) عسکری عبقریت ـ دمحمد سیاسی عبقریت ـ دمحمد (ص) اداری عبقریت دمحمد (ص) ملگر تیا ـ دمحمد(ص) ریاست، محمد (ص) او تاریخ»

## «۲۶۹»

## د مرحوم مخلص رباعیات

مهتمم او مصحح (؟) : غلام محی الدین ایوبي.

دخپریدو ځای او کال: دطلوع افغان مطبعه، ۱۳۳۲

کچه: ۱۶×۲۰ سم.

مخونه: ۹۲

موضوع: د کندهار د نامتو شاعر مخلص د خوندورو غلویزو مجموعه ده چې د لومړي ځل لپاره په کندهار کې خپره شوې ده.

«۲۷۰»

## دمروتو کسرونه

حواشي او تصحيح: عبدالرحیم مجذوب مروت.

دیباچه: میر شرف خان وزیر.

خپروونکې: پښتو اکېډیمي، د پېښور پوهنتون.

دخپرېدو ځای: پبلک آرټ پرېس، پېښور، ۱۹۵۹

کچه: ½۱۶× ½۲۰ سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: د مروتو د کام هغه محلي سندرې دي چې د خپلو پېغلو نیکونو په باب یې په مخصوص طرز ویلې او د پښتو په اولسي ادب کې یو ځانګړی باب دی.

«۲۷۱»

## د ملغلرو امیل

ویونکی: قیام الدین خادم.



خپروونکی: د مطبوعاتو ریاست.

دخپرېدو کال: ۱۳۳۲، پنځه سوه ټوکه، د کابل عمومي مطبعه.

کچه: ۱۶×۲۱ سم.

مخونه: ۱۱۹

موضوع: د خادم صاحب د اصلاحي، انتباهي، اجتماعي او عشقي اشعارو د ملغلرونه جوړ شوی هغه امیل دی چې په هره دانه یې پښتني آب شته او د پښتو د ادب دنا وې د سینګار لپاره جوړ شوي دي.

«۲۷۲»

## دملګرو ملتو دمؤسسې په باب سل پوښتنې

خپروونکی: د مطبوعاتو مستقل ریاست، د کورنیو خپرونو لوی مدیریت، د جوایزو او کتاب چاپولو څانګه.

دخپرېدو کال: د ۱۳۴۱ کال د لړم ۲، دولتي مطبعه.

کچه: ۱۵×۲۲سم.

مخونه: ۲۶

موضوع: د ملګرو ملتو د اجراآتو او کارونو په باب سل پوښتنې او سل ځوابونه پکې خپاره شوي دي او په دې باب د علاقمندانو لپاره یو په زړه پورې او ګټور اثر دی.

«۲۷۳»

## د مینې داغ

مصنف : غریب گل کسکر.

ناشر : حاجی فضل احد .

دخپرېدو ځای : منظور عام پرېس، پېښور، زرتبو که، لومړی ځل.

کچه : ۱۲×۱۸ سم.

مخونه : ۱۱۲

موضوع : داولسی شعرونو دبېلو-بېلو ډولونو یوه ګلد سته ده، چې متنوع اولسی اصنا ف لري او دخلکو د علاقې ور عشقي او عرفاني او فولکلوري موضوعات پکې بیان شوي دي.

«۲۷۴»

## دناز خندا

ویونکی: کمالزی شاعر .

ناشران : حاجی فضل احدوحاجی عبدالرحیم اینډسنز .

دخپرېدو کال : نه لري، منظو ر عام پرېس، پېښور.

کچه : ۲۲×۱۸ سم .

مخونه : ۳۸



موضوع : داولسی شعرونو یوه مجموعه ده چې لوبې، رباعیګانې کیسې، چار بیتې او داولسی شعرونو نورډولونه پکې راغلي، چې داولسی ادب په څېړنه کې استفاده ترې کېدای شي .

«۲۷۵»

## دننني پښتو ژبې احصائیوی

## قاموس

مؤلف: دکتور دولت محمد . . . .

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال : ۱۳۵۳

دخپرېدو ځای: دولتی مطبعه، دآفسیټ څانګه.

کچه : ۱۵×۲۰ سم .

مخونه : ۵+۲۱۷=۲۲۲

موضوع : دزیات استعمال او کم استعمال له مخې دپښتو دلغتونو احصائیه ده چې د «کمپیوتر» په مرسته تر لاسه شوې ده، دا یو اختصاصی اثر دی چې د ژبې د زده کړې د کتابونو له مؤلفینو سره مرسته کولای شي.

## «۲۷۶»
## د نور ه‌دین چار بیتي

مرتب : نصرالله خان نصر.

خپرونکی : پخپله مرتب.

د خپرېدو نېټه : ۱۹۵۸ ع کال لومړی ځل زرتوکه شاهین برقي پريس، پېښور.

کچه : ۱۲ × ۱۹ سم.

مخونه : ۱۴۴

موضوع : د پښتو د نامتو اولسي شاعر نوره دین د خوندورو چاربیتو مجموعه او د ده بیوګرافي ده چې نصرالله خان نصر وروسته له ډېرو پوښتنو او پلټنو لیکلې او را ټولې کړې دي.

## «۲۷۷»
## د واصل روښاني څو شعرونه

د : پوهاند عبدالشکور رشاد په مقدمه او تصحیح.

خپرونکي : پښتو ټولنه.

د خپرېدو کال : ۱۳۵۳ «د بایزید روښان د بین المللي سیمینار په ویاړ»

د خپرېدو ځای : دولتي مطبعه.



کچه : ۱۱ × ۱۶½ سم.

مخونه : ۸+۴۸ = ۵۶

موضوع : د پښتو د نامتو شاعر واصل روښاني چې وینا یې تر اوسه ورکه وه، د تصوفي شعرونو څو ښکلې بېلګې او د ده هغه شعرونه چې تر اوسه له یوې یوازینۍ نسخې څخه لاس ته راغلي دي.

## «۲۷۸»
## دویم کتاب د پښتو

مؤلف : صالح محمد.

ناشر : وزارت معارف.

د خپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۷ هـ ق، د کابل د ماشینخانې مطبعه.

کچه : ۱۴ × ۱۹½ سم.

مخونه : ۸۰

موضوع : د حبیبیې د مدرسې د زده کوونکو لپاره د پښتو درسي کتاب دی، د مکتب، مور او پلار او نورو په باب لنډ لنډ مطالب پکې راغلي دي لنډې کیسې پکې راوړل شوي او ځینې شعرونه پکې خوندي شوي دي چې د ټولو په برخه کې د زده کوونکو سویه په نظر کې ده.

«۲۷۹»

## دهند اروپایی اوسامی

### ژ بوویشنه

لیکونکی : کوثر غور یاخیل.

خوروونکی : نظام ستیشنری مارټ .

دخپریدوکال : ۱۹۵۹ ع .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه: ۱۵۲

موضوع : په‌دی اثر کی دپښتو تکړه‌او نا متوفیلا لوجست دهند اروپایی‌اوسامی‌ژبو ویښنه دژ بپوهنی ، جغرافیې او اشتقاقی تاریخ په رڼا کی کړېده او دیرنوی نظریات یی میدان ته را ایستلی دي .

«۲۸۰»

## دهندسفر

لیکو نکی : صدیق‌الله رښتین.

خپروونکی : پښتوټولنه .

دخپریدوکال : د ۱۳۳۳ کال زسری ، روسبی خـل -



دولتی مطبعه .

کچه : ۱۶×۲۰ سم .

مخونه : ۱۸۲

موضوع : دښاغلی‌رښتین دعربستان، ایران ، هند او پاکستان‌دسفر هغه گذارشات دی ، چی د پخوانیو او او سنیو سفر نامه‌لیکو نکـو غوندې ، جغرافیایی ، تاریخی‌او یولړ نورمعلومات لری‌او هم یی د ځینی هوتلونو خاطرې اوخواږه پکی خوندی کړی دی .

«۲۸۱»

## دیوان‌احمد

### المشهور به
### دیوان کلاچی

لیکونکی: مو لوی احمد .

خپرووڼکی : سیاحاجی‌محمد عبدالخالق اوفضل‌مالك .

دخپریدوکال :۱۳۷۵ ق .

کچه : ۱۶×۲۳سم .

مخونه : ۱۰۳

موضوع : دمولوی احمد داشعارو مجموعه ده چې‌په عشقی شعرونو

سر بیره اجتماعي اوتاري یخی شعرونه هم لري .

## «۲۸۲»

# دیوان احمد شاه ابدالی

ویونکی : لوی احمدشاه بابا .

ترتیب اوتدوین : دقاضی هدایت الله .

خپروونکی : پښتوا کیډیمی ، دپیښوریونیورسټی .

دخپریدو کال : ۱۹۶۳ ع دچاپ شمیر زر ټوکه - پبلك آرټ پریس پیښور .

کچه : ۱۶ × ۲۰ سم .

مخونه : ۲۳۶

موضوع : دلوی احمدشاه بابادخوږوشعرونو مجموعه ده چې له دې نه مخکې په کابل کې داستاد حبیبي په زیار دلوی احمدشاه بابا په نامه خپره شوې ده ، خودادې دیوان له مقدسې څخه ښکاري چې دادیوان دیوې بلې مکملې قلمي نسخې څخه نقل شوی او دکابل تر چاپ نه یې اشعار ډیر دي .



## «۲۸۳»

# دیوان اختر محمد

مسمی به

# مرغوب الخواص

لیکونکی : اختر محمد .

خپروونکی : ملاجان محمد او حافظ فتح محمد کندهارد کتابوتاجران.

دخپریدو کال : ۱۳۵۱ ه ق مسلم پرنټنگ لاهور .

کچه : ۱۳×۱۹ سم .

مخونه : ۴۸

موضوع : داختر محمد دمغلقو او پیچیده اشعارو یوه کوچنی مجموعه ده .

## «۲۸۴»

# دیوان بیدل

ټولوونکی اوخپروونکی : همیش خلیل .

دخپریدو کال : ۱۹۵۷ اکتوبر ، رومبی ځل .

زر ټوکه ، شاهین برقي پریس ، پیښور .

کچه : ۱۳×۱۹ سم .

مخونه : ۲۷۲

موضوع : دپښتو دیوه تکړه او ناز کخیال شاعر « بیدل » دښکلو او رنگینو اشعارو خزینه، چې دا اشعار ډیر کلونه په تیاره کې پټ ؤ نو ځکه به پښتو محققینو کله عبدالقادر خان خټک او کله حمید بابا ته د پښتو بیدل وایه، خود پښتو له رښتینې بیدل نه بې خبره وو څو چې د پښتو درانه محقق، همیش خلیل دده نوم او کلام له تیارې څخه راوایست او د پښتنو سترگې یې پرې روښانه کړې.

## «۲۸۵»

## دیوان بی نظیر

تصنیف: باجوړی موچي د صوات .

ناشر: میا حاجی محمد عبدالخالق.

دخپریدو کال: نه لري، مقبول عام پریس لاهور.

کچه: ۱۹×۲۶ سم .

مخونه: ۶۴

موضوع: د پورتنی شاعر پوشمیر نعتیه او تصوفی شعرونه دي .

## «۲۸۶»

## دیوان حافظ الپوری

ټولوونکی او خپروونکی: قاضی محمد عبدالسلام.



دخپریدو کال: ۱۹۶۰ع/۱۳۵۹ه قدوهم ځل- زرټوکه، مجازي پریس لاهور .

کچه: ۱۶× $\frac{۱}{۲}$ ۲۴ سم .

مخونه: ۱۷۶

موضوع: د پښتو دصوفی شاعر حافظ الپوري دصوفیانه او عارفانه اشعارو یوه ښکلې او رنگینه مجموعه .

## «۲۸۷»

## دیوان حسین

ټولوونکی او خپرونکی: همیش خلیل.

دخپریدو کال: ۱۹۵۸ع لومړی ځل زرټوکه، پبلک آرټ پریس پېښور.

کچه ۱۳×۱۹ سم .

مخونه: ۵۲۰

موضوع : د پښتو د تکړه شاعر حسین چې په اغلب گومان یې داورنگزیب په عصر کې ژوند کاوه، او د رحمن بابا همعصریې گڼلای شو، د رنگینو اشعارو مجموعه چې د لومړی ځل لپاره چاپ ته سپارل شوې او له ورکې نه ژغورل شوې ده .

## «۲۸۸»

# دیوان خواجه محمد بنگښ

ویونکی: خواجه محمد بنگښ.

دیباچه : پریشان خټک.

خوروونکی: پښتو اکیډیمی، د پېښور یونیورسټی.

دخپریدو کال: ۱۹۶۵ سپټمبر، دچاپ شمېر زرټوکه، پبلک آرټ پریس پېښور.

کچه: ½۱۶ × ½۲۰ سم.

مخونه: ۱۵۲

موضوع: د دوولسمی هجری پیړی د تکړه شاعر خواجه محمد بنگښ د اشعارو دیوان دی چی د دې نه مخکې یې چاته له خو شعرو نونه پرته نور نه وو معلوم، د لومړی ځل لپاره یې ټول شعرونه په دې دیوان کی خپاره شوی او د پښتو ادب دا تاند گلونه خوندي ساتل شوي دي.

## «۲۸۹»

# دیوان
# دمیاجناب کاکاخیل

پېشکش د: میا ابو تراب کاکاخیل.



ناشر: ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۷۰، منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ۱۷ × ۲۱ سم.

مخونه: ۳۲۸

موضوع: دالفبا په ترتیب دمیاجناب کاکاخیل دغزلو مجموعه ده، چی شعری یې خوږ او د پخوانیو شاعرانو په پله روان دی.

## «۲۹۰»

# دیوان سعید

مرتب: همېش خلیل.

خپروونکی: نه لري.

دخپریدو کال: د۱۹۵۷ع جون، زرټوکه(*).

کچه: ½۱۲ × ½۱۸ سم.

مخونه: ۳۰۴

موضوع: دسعید بابا داشعارو خزینه ده، هغه بابا چې تر دی وخته سوړ ورېره نا اشنا وو.

(*) دا دیوان د دارالتصنیف له خوا په ۱۹۶۴ع کال یو ځل بیا هم له لږ څه زیاتونو سره چاپ شوی دی.

«۲۹۱»

## دیوان سکندر خان

ویونکی: سکندر خان.

مقدمه: د دوست محمد کامل مومند.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد.

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۶۲، دوهم ځل، ۵۰۰ ټوکه، حمیدیه پریس.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۳۵۲

موضوع: د پښتو دیوه نامتو شاعر سکندر خان خټک د اشعارو مجموعه ده چې د متن خپرونې د نویو اصولو په رڼا کې خپور شوی دی.

«۲۹۲»

## دیوان سید ابو علیشاه

ویونکی: سید ابوعلیشاه.

خپروونکی: اسلامی کتب خانه، قصه خوانی پشاور ښهر.

د خپریدو کال: ۱۹۵۱ برقی پریس پشاور، زر ټوکه.

کچه: ۱۶×۲۴ سم.

مخونه: ۱۸۴



موضوع: د سید ابوعلیشاه غزلونه پکی راغونډ شوي دي او د ادبي تاریخ په لیکلو کی استفاده ترې کیدلای شي.

«۲۹۳»

## دیوان عبدالحمید

ویونکی: عبدالحمید مومند.

حاشیې: د ملا عبدالغفار کندهاری.

خپروونکی: د کندهار د کتابو خوتنه تاجران.

د خپریدو ځای او کال: اسلامی سټیم پریس لاهور، ۱۹۱۳ع/۱۳۳۱ هـ ق.

کچه: ۱۶× ½ ۲۴ سم.

مخونه: ۱۳۶

موضوع: د حمید بابا د دیوان تر ټولو نه بشپړه نسخه ده چې تر اوسه خپره شوې او د کابل چاپ او پېښور چاپ تر نسخو یې شعرونه زیات دي.

«۲۹۴»

## دیوان عبد الرحمن

ویونکی: رحمان بابا.

تمهید: د مولانا عبدالقادر.

خپروونکی: پښتو اکېډیمی، د پېښور یونیورسټی.

دخپرېدو کال: ۱۹۶۳، پبلک آرټ پریس پېښور، زرتهو که.

کچه: ½ ۱۶×۲۰ سم.

مخونه: ۲۸۵

موضوع: د پښتو د لوړاو صوفي شاعر او لېباد رحمن بابا د دیوان نسبتاً بشپړه نسخه ده چې په دقت سره راغونډه شوې او خپره شوې ده.

## «۲۹۵»
## دیوان عبدالعظیم

مقدمه: د نصرالله خان نصر.

چاپونکی او خوروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد، پېښور.

د خپرېدو ځای او کال: ۱۹۵۹، منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ½ ۱۵ × ۲۴ سم.

مخونه: ۲۰+ ۱۳۲ = ۱۵۲

موضوع: د پښتو د یوه پخوانی شاعر عبدالعظیم رانیزی، د دیوان وروستنی او دستونو د چاپولو په اصولو برابر چاپ دی، چې په پای کې د لغاتو فرهنګ هم ور کړ شوی دی.

## «۲۹۶»
## دیوان
## عبدالقادر خان ختک

مرتبه: همېش خلیل.



خپروونکی: دارالتصنیف پېښور.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹۷۲، منظور عام پریس پېښور (اوسړی چاپ).

کچه: ۱۲ × ½ ۱۷ سم.

مخونه: ۴۰۴

موضوع: د پښتو د خوږژبی او نامتو شاعر عبدالقادر خان ختک د اشعارو مجموعه ده، چې د خوقلمی نسخو له مخې په ډېر اهتمام او دقت خپره شوې ده.

## «۲۹۷»
## دیوان عظیم

خپروونکی: حاجی محمد عبدالخالق، د پېښور د کتابو تاجر.

دخپرېدو کال: نه لري، آفتاب عالم پریس لاهور.

کچه: ½ ۱۵×۲۴ سم.

مخونه: ۱۰۰

موضوع: د پښتو د نامتو شاعر عبد العظیم رانیزی، د عشقی او عرفاني اشعارو رنګینه مجموعه.

## «۲۹۸»
## دیوان علی خان

ویونکی: علی خان.

شرح اومقدمه : سیدتقویم الحق کاکاخیل .

خپروونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد، پېښاور .

دخپرېدو کال اوځای : ۱۹۶۵ع، منظور عام پریس پېښور .

کچه : ۱۶× ۲۰ سم .

مخونه : ۱۴۸

موضوع : دعلي خان دخوږو اوخوندورو اشعارو مجموعه ده چې دستونو دنویو اصولو په رڼاکی خپره شوې ده .

«۲۹۹»

## دیوان

## کاظم خان شیدا

ترتیب اوتدوین : همېش خلیل .

خپروونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد، پېښور .

دخپرېدو کال اوځای : ۱۹۶۵ع، منظور عام پریس پېښور .

کچه : ۱۶× ۲۱ سم .

مخونه : ۳۳۲

موضوع : دپښتو دنازکخیال شاعر کاظم خان شیدا داشعارو دیوان دی، چې دځو نسخو له مخې ترتیب اوتدوین شوی دی .



«۳۰۰»

## دیوان کریمداد

ویونکی : کریمداد .

دیباچه : خیال بخاري .

خپروونکی : پښتو اکیډمي، پېښور یو نیورسټي .

دخپرېدو کال : ۱۹۶۴، پبلک آرټ پریس، زر نسخې .

کچه : ½ ۱۶ × ۲۱سم .

مخونه : ۹۹

موضوع : دپښتو دیوه نوموړکي روښاني شاعر داشعارو مجموعه ده، چې له دې نه مخکې په تذکرو کې چېرته نه و معرفي شوی .

«۳۰۱»

## دیوان معزالله

مرتب : همېش خلیل .

دخپرېدو کال : د۱۹۵۷ ۱ کتوبر، زر ټوکه، شاهین برقی پریس پېښور (*) .

---

(*) دا دیوان یوځل بیاهم په ۱۹۶۱ع کال دد ارالتصنیف له خوا د همېش خلیل په وسیله له لازمو زیاتونو سره چاپ شوی دی .

کچه : ۱۳ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۴۸

موضوع : دمعزالله خان مومند داشعارو ، افکارو او خیالاتو مجموعه ده ، چې په پای کې دلغاتو یوفرهنګ هم لري .

«۳۰۲»

## دیوان میا نعیم

ویونکی : میا نعیم .

دیباچه ، ترتیب اوتدوین له : خیال بخاري .

خپروونکی : پښتو اکاډیمي ، دپېښور یونیورسټي .

دخپریدو کال : ۱۹۶۴ ع ، دوهمې چاپ ، زرټوکه ، شاهین پرنټنګ پریس پېښو ر .

کچه : ½ ۱۶ × ½ ۲۰ سم .

مخونه : ۱۵۶

موضوع : دپښتو دیوه پخوانی شاعرمیان نعیم داشعارو دیوان دی چې له دې نه پخوا یې له خوشعرونو پرته ، نورپه لاس کې نه وو اودا دپښتو ستنو دچاپ په برخه کې یولوی قدم ګڼل کیږي .

«۳۰۳»

## دیوان میرزاخان انصاري

ټولوونکی : همیش خلیل .



خپروونکی : دا رالتصنیف ، بابوحیدر روډ ، پېښور ښهر .

دخپریدو کال : ۱۹۵۹ ع ، دوهمې چاپ ، زرټوکه ، پبلک آرټ پریس پېښور .

کچه : ۱۳ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۵۶

موضوع : دپیر روښان دپیرو میرزاخان انصاري دتصوفي اشعارو ښکلې او رنګینه خزینه .

«۳۰۴»

## دیوان نصر

لیکوونکی : نصرالله خان نصر .

ناشر : رحمن نیوز ایجنسي ، پېښور .

دخپریدو کال : د ۱۹۵۷ د جنوري ۶ ـ دوهم چاپ ـ د ۱۹۶۱ کال جنوري ، زر ټوکه منظور عام پریس پېښور .

کچه ½ ۱۲ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۰۸

موضوع : دنصرالله خان نصر د اصلاحي ، انتقادي ، کومیډي ، اجتماعي او عشقي اشعارو مجموعه .

«۳۰۵»

## د یوان هجری

ټولوونکی : همېش خلیل .

خپروونکی: نه لری.

د خپرېدو کال : د ۱۹۵۸ سی ، او سبی خل ، زر ټوکه ، شاهین برقی پرېس پېښور .

کچه: ½ ۱۲ × ½ ۱۸ سم .

مخونه: ۶۰۸.

موضوع : د پښتو ادب د پلار خوشالخان خټک د نو میالی زوي، اشرف خان هجري دیوان دی، چې ښکلی او خواږه شعرونه لری.

«۳۰۶»

## دیو ترابان او بیربل نامه

ویونکی: ابراهیم شاه.

خپروونکی : حبیب برادرز .

د خپرېدو ځای: پبلک آرټ پریس، پښاور.

کچه : ۱۶ × ۲۶ سم.

مخونه : ۱۴

موضوع : د ترابان د یو یوه فولکلوري کیسه او د بیربل خند وونکې



لنډې لنډې کیسې دي ،چې لومړی کیسه د نظم په اوږده مثنوي او دوهمه په نثر لیکله شوې ده.

«۳۰۷»

## ډرامه

### تاریخ-تنقید-فن

لیکوونکی: محمد افضل رضا .

خپروونکی: عظیم پبلشنګ هاوس ، پېښور.

د خپرېدو کال او ځای :۱۹۶۵ ،منظورعام پرېس ،پېښور.

کچه :۱۲ × ½ ۱۸ سم .

مخونه:۱۹۵

موضوع : په ډرامه او ډرامه لیکنه تاریخي، تنقیدي او فني بحث شوی او د پښتو ډرامه لیکوونکو لپاره یې لیار هواره کړې ده او په پای کې یې د پښتو یوه تاریخي ډرامه ،چې د ډرامې په اصولو سمه لیکله شوې د نمونې په ډول وړاندې کړې ده.

«۳۰۸»

## ډک جام

لیکوونکی: فضل الرحیم ساقی .

خپروونکی : د« رهبر » مجلې اداره .

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۵۷ ،منظور عام پرېس ، پېښور.

کچه : ۱۲ × ۱۷ ½ سم.

مخونه : ۲۹۰

موضوع : دساقی صاحب دملي خوندو رو شعرونو مجموعه ده ،چې د پر ملی مطالب پکښې نغښتل شوی او خصوصاً دپښتونستان ملی مطالبه او دپښتونستان حقوق په ډاگه پکې غوښتل شوي دي .

«۳۰۹»

## ډیر غم

لیکونکی : جمال دگنداب شاعر.

خپرونکي : حاجي عبدالمنان او محمد اجمل دااسلامی کتب خانی مالکان .

دخپرېدو کال : نه لري .

کچه : ۱۲ × ۱۷ سم .

مخونه : ۹۶

موضوع : د سوسن خان او شیرینی د ناکامی مینی ملي کیسه یې په اولسی نظم او لنډیو کې اچولې او په ۱۶ برخو کې یې ترتیب کړی ده.



«۳۱۰»

## راز

ویونکی : لطیف الله جان عاصی .

ناشران : حاجی فضل احد او حاجی عبدالرحیم .

دخپرېدو ځای : سرحدی پرېس پېښاور.

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۴۶

موضوع : داولسی اشعارو دمختلفو ډولونو یوه په زړه پورې مجموعه ده ،چې د پښتو د اولسی شعرونو زیاتره ډولونه ،لکه : چاربیتې، لوبې ،رباعی گانې او نور پکې راغلی دي ،مطالب یې پند ،نصیحت او عرفانی افکار دي.

«۳۱۱»

## رحمان بابا

لیکونکی : کامل مومند.

خپرونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد .

دخپرېدو کال : ۱۹۵۸ ،منظور عام پرېس ،پېښور ، ۵۰۰ توکه.

کچه : ۱۴ ½ × ۲۲ ½ سم .

مخونه : ۲۹۵

موضوع :د رحمان بابا په ژوند ،افکارو ، خیالاتو،اشعارو او دژوند په نورو اړخونو باندې یوه دقیقه ،عالمانه او ژوره او بې جوړې څېړنه ده ، چې تراوسه په دې برخه کې شوې ده .

«۳۱۲»

## رسالهٔ موعظه

پښتو کوونکی :ملا غلام جان پښتون .

دخپرېدو ځای او کال :مطبع دار السلطنهٔ کابل، ۱۳۱۱ هجري قمری .

کچه : ۱۳ × ۲۱ سم .

مخونه : ۱۵۶

موضوع : ددینی مسایلو یوه مجموعه ده چې دامیر عبدالرحمن خان په وخت کې خپره شوې او مسایل یې د ده تر نظر لاندې تدوین شوی دي ، دااثر د پښتو له هغو لومړنیو چاپی آثارو څخه دی، چې په افغانستان کې خپور شوی دی.

«۳۱۳»

## رشید البیان

لیکوونکی : ملا عبد الرشید .

خپروونکی :گهړ ک سنگهه د پېښو ر د قصه خوانی دبازار دکتابو تاجر .

د خپرېدو کال :نه لري ،مطبع منظور عام لاهور .

کچه : ۱۶ × ۲۴ سم .

مخونه :۵۶

موضوع :یودینی منظوم اثر دی، چې په پښتنی سیمو کی په اوسنی تعلیمی نصاب کې شامل دی او ضرور ده چې نوی زده کوونکی یې ولو لی،دا کتاب ځو ځو ځل خپور شوی او خپر یږی او ضمیمه یې دالاندې موضوعات دي: «ترجمهٔ نماز ،شش قفل ،حکایت رسول ، پنج گوهر،صدوسی مسئله، هفت هیکل ،مناجات امام اعظم،مناجات امام شافعی،مناجات مطیع الله ،شمایل نامه ،مناجات غوث الاعظم .»

«۳۱۴»

## رقص قلم

### معروف

### به سیر لاهوت

تصنیف: مولوی عبدالله صاحب دنوښار.

فرمایش :نورانی کتب خانه .

د خپرېدو ځای : پر یس پشاور.

کچه : ۱۶ × ۲۰ ½ سم .

مخونه : ۲۰۰

موضوع : نعتي او تصوفي راز ـ راز شعرونه پکې را غلي دي .

## «۳۱۵»

## رنځور

د: سید احسان الله هیر.

خپروونکي: پښتو ټولنه .

د خپرېدو کال او ځای: ۱۳۴۶، دولتي مطبعه، زرتوکه.

کچه: ۱۶ × ۲۰ ½ سم

مخونه: ۱۷۱

موضوع : د سیداحسان الله هیر لنډې: اجتماعي، انتقادي او انتباهي کیسې پکې خپرې شوې او د لنډو کیسو لوستونکو او خپرونکو ته یو ګټور اثر دی.

## «۳۱۶»

## رنګا رنګ ګلونه

لیکونکی: میا سید رسول رسا.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي.

د خپرېدو کال: نه لري، ضیاء آرټ پریس، پېښور.



کچه: ۱۸×۱۴ سم.

مخونه: ۳۶۴

موضوع : راډیویي: تاریخي، اصلاحي او انتقادي ډرامې او اجتماعي مضمونونه پکې را غونډ شوي او خپاره شوي دی.

## «۳۱۷»

## رنګین ګلونه ـ رنګ رنګ خبرې

تصنیف: جمال شاعر حلیم زايي.

ناشران : حاجي عبدالمنان، محمد اجمل.

د خپرېدو ځای: حمیدیه الکتریک پریس پشاور.

کچه: ۱۸×۱۱ ½ سم.

موضوع : د اولسي شعر په قالب کې کیسې، نصیحتونه او اجتماعي افکار خوندي شوي دي چې د اولسي ادب په څېړنه کې یې کتنه په درد خوري.

## «۳۱۸»

## روح چمن

تصنیف : تندر خټک.

ناشران : حاجي عبدالمنان او محمد اجمل (اسلامي کتبخانه).

د چاپ ځای: حمیدیه پرېس پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۸۰

موضوع: د اولسي شاعر د غزلو، رباعی گانو، سسریو او نورو مجموعه ده.

«۳۱۹»

## روښانیان
## یا
## دمغلو تاریکیان

مصنف: عبدالاکبر اکبر.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد.

دخپرېدو ځای: پبلک آرټ پرېس، پېښور.

کچه: ۱۴×۲۲ سم.

مخونه: ۱۶۰.

موضوع: د روښانیانو د ملی تحریک په باب د پخوسندونو په استناد یوه نوې څېړنه او په دې برخه کې یوګټور اخځ دی.



«۳۲۰»

## روضة الحبیب

ویونکی: الحاج محمد امین.

خپروونکی: مرکز جماعت ناجیه صالحه المجاهد آباد.

کچه: ۱۶×۲۴.۲ سم.

مخونه: ۳۵۲

موضوع: د پښتو د صوفی او دینی شاعر مرحوم حاجی محمد امین الحسنات د هغو نعتیه او دینی اشعارو مجموعه ده چې نوموړي حاجی صاحب په مدینهٔ منوره کې د حضرت محمد(ص) په توصیف او ستاینه کې ویلی دي، زیات شعر ونه یې اولسی رنګلري او په یوه سوزون آهنګ سره ویل کیږي.

«۳۲۱»

## روهی گلونه

ټولوونکی: قیام الدین خادم.

خپروونکي: پښتو ټولنه.

دخپرېد نېټه: ۱۳۲۶ کال-د کابل عمومی مطبعه، لومړی ځل.

کچه: ۱۸×۲۷ سم.

مخونه : ۱۵۲

موضوع : د پښتو د پخوا نیو شا عرا نوله د یو ا نو څخه د معینو موضو عا تو تربیل-بیل عنوان لا ندې غز لو نه،فردونه، رباعی ګانې اونور راټول شوي او د پښتو د پخوانیو شاعرانو د اشعارو یوه په زړه پورې ګلچینی ده، دا کتاب په لاندینیو شپږو وبرخو ویشل شوی دی:

(۱) غزلیات، (۲) اخلاق، (۳) پښتو او پښتو نولی، (۴) دحکمت خبرې، (۵) دتیرو یاد، (۶) رنګارنګ مضمو نونه، چې بیا هره برخه بیلې بیلې څانګې او بیل-بیل عناوین لري.

## «۳۲۲»

## رویل ګلونه

مصنف: رویل خان رویل دنوښار.

ناشران: حاجی عبدالمنان او محمد اجمل (اسلامي کتبخانه).

دخپریدو ځای: حمیدیه پریس پیښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۶۴

موضوع: دا ولسی شاعر داولسي شعرونو، رباعې ګانو، لو بو، غزلو، مسریو او نورو شعرونو مجموعه.



## «۳۲۳»

## ریبار

لیکونکی: عظیم خان عظیم.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۵۰

موضوع: داولسي شعرونو دراز-را ز دو لونو مجموعه ده، چې داولسی شعرپه څیړنه کی کار ترې اخیستل کیدای شی.

## «۳۲۴»

## زبور

## (مقدس کتاب)

دخپریدو کال او ځای: ۱۸۹۰ ع، دلندن ناپس مطبعه.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۵۰

موضوع: په حضرت داؤد باندی دخدای (ج) له خوا دنازل شوی آسماني کتاب زبور پښتو ترجمه ده چې یوسل ا وپنځوس برخې لري او په ښکلي صحافت خپور شوی دی.

## «۳۲۵»

## زخم پټي

مصنف: جمال شاعردسنګر.

ناشر: نوراني کتبخانه.

دخپریدو ځای: منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۲۷

موضوع: داولسي شاعرله خوادنظم شویو کیسو، چار بیتو، لوبو، لنډیو، او نورو مجموعه ده.

## «۳۲۶»

## زرکې ستر ګې

لیکونکې: اشرف دراني.

خوروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور.

دخپریدو کال: ۱۹۵۷، نظام پرنټنګ پریس، پېښور.

کچه: ۱/۲ ۱۲×۱۹سم.

مخونه: ۳۵.

موضوع: عشقي، انتباهي ناول دی چې تر۲ ۲عناوینولاندی لیکل شوی اود یوی تګې او غولوونکې مینې راز پکې ښکاره شوی،



چې نویوځوانانته دعبرت درس او دمینې په لارکې بصیرت دی.

## «۳۲۷»

## زلف لیلی

مصنف: ګل درازاسیر.

خپروونکی: عوامی کتب خانه، نیو کا کشال.

کچه: ۱/۲ ۱۵×۲۴سم.

مخونه: ۳۵

موضوع: دفتح یاب شهزاده فولکلوري کیسه ده، چې په کیسه سربیره غزلی، لوبی اولنډۍ هم پکی راغلی دی.

## «۳۲۸»

## زموږ ژواک

لیکونکی: عبدالقدوس پوپل دراني.

خپروونکی: پښتوا کیډیمی، بلوچستان کوټه.

دخپریدو کال اوځای: ۱۹۷۲، اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۷

موضوع: له زانګونه تر هدیرې پورې دمحکوم جنوبی پښتونستان

د پښتنو او سيد ونکو دو دونه او رواجونه را غونډ شوي او د پښتني کلتور په څېړنه کې د يوه ښه اخځ په توګه ګڼه تری اخيستل کېدای شي .

## «۳۲۹»

## زمو ږ غازيان او شهيدان

ليکونکی : نه لری .

خپرونکی : د نشرو اشاعت قبايل اداره .

د خپرېدو ځای : حميديه پرېس، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۴

موضوع : د ترنګزو د حاجی صاحب په ژوند باندې تر ببلو - ببلو سرليکو نو لاندی رڼا اچول شوې ده او د استعمار او انګريزانو په ضد يې د دوی سلې مبارزې په لنډ و ټکو کې بيان کړی دی .

## «۳۳۰»

## زه او زما زمانه

ليکونکی : عبدالخالق خليق .

خپرونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد .

د خپرېدو ځای او کال : منظور عام پرېس، پېښور، ۱۹۶۸ ع .



کچه : ۱۶½ × ۲۰½ سم .

مخونه : ۱۶۰

موضوع : په خواږه نظم باندې د خليق صاحب د ژوند د دورې پېښې دي ، چې د نيمې وروستی پېړۍ سترګو ليدلې سياسي ، اولسي او خصوصی حالات يې پکې راوړی چې جالب او خوندور دي .

## «۳۳۱»

## زينت الاسلام

ليکونکی : عبدالوهاب .

خپرونکی : اسلامی کتبخانه (عبدالمنان او محمداجمل ) .

د خپرېدو کال : نلری ، حميديه پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۲×۱۷ سم .

مخونه : ۵۵

موضوع : منظوم اثر دی ، چې د حضرت محمد (ص) د ژوند او طفوليت په دوره رڼا اچوي او ځای په ځای غزلونه ، لوبی ، او نور نصايح لري .

## «۳۳۲»

## ژب ښودنه

ليکونکی : صديق الله رښتين .

خپرونکې : پښتو ټولنه .

دخــپر یدو نیټه : د ۱۳۲۱ کال جــوزا ، دولتـــی مطبعه .

کچه : ½ ۱۴ × ۲۰ سم .

مخونه : ۱۰۴

موضوع : په زاړه سیستم کښل شوی د پښتو یوګرا مری کتاب دی چې د پښتو د پخوانیو ګرامر و عصار ه او خلص مطالب پکی راټول شوی دي ، دری بر خی لری ، لومړۍ برخه یی ژب دود ، دوهمه بـــرخــه لیـــك دو د، او د ر یـــمه بـــر خـــه لیکـــڼ ښود دی .

## «۳۳۳»

## ژبنی څیړنې

مؤلف : پوهندوی نوراحمد شا کر .

خپروو نکی : کابل پوهنتون ، داد بیاتو پوهنځی .

دخپر یدو کال اوځای : ۱۳۵۰ ، د پوهنی مطبعه .

کچه : ¼ ۱۶ × ۲۴ سم .

مخونه : ۷۲

موضوع : د : « ژ بپوهنه اودهغی څانګی ، ژ به اولیك، دانسان صوتی غړی، دآوازونو وتو نځی ، دآوازونوډو لونه ، فو نیټیکس او فو نیمکس، فو نیم ، مورفیم، مو رفو نیمیکی بدلون اودهغه ډولونه



د یوی ژ بی د مورفیمونو دمعلومولواو بیلو لو لار ې ، لهجوي اطلس دلهجوی اطلس اصطلاحات » تر سر لیکونو لاند ې دژ بنپوهیږنو په باب علمي خبرې شوې دي .

## «۳۳۴»

## ژور فکرو نه

لیکو نکی : حمزه شینواری .

خپروونکی : پختپله لیکوال .

دچاپ نیټه : نلری ـ دلومړی ځل لپاره ۵۰۰ ټو که پبلك آر ټ پر یس پیښو ر .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۵۰

موضوع : دپښتو غزل دپلار امیرحمزه خان شینواري د یولړ منثورو فلسفی ، اجتماعی، انتقادی، کومیډی او ډیالو ګونو یو ه ښکلی مجموعه ده ، چې په ډیرخواږه اوروان سبك خوندور مطالب لری .

## «۳۳۵»

## ژوند

لیکونکی : امیر حمزه شینواری .

دخپر یدو کال : نلری ، شاهین برقی پر یس ، پښاور .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۳۳۷

موضوع : یو فلسفي اثر دی او د ژوند په حقا یقو فلسفي بحثونه کوي او د فلسفې له لیارې ژوند څیړي .

## «۳۳۶»

## ژوند او فن

لیکونکی : اجمل ختټک

خپروونکی : ادبی ملګری — پېښور .

دخپریدو کال : ۱۹۶۷ ع — شاهین برقی پریس پېښور .

کچه : ۱۳½ × ۲۱ سم .

مخونه : ۲۳۲

موضوع : د کتاب لومړی برخه د ژوند او فن ترعنوان لاندې د اجمل ختټک یوه په زړه پورې څیړنه او لیکنه ده او د کتاب دوهمه برخه هغو اشعارو تشکیل کړې چې ادب پکې داد ب لپاره نه، بلکه ادب پکې د ژوند لپاره استخدام شوی دی .

## «۳۳۷»

## سپوږمۍ

ویونکی : ګڼ شاعران .



ټولوونکی : امان الله سیلاب .

خپروونکی : د مطبوعاتو مستقل ریاست، د جوایزو څانګه، د کتابو د خپرونو مدیریت .

دخپریدو کال : نه لري، دولتي مطبعه .

کچه : ۱۵ × ۲۰ سم .

مخونه : ۹۹

موضوع : په دې رساله کې د سپوږمۍ په هکله هغه شعرونه راغونډ شوي چې د لرې او برې پښتونخوا شاعرانو ویلي دي .

## «۳۳۸»

## سپیڅلي ګایونه

## یا په بل عبارت

## (پښتو متلونه)

ټولوونکی : ولي محمد خان سیال کاکړ .

دخپریدو کال : ۱۹۶۹، اسلامیه پریس کوټه، زرټوکه، لومړی چاپ .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۹۶

موضوع : په دې رساله کې د پښتو په متلو نویو تحقیق او څیړنه د ه او بیا وروسته د لومړي توري په اعتبار د الفبا په ترتیب هغه متلونه

راغونډ شوي او راوړل شوي دي چې له دې نه مخکې چېرته نه وو خپاره شوي .

«۳۳۹»

## ستوری

لیکوونکی : رضا همداني .

خپروونکی : یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور .

دخپریدو کال : ۱۹۵۷ ع ، روښنۍ ځل زرټوکه ، منظور عام پریس پېښور.

کچه : ۱۲ × ½ ۱۸ سم .

مخونه : ۱۳۶

موضوع : دراز - راز مقالو مجموعه ده ، چې لو مړی برخه تاریخ دوهمه برخه یې ادب ، دریمه علمي څیړنه ، څلو رمه بره تګ او پنځمه موسکا تشکیلوي .

«۳۴۰»

## (د) سرو تعویذ

د : رشید علی دهقان .

خپروونکی : یونیورستي بک ایجنسي .

دخپریدو کال او ځای : نه لري.



کچه : ½ ۱۱ × ۱۸ سم .

مخونه : ۲۳۹

موضوع : د ټولني دمعایبو او د پښتني محیط په تصویر کې یوه خوږه او په زړه پورې ډرامه ده ، چې ډیر اهم موضوعات یې پکې په ډراماتیک ډول بیان کړی دي .

«۳۴۱»

## سرې لمبې

## د پښتو ډرامه

لیکوونکی : نه لري .

خپروونکی : نه لري د (فکر کیږي ، چې د ډیلی د ژوند مجلې یا دنن پرون مجلې له اداري څخه خپور شوی وي .)

دخپریدو کال : نه لري (خو فکر کېږي ، چې له دوهم جنګ نه وروسته او د هند د آزادۍ له جنګ نه مخکې خپور شوي وي) .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۲

موضوع : د هیټلر هغه محاکمه ده ، چې انګریز انو له ځانه سره کړې او دی یې د دوهم جنګ لوی مجرم ګڼلی دی ، په هر حال دا تقریباً د پښتو له لومړنیو ډرامو څخه ده ، چې د پښتو ادب په څیړنه کې تري استفاده کېږي.

## «۳۴۲»

## سریکې (څریکې)

لیکوونکی: اشرف مفتون.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور.

د خپرېدو کال: ۱۹۵۳ کال.

کچه: ۱۸ × ۱۲ سم.

مخونه: ۷۳

موضوع: د مفتون درند انه او عشقي اشعار و یوه ښکلې او رنګینه مجموعه ده.

## «۳۴۳»

## سکروټې

لیکوونکی: حبیب الله رفیع.

خپروونکی: په خپله.

د خپرېدو نېټه: د ۱۳۴۵ کال جوزا، کابل، د پوهنې مطبعه.

دچاپ شمېر: زرټوکه.

کچه: ۱۵ × ۲۲ سم.

مخونه: ۴۰



موضوع: یواړ اصلاحي انتقادي، او انتباهي شعرونه.

## «۳۴۴»

## سلطان شهاب الدین غوري

لیکوونکی: محمد ابراهیم ثابت.

خپروونکی: د مطبوعاتو وزارت، د آثارو او هنر د تشویق لوی مدیریت.

د خپرېدو نېټه: د ۱۳۴۴ ز مري، لومړی ځل، زرټوکه.

دولتي مطبعه.

کچه: ۱۸ × ۲۴ سم.

مخونه: ۱۶۲

موضوع: د غوري سلسلې د غیرتي او ننګیالي پا چا سلطان شهاب الدین غوري کارنامې او د ژوند حالات دي چې د پښتنو په تاریخ کې یو ګټور اثر دی.

## «۳۴۵»

## سلګی

د: دوست شینواری.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

د خپرېدو کال: ۱۳۴۶

د خپرېدو ځای: دولتي مطبعه .

کچه: ۲۰ × ۱۵½ سم.

مخونه : ۱۳۱

موضوع : د ښاغلي دوست د اجتماعي او ملي دردونو نه ډکو شعرونو یوه خوږه او احساس پارونکې مجموعه ده چې ملي غوښتنې په پوره ادبي ستره پکې نغښتل شوې دي .

## «۳۴۶»

## سلګی

د : غلام یوسف ، یوسف.

خپروونکی : په خپله مؤلف .

د خپرېدو کال او ځای : ۱۹۶۵ ، منظورعام پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۱½ × ۱۷½ سم .

مخونه : ۱۱۰

موضوع : د ځوان شاعر د ځوانو احساساتو او ښکلو شعرونو یوه خوندوره ګلدسته ده ، شعرونه یې زیات عشقي او په غزلو کې د استاد حمزه د مکتب پیرو ښکاري .



## «۳۴۷»

## سمسور ګلونه

لیکونکی : کرامت شاه فولاد .

خپروونکی : رحمن نیوز ایجنسی ، پېښور .

د خپرېدو کال : د ۱۹۶۱ ع د مارچ ۷ ، منظورعام پریس پېښور ، زرټوکه.

کچه : ۱۷ × ۲۱ سم .

مخونه : ۲۹۶

موضوع : د پښتونستان د انقلابي او ټکره شاعر کرامت شاه فولاد قومي ، انتباهي ، انتقادي ، عشقي او اصلاحي شعرونه پکې راغونډ شوي دي .

## «۳۴۸»

## سوات

لیکونکی : نصرالله خان نصر.

خپرونکی : عظیم پبلشنګ هاوس .

د خپرېدو ځای او کال : منظور عام پریس ، پښاور ، ۱۹۶۳ ، لومړی ځل ، زر ټوکه .

کچه ۱۱½ × ۱۷½ سم .

مخونه : ۳۶

موضوع : دسوات تاریخی قدامت او پیښې اودسوات د حکومت وضع او دولپه ډول پکې څېړل شوي دي .

## «۳۴۹»
## سوات
## د تاریخ په رڼاکې

لیکونکی : عبدالحلیم اثر درانی .

خپروونکی : دارالاشاعۀ باجوړ .

دخپریدوځای او کال: منظورعام برقی پریس، پیښور، زرتوکه .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۸۰

موضوع : دسوات په باب تاریخی، جغرافیایی او روایاتی معلومات دي او د سوات لنډه پیژندنه پکې شوې ده .

## «۳۵۰»
## سوړ اسویلی

لیکونکی : فرمان الله فرمان .

خورونکی : رحمان پبلشر، جنگی محله، پیښور .

دخپریدوځای : پبلک آرټ پریس، پیښور .



کچه ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۹۶

موضوع : دښا غلی فرمان یوشواصلاحی، انتباهی او اجتماعی اشعار پکې راغونډ شوي او خپاره شوي دي .

## «۳۵۱»
## سید جمال الدین افغان

لیکونکی : مولانا عبدالرحیم (په اردو) .

ژباړونکی اوزیاتوونکی : فضل حق شیدا .

خپروونکی : یونیورسټی بک ایجنسی، پیښور .

دخپریدو کال : نه لري، لوسړی ځل، زرتوکه حمیدیه پریس، پیښور.

کچه : ۱۶ × ۲۰ سم .

مخونه : ۲۷۲

موضوع : «دعلامة الشرق، بلند پایه انسان، فلسفی سیاستدان او مجتهد، مرحوم سید جمال الدین افغان د ژوند د حالاتو او خیالاتو یوه ښکلی مجموعه» چې دا په پښتو کې دعلامه صاحب په باب لومړنی او بې ساری اثر دی .

«۳۵۲»

## سیف الملوک او بدری جماله

مصنف: محمد نور.

خپروونکی: رحمان گل، نیو کتاب کشال.

دخپریدو ځای: حمیدیه پریس، پیښور.

کچه ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۵۴

موضوع: دسیف الملوک او بدری جمالي فولکلوري کیسه پکښې نظم شوې اوپه پای کښې یې دهاروت اوماروت کیسه هم راغلې ده.

«۳۵۳»

## شاخ گل

لیکوونکی: علامه عبدالعلی.

خورو ونکی: دمیاشتنی گلستان دخورونې ځانگه، قند هاری بازار، کوټه.

دخپریدو کال: نه لري، اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۳ × ۲۱ سم.

مخونه: ۸۰

موضوع: دمرحوم علامه عبدالعلی دهغو اشعار و او افکار و



ځای دی چې نوموړي علامه په خپل ژوند کې ویلي دي.

«۳۵۴»

## شاهنامهٔ احمد شاه ابدالی

ویونکی: حافظ سرغزی.

ترتیب اوتدوین: مشتاق احمدمشتاق.

خپروونکی: پښتو اکیډیمی، دپیښور یو نیورسټی.

دخپریدو کال: ۱۹۶۵ جون، زرټوکه، پبلک آرټ پریس.

کچه: ½۱۶ × ½۲۰ سم.

مخونه: ۲۱۶

موضوع یوقیمتی تاریخی اثردی چې داحمدشاه د دوري ټول واقعات دده ددربار دشاعر له خوا پکښې نظم شوي اوراټول شوي دي.

«۳۵۵»

## شعر او ادب

ټولو ونکی او مهتمم: عبدالله (خدمتگار).

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۳۳ — دولتی مطبعه، زرټوکه.

کچه ۱۵ × ۲۱ سم.

مخونه: ۱۷۱

موضوع : دشعراو ادب په هکله دمختلفو لیکوالو، نظریات راټول شوي دي او د: «دشعرنه څه غواړو ؟ دشعرغرض اوغا یه، دادب مقصد، ادب اواديب، ادب او حیات، دادب موضوع، ادب اوعمل، څومره او څنګه شعر ؟ دشعراوشاعرۍ په باب، شعر اوشاعري، ژونداوادب، شاعر په قوم کی څه حیثیت لري ؟ » اونورو عناوینو لاندې په پنځو برخو کې په زړه پورې نظریات لري .

«۳۵۶»

## شکرستان افغانی

ټولوونکی : قاضی میر احمد شاه رضوانی .

دچاپ کال اوځای : ۱۹۰۵ع ، سفید عام لاهور.

کچه : ۱۳ × ۱۷ سم .

مخونه : ۶۰ + ۵۲ = ۱۱۲

موضوع : په دې رساله کې لومړی د پښتو دلیک دود او مخصوصو غږونو په باب خبرې شوې او بیا د پښتو د نظم او نثر څو بېلګې راغلې دي .

«۳۵۷»

## شکری

مؤلف : میجر ، ایس ، اې رحمان کاکا خیل .



خپروونکی : یونیورسټي بک ایجنسی .

دخپرېدو ځای : پبلک آرټ پریس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۷ سم .

مخونه : ۲۰۸

موضوع : دپښتو ژبې دزده کوونکو لپاره دپښتو خواږه نثر ونه اونظمونه پکې راغونډشوي چې نثر ونه یې ټول خوږې تاریخي کیسې او دنظم برخه یې دپښتو دنامتو شاعرانو پاړکې دي .

«۳۵۸»

## شمې

لیکوونکی : بیا سید رسول رسا.

خپرووونکی : یونیورسټي بک ایجنسی ، پېښور.

دخپرېدو کال : نه لري منظورعام پریس پېښور .

کچه : ½ ۱۲ + ½ ۱۸ سم.

مخونه : ۲۶۸

موضوع : دیوې وفادارې سیندې دژوند ناول دی او سینه که څه هم نڅا ګره ده ، خو بیا هم دخپل مین سره دومره وفا داره ده، چې په پای کې ده له مړینې نه وروسته دده له قاتل نه بدل اخلی، او بیا په خپله سیند ته دځان غورځولو په وسیله انتحار کوي .

«۳۵۹»

## شندی ګل

لیکوونکی : اشراف حسین احمد .

خپرووونکی: نیا مکتبه، محلهٔ خدا داد پېښور.

دخپرېدو کال: نه لري، لوسړی ځل، زرتو که، پبلک آرټ پرېس، پېښور.

کچه: ۱۳×۱۹ سم.

مخونه: ۱۹۲

موضوع: دښاغلی احمد دنهو مختلفو انتبا هی، انتقا دی او اصلاحی افسانو مجموعه ده.

«۳٦۰»

## شهزاده بهرام او گل اندامه

ویونکی: فیاض.

مقدمه: له خیال بخاری.

خپرووونکی: پښتو اکېډیمی، دپېښور یونیورسټی.

دخپرېد و کال: نه لری، شاهین پرېس، پېښور.

کچه: ½۱٦× ½۲۰ سم.

مخونه: ٦۴

موضوع: دبهرام او گل اندامې فولکلوري کیسه ده چې د فیاض له خوا په روانه پښتو نظم شوې، کهڅه هم له دې نه پخوا دا اثر څو څو ځلې خپور شوی، خو دا لومړی ځل دی، چې په مشرح ډول او نوي اساس خپرېږی.



«۳٦۱»

## شهزاده بهرام گور
## او
## پری حسن بانو

ویونکی: ملا احمد جان.

خپرووونکی: حاجی فضل احد.

دچاپ ځای: حمید یه الکټر یک، پر یس پشاور.

کچه ۱٦×۲٦ سم.

مخونه: ٦۴

موضوع: یوه فولکلوري کیسه ده، چې د پښتو په اوږده مثنوي نظم شوې او د پښتو منظومو کیسو دخپرېدو په برخه کې استفا ده ترې کېدلای شی.

«۳٦۲»

## شهیده سکینه

لیکو نکی: عبدالخالق خلیق.

خپرووونکی: ادارهٔ اشاعت سر حد، پېښور.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹٦۲ع (دوهم ځل) حمیدیه پرېس، پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۴

موضوع: دښځو په مقابل کې د رواجي قانون هغه ناد ودې پکې نغښتل شوې، چې د پښتنو له خوا کېږي او دیوې ځوانیمرگې او دردېدلې ښځې دژوند کیسه پکې راغلې ده.

## «۳۶۳»
## ښکلی ژوند

مصنف: علي حیدر جوشي.

ناشر: کتب خانۀ حمید یه قصه خوانی.

دخپرېدوځای: منظورعام پرېس، پشاور.

کچه: ۱۲×۱۸سم.

مخونه: ۶۲

موضوع: دعلي حیدر جوشي دخوږو اولسي شعرونو مجموعه ده چې رباعیګانې، غزلې، لوبې، چاربیتې اونور پکې راغلي دي.

## «۳۶۴»
## صرف ونحو (پښتو)

لیکونکی: عظیم شاه خیال بخاری.

خپروونکی: یونیورسټي بکـ ایجنسي، پېښور.



دخپرېدو کال اوځای: منظور عام پرېس، پېښور.

کچه: ½ ۱۶× ½ ۲۰ سم.

مخونه: ۳۵۸

موضوع: دپښتو صرف او نحو د عربي صرف او نحوې په چوکاټ کې پکې څېړل شوې او بشپړې خبرې پرې شوې دي.

## «۳۶۵»
## طالب جان
## (قصه)

مصنف: شاعرولي محمد.

خپروونکی: عوامي کتب خانه، نیوکا کشال (*)

دخپرېدو ځای: شاهین برقي پرېس پشاور.

کچه: ۱۲×۱۸سم.

مخونه: ۶۴

موضوع: دطالب جان فولکلوري کیسه پکې نظم شوې او د کیسې د خوندورکېدو په غرض ځای په ځای لنډۍ، لوبې او غزلې هم پکې راغلې دي.

---

(*) همدا کیسه په لږه لویه کچه دعبدالخالق له خوا هم په ۴۸ مخونو کې خپره شوې ده.

## «۳۶۶»
## طب نامه

لیکونکی: خوشال خان خټک.

خپرونکی: پښتو ټولنه.

سمونکی او کتونکی: صدیق الله رښتین.

د خپریدو نیټه: ۱۳۴۵ — کابل — د پوهنې مطبعه.

د چاپ شمیر: دوه زره ټوکه، د خوشال خټک د ۲۸۶ تلین په ویاړ.

کچه: ۱۴ × ½ ۲۱ سم.

مخونه: ۷۰=۱۳+۵۷

موضوع: د پخواني طب د اروبوټو په باب یو منظوم اثر دی، چې د پښتو ادب پلار خوشال خان خټک لیکلی دی.

## «۳۶۷»
## طوفان

لیکونکی: حسین بخش کوثر غوریاخیل.

خپرونکی: نظام ستیشنري مارټ.

د خپریدو کال: ۱۹۵۸ع، منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ½ ۲۱ × ½ ۱۸ سم.



مخونه: ۲۰۸

موضوع: د نړۍ د مذهبونو د اساسي محرکاتو په څېړنه کې یو فلسفي، علمي او تاریخي اثر دی چې په فیلالوجیکي استدلالونو بنا او د پښتو د قدامت په باب بحثونه لري.

## «۳۶۸»
## طوفاني غم
### شیر عالم او مامونی

مصنف: طالب ولي محمد.

خپرونکی: رحمان ګل اینډ کمپنی، بک سیلرز.

د خپریدو کال او ځای: ۱۹۷۰، سرحد الکټریک پریس پېښور.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۷۱

موضوع: د میمونې مشهوره کیسه ده، چې په اره او بره پښتونخوا کې شهرت لري، د ولي محمد له خوا د اولسي ادب په بېلو بېلو صنفونو کې ویله شوې او د ملي کیسو په برخه کې استفاده ترې کېږي.

## «۳۶۹»
## عجب خان افریدی

لیکونکی: محمد اسلام نسیم.

د خپرېدو کال: د ۱۹۶۱ ع سپتمبر.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۵۶

موضوع: د ملي مجاهد عجب خان افریدي د ژوند په زړه پورې کیسه ده، چې د انګریزي استعمار په ضد یې کلکه مبارزه کړې ده.

«۳۷۰»

## عجب خان افریدی

### زر پښتون

مصنف: جمشید د تهوپي.

ناشران: حاجي عبدالمنان ومحمد اجمل (اسلامی کتب خانه.)

د چاپ کال: ۱۹۶۱ ع.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۴۸

موضوع: د مشهور ملي مبارز عجب خان افریدي د میړانې او فداکارۍ هغه کیسه، چې له انګریزانو سره جنګېدلی دی.

«۳۷۱»

## عشق محبوب

تصنیف: شمس الشعرأ شیر زمان محتاج داتمانزو.



خپروونکی: میان بادشاه ګل د کتابو تاجر.

د خپرېدو کال: نه لري، منظور عام پرېس، پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: یوه سلسله منظوم مناجاتونه، نعتونه او څلور منظومې کیسې پکې راغلې دي چې شعرونه یې خوا په اوخوندور دي.

«۳۷۲»

## غاړې

ټولونکی: ولي محمد خان سیال کاکړ.

د خپرېدو کال: ۱۹۶۹، اسلامیه پریس کوئټه، زرتو که.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۲۰۸

موضوع: د پښتو د اولسي ادب یوه برخه چې کاکړۍ غاړې او کاکړۍ لنډۍ یې هم بولي پکې را ټولې شوې او خپرې شوې دي، لومړی د غاړو په باب یوه زړه پورې څېړنه ده او بیا غاړې د موضوع په ترتیب پکې را غونډې شوې او وړاندې شوې دي چې د اولسي ادب له څېړونکو سره په زړه پورې مرسته کولای شي.

«۳۷۳»

## غزوني

لیکوونکی: حمزه شینواری.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد پشاور.

د خپرېدو کال: ۱۹۵۶ ع کال- منظور عام پرېس، پېښور- لومړی ځل.

کچه: ۱۶×۲۵ سم.

مخونه: ۲۲۴

موضوع: د پښتو د غزل پلار ابوالمراد حمزه شینواري د تصوفي عشقي اجتماعي او پښتني اشعارو او خیالاتو مجموعه.

«۳۷۴»

## غمجنه دنیا

مصنف: فضل الرحمن دلسوز.

ناشران: میان حاجي محمد عبدالخالق

د خپرېدو ځای: حمیدالکتریک پریس، پېښور.

کچه: ۱۶×۲۳ سم.

مخونه: ۴۴

موضوع: یو شمیر تصوفي او نعتیه غزلو نه او ځینې ټپې د یني



کیسې ځکې راغلې دي او د ادب په تاریخ کې استفاده تري کیدای شي.

«۳۷۵»

## غمجنه مینه

## د باجوړ ګلونه

مصنف: میراجان مومند.

خپروونکی: عوامي کتب خانه.

د خپرېدو ځای: منظور عام پریس پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۵۶

موضوع: د باجوړ د سیمې یوه مشهوره فولکلوري کیسه ده، چې په خوږو او راز راز اولسي شعرونو لیکله شوې ده.

«۳۷۶»

## غم غلط

لیکوونکی: استاد نور احمد نور شار.

خپروونکی: ایم عبدالمنان او محمد اجمل د کتابو تاجران او د اسلامي کتبخانې خاوندان.

دخپریدو کال: نه لري.

کچه: ½۱۲ × ½۱۷ سم.

مخونه: ۹۶

موضوع: د پښتو د اولسي شاعر نورمحمد داولسي شعرونو، لنډیو، او دموسیقي دتصنیفونو یوه خوندوره مجموعه.

### «۳۷۷»

## غورځنګ

ویونکی: سیال کاکړ.

خپروونکی: پخپله مولف.

دخپریدو کال: ۱۹۷۲، اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۴۸

موضوع: دښاغلي سیال د ملي اشعارو یوه خوندوره مجموعه ده چې خپل ملي افکار یې پکې رانغښتي او افغاني ټولنې ته یې وړاندې کړي دي.



### «۳۷۸»

## غوره اشعار

د: ګل پاچا الفت.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۳۴ زمری، عمومي مطبعه، ۲۰۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۸ × ½۲۴ سم.

مخونه: ۲۵۶

موضوع: داستاد الفت داصلاحي، انتقادي، انتباهي او اجتماعي اشعارو یوه ډیره ښکلې مجموعه.

### «۳۷۹»

## غوره نثرونه

لیکوونکی: ګل پاچا الفت.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپریدو کال: ۱۳۳۶ - ۱۵۰۰ ټوکه دولتي مطبعه.

کچه: ½۱۷ × ۲۵ سم.

مخونه ۱۱۸

موضوع: داستاد الفت دغوره اجتماعي، خوږو او په زړه پورې

نثرونو مجموعه‌ده، چې د کتاب په پای کې استاد حبیبي د الفت صاحب د پیژندګلوی په لړ کې یو ځای داسې پری لیکي: «کله کله د الفت نثر تر نظم خوږ دی خلک وایي چې نظم پېیودل دی او یو ناظم پېیو دی، مګر زه وینم، چې الفت په نثر کې هم بلا کوی او کله کله الفاظ هسې سره پېیودي چې تر هر رنګه نظم ښه ښکاري.»

## «۳۸۰»
## فالنامهٔ افغانی

ویونکی: عبدالرؤف.

خپروونکی: قدیمی کتبخانه، پیښور.

دخپریدو ځای: نیوایګل ستار، پریس، پیښور.

کچه: ½ ۱۱ × ۱۸ سم.

مخونه: ٦۴

موضوع: د الفبې په ترتیب فالونه‌دي، په جدول کې چې په هر توري لاس کیښودل شی بیا په متن کې دې فال بیا نیري او دا فالنامه له هندي څخه ژباړل شوې‌ده.

## «۳۸۱»
## فتح‌خان قندهاری

مصنف: ملا نعمت‌الله.



خپروونکی: عوامی کتب‌خانه، نیو کا کشال.

کچه: ½ ۱۵ × ۲۴ سم.

مخونه: ۴۸

موضوع: د فتح‌خان او رابیا فولکلوري ملی کیسه په کې نظم شوې، چې د کیسې هیروګان د بست اوسېدونکی و.

## «۳۸۲»
## فریادی شاعر

د: محمد جان فنا اثر.

ناشر: محمد قاسم سوزان.

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۳۸، دولتی مطبعه.

کچه: ½ ۱۴ × ½ ۲۰ سم.

مخونه: ۲۷

موضوع: د ښاغلی فنا دڅو شعرونو یوه کوچنۍ مجموعه‌ده چې ملی دردونه پکې نغښتل شوي دي.

## «۳۸۳»
## فلسفه څه ته وایی؟

مصنف: شیر علی باچه.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد مزدور کیسان پارټی.

دخپرېدو ځای : شاهین برقي پرېس پېښور .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۳۲

موضوع : دفلسفې په باب یوه لنډه څېړنه ده، او د«فلسفې تعریف فلسفې او عام سړي کې فرق، دفلسفې او نورو ساینسونو تعلق، د فلسفې ځای ساینس نیسي، د کا ینا تو په باره کې د جدا ـ جدا نظر یو وجه څه ده؟ فلسفه او طبقات، دخوارې کښې طبقې فلسفه ر ښتوني ده . . .» او نورو سرلیکونو لاندې مطالب ر اغلي دي .

«۳۸۴»

## قافیه

لیکوونکی : سمندر د بدرښو .

خپرونکی : یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور .

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۵۳ شاهین پریس ، پېښور، او مړی خل، زرټوکه .

کچه : ۱۴ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۰۶

موضوع : داشعارو دقافیې په باب یو علمي بحث دی او په دې برخه کې دا مطالب راغلي دي : « قافیه څه ته وایي؟ دروی بیان .



د ردف بیان دقید توری بیان، دتأسیس د خیل بیان، گړ دې قاعدې دروی نه وروسته دقافیې بیان، د ایطا بیان، دمعموله بیان، دغلو بیان دردیف بیان، دحا جب بیان.» .

«۳۸۵»

## قصه دجهاندار شهزاده

تصنیف: داحمدي صاحبزاده (عبیدالله) .

ترتیب او تدوین . نصرالله خان نصر .

ناشر : دارالتصنیف، جهانگیر پوره، بابو حیدر روډ، پېښور ښهر.

دخپرېد ونېټه: د ۱۹۶۶ ع اپریل ـ لومړی ځل ، زرټوکه ، شاهین برقي پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۲×۱۸ سم .

مخونه : ۱۲۸

موضوع . دجهاندار شاهزاده دجد و جهد یوه فولکلوري کیسه ده چې په پا څه نظم د ۱۲ پېړی شاعر احمدي سیاصاحبزاده په خو الیکل شوې او انتباهی بنه لري .

«۳۸۶»

## قصه دشهزاده اورنگ

## او

## ښاپېرۍ تاجبرې

لیکوونکی: نور محمد نوښار .

خپروونکی : اسلامی کتب خانه ،(عبدالمنان او محمد اجمل) .

دخپرېدو کال . نه لري، حمید یه پریس، پېښور، شاهین برقی پریس.

کچه : × ½ ۱۱ × ½ ۱۷ سم .

مخونه : ۱۰۴

موضوع : یوه فولکلوري او خیالی کیسه ده چې د یوه اولسی شاعر له خوا په اولسی شعرونو اولنډیو کې لیکل شوې ده.

## «۳۸۷»

## قصه دعثمان شهزاده

مصنف : امیر حیدر .

ناشر : عوامی کتب خانه، نیوکا کشال .

کچه : ½ ۱۵ × ½ ۲۴ سم .

مخونه : ۵۲

موضوع : یوه فولکلوري کیسه ده، چې د نظم په ترڅ کې یې لوبې ټپې او غزلونه هم راغلي دي .

## «۳۸۸»

## قصه

## د لیلی او مجنون

مصنف : ملانعمت الله .



خپروونکی : رحمان گل ،نیوکا کشال، پشاور شهر .

دخپریدو کال : نه لری ،سرحد الکتریک پریس پشاور .

کچه : ۱۶ × ۲۴ سم.

مخونه : ۴۰

موضوع : دلیلی او مجنون نامتو کیسه ده، چې په ۲ ، څپه ییزه مثنوي د پښتو ژبې دفردوسی (ملا نعمت الله) له خوا لیکل شوې ده .

## «۳۸۹»

## قصهٔ شاه و گدا

لیکونکی : حمید بابا .

مرتب او خپروونکی : همیش خلیل.

دخپرید و کال : نومبر ،لوسړی ځل، زرتو که .

د ۱۹۵۷ ع

کچه : ½ ۱۲ × ۱۹ سم .

مخونه : ۲۹۷

موضوع : دشاه او گدا د مینې یوه کامیابه کیسه ده، چې د پښتو د نازک خیال شاعر حمید بابا له خوا نظم شوې ده.

## «۳۹۰»

## قصهٔ شهزاده بهرام ، گلندامه

ویونکی : فیاض .

خپروونکی :حاجی فضل احد .

کچه : ½ ۲۶×۱۴ سم .

مخونه : ۴۰

موضوع :دشهزاده بهرام اوگل اندامې فولکلوري کيسه ده، چې بيـ
وروسته پښتو ا کيله يمى ، په ښه او اساسي طور چاپ کړ ې د ه،
(وگوریء ! شهزا ده بهرام او گل اندامه .)

## «۳۹۱»
## قصهٔ شهزاده ممتاز

ویونکی :ملا احمد جان.

ناشران : حاجی فضل احد، اینډ سینز، تا جران کتب قصه خوا نی.

دخپریدوځای :منظورعام پریس پشاو ر.

کچه: ۱۶×۲۴سم .

مخونه : ۲۸۰

موضوع : دشهزاده ممتاز مشهوره فو لکلو ري کيسه له ار دو
ـځخه په پښتو نظم اړول شوې ا ودفولکلور تو لوونکی او دو ستان په
زړه پور ې استفاده تر ې کولا ی شی .

## «۳۹۲»
## قصهٔ غل و قا ضی

ویو نکی: احمد .



خپروو نکی :حاجی عبدالخالق فضل مالك .

د خپریدوځای :مقبول عام پریس لا هور .

کچه : ۱۶ × ۲۴ سم .

مخونه :۲۴

موضوع :دغله ا و قا ضی فولکلو ري کيسه د ه ،چې په لنډه
مثنوي با ندې ویل شوې ده .

## «۳۹۳»
## قصهٔ گنبت وشهز ا د ی شا م

لیکو نکی: فاضل شاه .

خپروونکی :حاجی فضل احد.

دخپر یدو ځای : منظو رعام پر یس ، پېښو ر .

کچه :۱۷×۲۵ سم .

مخونه: ۴۰

موضوع :دیو ې عربی فولکلوري کيسې منظومه پښتو تر جمه ده ،
چې په اوږده مثنوي کې شوې ده.

## «۳۹۴»
## قصه
## یکه یو سف خان او بی بی شېر با نو

لیکونکی :علی حیدر جوشی .

خپروونکی: رحمان گل بک.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

موضوع: دیکه یوسف د کیسی فلمی سنار یوده چې دفلم له جوړېدو سره په کتابی شکل هم خپره شوې ده.

**«۳۹۵»**

## قصه یکه یوسف خان بی بی شېر بانو

تصنیف: فخر الشعراء علی حیدر.

ناشر: میا حاجی محمد عبدالخالق.

دخپرېدو ځای: الکترېک پرېس پشاور.

کچه: ۱۶ × ۲۱ سم.

مخونه: ۳۰

موضوع: د پښتو یوه فولکلوري کیسه ده، چې په ۱۲ خپه ییز مثنوي لیکله شوې ده.

**«۳۹۶»**

## قصیدهٔ برده

لیکوونکی: شرف الدین بوصیری.

پښتو کوونکی: عبدالقادرخان خټک، ملاشرف اخون او محب الدین.



خپروونکی: چهجو سنگهه، گهړ ک سنگهه، دپښاور د کتابو تاجران

دخپرېدو کال: ۱۳۴۵ ق.

کچه: ۱۹ × ۲۴ سم.

مخونه: ۸۸

موضوع: د حضرت محمد (ص) په توصیف کې یوه عربی مشهوره قصیده ده چې محمد بوصیري لیکلې او د پښتو نامتو شاعرانو عبدالقادر خان خټک او ملا شرف په پښتو قصیده ژباړلې ده او محب الدین په پښتو مخمس تر پایه ترجمه کړې ده، داقصیده ۱۶۵ بیتونه لري.

**«۳۹۷»**

## کاکړۍ

لیکوونکی: سیال کاکړ.

خپروونکی: پښتو ادبی دنیا کوټه.

د خپرېدو کال: ۱۹۷۳، اسلامیه پرېس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۲

موضوع: د پښتو اولسی ادب د یوه په زړه پورې ډول چې د کاکړیو غاړې یې هم بولی نمونې پکې راغونډې شوې دی او د موضوع په ویش په سلگونو کاکړی خوندي شوي او دا په حقیقت کې د دوی

دیوبل اثر «غاړې» تکمله ده.

«۳۹۸»

## کاکړۍ لنډۍ

لیکونکی: صاحبزاده حمیدالله دپشین.

خپروونکی: یونیورسټی بک ایجنسی.

دخپریدو کال: ۱۹۶۷ع - زرتوکه - منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ۱/۴ ۲۱×۱٦ سم

مخونه: ۱۲۰.

موضوع: د کاکړو د اولسی غاړو په باب په زړه پورې معلومات پکې راغونډه شوي او تقریباً شپږ سوه کاکړۍ غاړې پکې راغونډې شوې دي او د کاکړیو په باب څېړنه هم لري.

«۳۹۹»

## کاواکی

لیکونکی: اشرف مفتون.

خپروونکی: یونیورسټی بک ایجنسی.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹٦۷ع، ضیاء آرټ پریس، پېښور.

لومړی ځل.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.



مخونه: ۸۳

موضوع: د پښتو د نامتو او روماني شاعر اشرف مفتون د ښکلو او رنګینو شعرونو یوه ښه ګېډۍ او یوه ښکلې ګلدسته.

«۴۰۰»

## کپرۍ (ککرۍ)

له: حافظ محمد ادریس دطورو.

خپروونکی: یونیورسټی بک ایجنسي.

د خپریدو ځای: حمیدیه برقی پریس پشاور.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۳۲

موضوع: په خوږوروانه پښتو یوه فولکلوري کیسه لیکله شوې او دماشومانو لپاره تدریسي بڼه لري.

«۴۰۱»

## کتاب الشعر

لیکونکی: ارسطاطالیس.

ژباړونکی: مولوي محمد اسرائیل.

خپروونکی. پښتو اکېډیمي دپېښور یونیورسټي.

د خپریدو کال: نه لري، د پېښور یونیورسټي پریس.

کچه: ۱۷× پ ۲۰ سم.

مخونه: ۸۱

موضوع: دشعر په باب د یونان د نامتو فیلسوف ارسطو نظریات تقسیمات او پوله تيا کل دي، یو په زړه پوري علمي او فلسفي اثر دی او دشعر په څېړنه کې کار تري اخیستل کېدای شي.

«۴۰۲»

## کتاب د نوي عهد

### یعنی

### انجیل

په مسیح باندې نازل شوی کتاب

اصلي ژبه. یوناني.

پښتو کوونکی: غلام جیلاني.

خپروونکی اود خپریدو ځای: انگستان، لندن.

دخپریدو کال: ۱۸۸۹ ع.

مخونه: ۵۶۰ - هرمخ ۲۵ کرښې.

کچه: ۱۲× پ ۱۸ سم.

موضوع: دخدایي لارښوونو یوه مجموعه چې په حضرت مسیح



علیه السلام نازل شوی او دڅلورگونو مقدسو کتابونو له ډلې څخه دی او اووه ویشت فصله لري چې هر فصل یې په بیلا بیلو بابونو مشتمل دی.

«۴۰۳»

## کتاب نصیحت

تصنیف: ذاکرالله ذاکر.

خپروونکی: حاجی فضل احد او حاجی عبدالرحیم.

دخپریدو ځای: منظور عام پریس، پیښور،

کچه: پ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۹۶

موضوع: دنعتونو او منظومو غلو یښتو احادیثو مجموعه ده چې شعر یې اولسی بنه لري او په اولسی قالبو کې ویل شوی دی.

«۴۰۴»

## کتلي خوب

لیکونکی: محمدجعفر اڅکزی.

دخپریدو کال: ۱۹۵۷، نذیر پریس، لاهور.

کچه: پ ۱۳×۲۱ سم.

مخونه: ۱۰۴

موضوع : هغه واقعات پکې لیکل شوي چې په بنا غلی جعفر اڅکزي د هغه بند په موده کې تیر شوي، چې دورو رپښتون په اداره کې د کار کولو په ګناه د پاکستان د حکومت له خوا بندي شوی ؤ .

## «۴۰۵»
## کچکول

لیکونکی : سلنګ ( اجمل ختټک ) .

خپروونکی : منظور عام کتب خانه ، پېښور بانګ حرم .

د خپر یدو کال : ۱۹۶۰ ، شاهین برقي پریس .

کچه : ۱۸×۱۲ ½ سم .

مخونه : ۱۶۰

موضوع : د ۴۴ کوسیلې ، انتقادي مضمونو مجموعه ده، چې په بانګ حرم اخبار کې په پرله پسې ډول خپاره شوي او بیا د کال په پای کې په کتابي شکل خپاره شوي دي ، دا اثر په پښتو کې یو بې جوړې اثر دی .

## «۴۰۶»
## کلیات خوشحال خان ختټک

ویونکی : خوشحال خان ختټک .

مقدمه او شرح : دوست محمد خان کامل .

خپروونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد .

د خپر یدو کال او ځای : ۱۹۶۰ ، منظور عام پریس پېښور، دوهم ځل

کچه : ۱۶ × ½ ۲۴ سم .

مخونه : ۹۶۸

موضوع : د خوشحال خان ختټک د قصیدو ، غزلو، رباعیاتو او قطعاتو مجموعه ده، چې د قندهار د چاپ پر اساس او د څو قلمي او چاپي نسخو له مخې خپره شوې ده .

## «۴۰۷»
## کلید افغانی

ټولوونکی : پادري هیوز .

د خپر یدو کال او ځای : ۱۸۷۲ ع — د لاهور سرکاري مطبعه.

کچه : ۱۲ × ۲۹ سم .

مخونه : ۲۴۰ نثر+ ۱۶۲ نظم+ ۱۶ پښتو لیکونه= ۴۱۸

موضوع : د پښتو د پخوانیو شاعرانو او لیکوالو : مولوی احمد ، افضل خان ختټک، فیاض ، رحمان بابا، خوشحال خان ختټک ، او نورو شعرونه او نثرونه پکې خوندي شوي دي .

«۴۰۸»

## کلیمه داره روپی

لیکونکی : عبدالرحمن پژواک

خپروونکی : پښتو ټولنه

دخپریدو کال : ۱۳۳۷ حمل - ز رټوکه - دولتی مطبعه .

کچه : ۱۴½ × ۲۰ سم .

مخونه : ۶۴

موضوع : د پښتو یوه حماسي اورزمي نیم منظومه ډرامه ده ، او د دوو پښتنو (میړه اوماندینې) پښتنی حس او پښتنی ننگ تمثیلوي .

«۴۰۹»

## کوټه

### لنډه تاریخی جایزه

لیکونکی : سلطان محمد پانی .

دخپریدو کال : ۱۹۵۹ع کال ، بلوچستان پریس .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۸۰

موضوع : دکوټی په جغرافیا او تاریخ باندی تفصیلی بحث او په دې برخه کی یو بې جوړې اثر دی .



«۴۱۰»

## کیمیای صداقت

مصنف اوخپرو ونکی : توران شاه شاعر اسلامی .

دخپریدو ځای : شاهین برقي پریس پشاور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۳۲

موضوع : یوشمیر دینی مواعظ اونصیحتونه پکښی نظم شوی دی دشعر بڼه یې اولسی ده او د پښتو داولسی ادب په څیړنه کی دیادونې وړ دی .

«۱۴۱»

## گجرې

لیکونکی : قلندر مومند .

خپروونکی ؛ یونیورسټي بک ایجنسي کابلی گیټ پیښور .

دخپریدو نیټه : ۱۹۵۸ ع کال ، لومړی ځل ، زرټوکه .

کچه : ۱۲½ × ۱۹ سم

مخونه : ۱۷۲

موضوع : یولړ تراژیدی ، سیاسی ، اجتماعی او ریالستی داستانونه دی چی په نوی سبک لیکل شوی دداستانو شمیر یې ۲۱ او د پښتني محیط او دوی دژوند مختلف اړخونه پکی تمثیل شوي دي .

## «۴۱۲»
## ګرانې ملغلرې

ویونکی: ولی محمدخان سیال کاکړ.
خپروونکی: په خپله مؤلف.

دخپریدو کال: ۱۹۷۰، اسلامیه پریس کوټه.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۳۲

موضوع: د پښتو د پیاوړي فلکلوریست ښاغلي سیال کاکړ دهغو شعرونو مجموعه ده، چې د پښتو لنډیو او کاکړیو په جامه کې ویلي دي، او د پښتو داولسي ادب په نمونو کې یې زیاتون راوستی دی.

## «۴۱۳»
## ګل

شاعر: عبدالرزاق حکمت.

چاپ کوونکی: پښتنه مکتبه - پېښور.

دخپریدو کال: ۱۹۶۰ع - زرتوکه - پېپلک آرټ پریس پېښور.

کچه: ۱۶ × ۲۰ سم.

مخونه: ۲۴۴

موضوع: داروانښاد حکمت دا شعارو، افکارو او خیالاتو یوه ښکلې مجموعه ده.



## «۴۱۴»
## ګل ټپې

### لومړی ټوک

ټولوونکی: ګل محمد خان کاکړ

دخپریدو کال: ۱۹۶۱ - اسلامیه پریس کوټه

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم

مخونه: ۲۹۲

موضوع: د الفبې په ترتیب د پښتو زرګونه لنډۍ پکې راغونډې شوې او خوندور اثر دی.

## «۴۱۵»
## ګل ټپې

### (دوهم ټوک)

ټولوونکی: ګل محمد کاکړ

د خپریدو کال: نه لري

کچه:
۱۲×۱۸ سم

مخونه: ۱۶۲+۲۴۰+۱۹ = ۵۲۰

موضوع: دا هم د پښتو لنډیو یوه مجموعه ده، چې بیا هم په دوو برخو کې له الف بې نه شروع شوې او دواړې برخې یې له یوې ضمیمې سره په یوه ټوک کې راغلې دي.

«۴۱۶»

## گل تپې

### (دریم ټوک)

ټولوونکی: گل محمد کاکړ

دخپرېدو کال: نه لري، اسلامیه پرېس کوټه

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم

مخونه: ۲۰۰

موضوع: دا هم د پښتو لنډیو دریمه برخه ده، چې بې له ردیفه په دوو کوچنیو بیلو-بیلو برخو کې راټولې شوې دي.

«۴۱۷»

## گل خان

مصنف: شیر زمان غمژن (غمجن)

خوروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور

دخپرېدو کال: ۱۹۷۱ع

کچه: ۱۲ × ۱۹ سم

مخونه: ۳۱۰

موضوع: د پښتنو د کړو وړو په رڼا کې یوه رومانی کیسه ده، چې د نوي ژوند لارې هم پکې ښودل کېږي او د پښتنو په تعلیم او تدریس پکې زور اچول شوی دی.



«۴۱۸»

## گلزار سید احمد

ویونکی: گڼ شاعران

ټولوونکی: سید احمد بیزار

خپروونکی: حاجي غلام رسول او عبدالغفور د کندهار د کتابو تاجران

دخپرېدو ځای: مطبع دین محمدي لاهور

کچه ۱۶½ × ۲۴ سم

مخونه: ۱۲۰

موضوع: د کندهار د نامتو اولسي او هغو شاعرانو چې په هندي مقامونو کې یې شعرونه ویلي، د غزلونو یوه خوږه او خوندوره مجموعه ده.

«۴۱۹»

## گلشن روه

ټولوونکی او خپروونکی: میجر راورټي.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۸۶۰ع - د هرتفورډ د ستیون آستین مطبعه.

کچه: ۱۹ × ۲۶½ سم

مخونه: ۱۸۶ نثر + ۱۲۶ نظم = ۳۱۲

موضوع : د پښتو د پخوانیو نثارانو او شاعرانو د نثر او نظم نمونې دي، چې د نثر په برخه کې د افضل خان خټک د تاریخ مرصع، د اخون قاسم فوائد الشریعه، د افضل خان خټک د کلیلې دمنې د بابو جان د کتاب یوه برخه، د اخون درویزه د مخزن یوه برخه، د عبدالقادر خان خټک د ګل دستې یوه برخه راغلې او د نظم په برخه کې د رحمان بابا، خوشحال خان خټک، حمید بابا، خواجه محمد بنګښ، میرزا خان انصاري، کاظم خان شیدا، اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک او احمد شاه بابا شعرونه راغلي دي.

## «۴۲۰»

## ګل صنوبر

ویونکی : طالب رشید

دیباچه : له میر شرف خان وزیر

خپروونکی : پښتو اکیډیمي، د پېښور یونیورسټي

د خپرېدو ځای : نهاري، پبلک آرټ پرېس پېښور.

کچه : ۱۶½ × ۲۰½

مخونه : ۱۳۱

موضوع : د ګل صنوبر فولکلوري کیسه ده، چې د پښتو د یوه خوږ ژبي شاعر طالب رشید له خوا په روانه پښتو نظم شوې او لومړی ځل خپره شوې ده.



## «۴۲۱»

## ګلونه او ازغي

لیکونکی : ارباب سکندر خان خلیل

خپروونکی : د ادارالتصنیف پېښور

د خپرېدو کال او ځای : ۱۹۶۵، شاهین برقي پرېس

کچه : ۱۲ × ۲۱½

مخونه : ۱۲۰

موضوع : د بېلو بېلو مقالو مجموعه ده، او تر لاندې سرلیکونو لاندې مطالب پکې راغلي دي: «پښتو ادب، انساني ژوند، او تاریخ، ګلونه او ازغي، جنګ، د کونډې ځوی، ننني دور او موږ، بې وخته میلمه تربور، ښه او بد، عشق او محبت.»

## «۴۲۲»

## ګنج پښتو

تصنیف : مولوي احمد

خپروونکی : میجر، جي، روس کېپل

د خپرېدو ځای : نولکشور، پرېس، لاهور

کچه : ۲۱ × ۲۵½ سم

مخونه : ۱۲۳

موضوع : په پښتو کې دلنډو اجتماعي، انتباهي او بوختوونکو

کیسو مجموعه ده، چې په روانه پښتو لیکلې شوې اود پښتو د موجوده نثر د پیلیدو له نثرونو څخه گڼل کیږی ، چې د پښتو ژبې په څیړنو کې زیاته استفاده ترې کیدلای شي .

«۴۲۳»

## لاله زار

لیکونکی : یونس خلیل

خپرونکی : ادارهٔ اشاعت سرحد پېښور

د خپریدو کال : نه لري ، دوهم ځل ، منظور عام پریس

کچه : ۱۸ × ۱۲ سم

مخونه : ٦۴

موضوع : د اجتماعي او عشقي غلوریزو او شعرونو یوه خوږه او په زړه پورې مجموعه ده .

«۴۲۴»

## لاله گلونه

لیکونکی : میر مهدي شاه مهدی

د خپریدو کال او ځای : ۱۹٦۹ ، پبلک آرټ پریس خیبر بازار پېښور ، ریاض بک ایجنسی

کچه : ۱۸×۱۲ سم



مخونه : ۱۰۴

موضوع : د پښتو د اوی انسانه لیکونکی ښاغلی مهدي د لنډو کیسو غلورمه خوندوره مجموعه ده ، چې ۱۳ بیلې - بیلې کیسې پکې راغلې دي ، او په ټولو کې یې دده د سبک سره سم د پښتنو د ژوند انځور راښکل شوی ، اوله دوی سره د پاکستان د حکومت مظالم څرگند شوي دی .

«۴۲۵»

## لشې

لیکونکی : محمد اعظم اعظم

خورونکی : یونیورسټي بک ایجنسی

د خپریدو کال : نه لري ، زرتوکه

کچه : ۱۸ × ۱۲½ سم

مخونه : ۳۱۲

موضوع : د یو لړ کومیډي ډرامو او ننداړو یوه مجموعه ده ، چې یوه سلسله اجتماعي معایبو ته یې پکې گوته نیولې ده او انتباهي افکار لري .

«۴۲٦»

## لنډکۍ پښتو او پښتنو اله

لیکونکی : محمد گل سومند

خپروونکی : پښتو ټولنه

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۲۷ ش ، د کابل عمومي مطبعه

کچه : ۱۳ × ۱۷ سم

مخونه : ۵۳

موضوع : دپښتونولی مهم ټکی او پښتنی اصول او هغه څه چې پښتنواله بلل کیږی ، او دپښتنو سره ورډ دی پکې راغلی دی ، او په لنډو ټکو کې ډیر مفاهیم ځای شوی دی .

«۴۲۷»

## لودې پښتانه

لیکونکی : عبدالشکور رشاد

خپروونکی : پښتو ټولنه

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۶ ، دولتی مطبعه

کچه : ۱۸ × ۲۶½ سم

مخونه : ۳۲۵

موضوع : د لودی پښتنو د کارنامو ، سلطنت ، او مشاهیرو بشپړ او دقیق تاریخ دی ، چې د افغانستان دتاریخ دلودي پښتنو باب یې په مستند او موثق ډول ښیرلی دی ، او په پای کې یې داعلامو فهرست هم ورکړی دي .



«۴۲۸»

## لوړ خیالونه او ژور فکرونه

انتخاب ، ترجمه ، تألیف : گل پاچا الفت

خپروونکی : پښتو ټولنه

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۵ - دولتی مطبعه

کچه : ۱۷ × ۲۵ سم

مخونه : ۹۷

موضوع : د ژورو فکرونو یا د پوهانو د فلسفی تعبیرونو یوه خوندوره مجموعه ده ، چې دژوند په زړه پورې مسایل پکې رانغښتل شوی دی .

«۴۲۹»

## لوی احمدشاه بابا

مرتب او لیکونکی : عبدالحی حبیبی

خپروونکی : پښتو ټولنه ، کابل

دخپرېدو کال : ۱۳۱۹ - عمومی مطبعه

کچه : ۱۲ × ۱۷½ م

مخونه : ۳۰۳

موضوع : دلوی افغانستان دسترټولواک احمدشاه بابا داشعارو مجموعه او دده دژوند په حالاتو او معاصر پېښو باندې یوه تحقیقی او عالمانه رڼا .

«۴۳۰»

## لیت اولار

ویونکی : سمندر دبدربنو

چاپوونکی : ادارۀ اشاعت سرحد ، پیښور

دچاپ کال : ۱۹۴۷

کچه : ۱۴ × ۲۰ سم

مخونه : ۱۴۴

موضوع : دپښتو دمشهورشاعر سمندر صاحب دا جتماعی شعرونو یوه مجموعه ده ، چې ډېرا جتماعی دردونه یې پکې نغښتي دي .

«۴۳۱»

## لیکوالی

### املاوانشأ

د : گل پاچا الفت

خپروونکی: پښتوټولنه

دخپرېدو کال : ۱۹۶۱- دولتي مطبعه .

کچه : ۱۸ × ۲۶ سم

مخونه : ۲۲۰

موضوع : د پښتودگرامر ، لیک دود، املایي پرېکړو، اود پښتو



دانشأ دغوره نمونو یوه مجموعه .

«۴۳۲»

## لیونی

مصنف :اکمل خان لیونی

خپروونکی : عوامی کتب خانه ، پېښور

دخپرېدو ځای : منظورعام پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم

مخونه : ۶۴

موضوع : داولسی شاعر د چاربېتو، غزلو، لوبو، لنډیو ر باعیگانو، او نورو اولسی رنگارنگ شعرونو مجموعه .

«۴۳۳»

## ما مونی

لیکوونکی : میا سید رسول رسا

خپروونکی : یونیورسټي بک ایجنسی .

دخپرېدو کال : نه لری ، منظورعام پرېس ، پېښور

کچه : ۱۲½ × ۱۸½ سم

مخونه : ۲۴۸

موضوع : دایوشکلې ناول دی چې دیوې پاکې مینې جریانات

بیا نوی او د یوې افغا نستا نی پښتنې پېغلې او یوه پښتو نستا نی ځوان له خوا په ایران کې پېلیږی ، او هماغلته د پیغلې دناشا پی مړینی له کبله ناول ختمیږی .

«۴۳۴»

## مجاهدافغان

لیکوونکی : محمد ولی زلمی

خپروونکی: د پښتو دتعمیم اوا نکشاف مدیریت .

دخپرېدوکال : ۱۳۴۶ . دو لتی مطعبه .

کچه : ۱۴ × ۱۹ سم

مخونه : ۲۴۰

موضوع : دملی مجاهد ، مولیناحاجی عبدالرازق د مجاهدو او له انګریزانو سره د مبارزو ، او ددهدژو ند نورې پېښې پکې لیکلې شوی دی ، چې په دې برخه کې ځینې فرامین او اسنادهم وړاندې شوی دی .

«۴۳۵»

## مجبور زړه

مصنف : دلاورخان‌سیلاب

خپروونکی : عوامی کتب خانه ، پېښور .



دخپرېدوځای : حمید یه پریس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم

مخونه : ۷۲

موضوع : داولسی شاعردغزلو ، رباعیګانو ، لوبو، مسر یو او نورو شعرونو مجموعه ده .

«۴۳٦»

## محبوبه اوجلات

مصنف : عبد الکریم

ناشر : رحمان‌ګل ، نیوکاکشال پشاورشهر

دخپرېدو ځای ! نه لری

کچه : ۱۵½ × ۲۳½ سم

مخونه : ۳۲

موضوع : دمحبوبه اوجلات‌ملی کیسه‌چې په پښتنی فولکلور کې زیا ت شهر ت لری ، پکې را غلی او په ۱۲ څپه بیز ه مثنوی لیکلې شوې ده .

«۴۳۷»

## مخزن

مصنف: اخوند درويزه.

مقدمه: سيد تقويم الحق کاکا خيل.

خپرونکي: پښتو اکېډيمي، پېښور پوهنتون.

دخپرېدو کال: ۱۹۶۹، حميديه پرېس، پېښور، زرتوکه.

کچه: ۲۱×۱۶½

مخونه: ۲۱۶

موضوع: داخوند درويزه ددیني لارښوونو او مسايلو مجموعه ده چې د مسايلو په ترڅ کې يې دپښتو نخوادیوملي مبارزپیر روښان په ضد هم خبرې کړې دي.

دا متن په دقيق طور د لسو قلمي نسخو له مخې خپور شوی دی او د پښتو د نثر په څېړنه کې استفاده ترې کېدای شي.

«۴۳۸»

## مرغلري

ليکونکی او خپرونکی: عبدالله (خدمتګار)

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۵۱، دولتي مطبعه.



کچه: ۱۶½×۱۲½

مخونه: ۵۶

موضوع: دويښو ځلميانو دملي نهضت په وخت کې دښاغلي بختاني ليکلې شوې اجتماعي ټوټې دي او وروسته يې ځيني نورې پارچې هم پرې ورزياتې کړې دي، چې په ټولو کې يې ملي دردونه، او ملي مسايل نغښتي دي.

«۴۳۹»

## مراوي ګلونه

ليکونکی: سيدنواز

خورونکی: رحمان نيوز ايجنسي.

دخپرېدو کال: د ۱۹۶۱ کال مئ، پنځه سوه توکه.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۱۹۲

موضوع: ديو لړ ادبي او انتقادي مقالو يوه کوچنۍ مجموعه ده چې تر ۱۲ عنوانو لاندې دوولس مقالې پکې ليکلې شوې دي.

«۴۴۰»

## مزارات

ليکونکی: ولي محمد سيال کاکړ.

خپروونکی : سلیم بوک ډپو.

دخپرېدو کال : ۱۹۷۳، اسلامیه پرېس، کوټه.

کچه: ½۱۲ × ۱۸

مخونه : ٦۴

موضوع : دجنوبی محکوم پښتونستان د پښتنی سیمو ځنو زیارتونو معرفی ده چې په خلکو کې معروف دی او په دې باب دخولو روایات راغونډ شوی دی چې که له یوې خوا د تاریخ لیکونکو لپاره ګټور دی، له بلې خوا دفولکلور دڅېړونکو لپاره هم په زړه پورې او ګټور دی.

## «۴۴۱»

## مطبوعاتو ته یوه کتنه

لیکونکی: محمد کاظم آهنګ او داکتر محمد ظاهر صدیق.

خپروونکی : د افغانستان کالنۍ مدیریت.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۵۱، دولتی مطبعه.

کچه: ½۱۲ × ½۱٤

مخونه : ۷۰

موضوع : په افغانستان کې دمطبوعاتو دسلمې کلیزې په مناسبت دافغانستان دمطبوعاتو یو فهرست ډوله اثر دی او له شروع



نه تر هماغه مهاله دټولو خپرونو یادونه پکې شوې ده .

## «۴۴۲»

## معراج نامه نبوی

ناظم : غلام محمد.

خپروونکی : دېوان چهجو سنګهه.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۰۳ هـ، ق، مطبع یوسفی دهلی.

کچه: ۱۷ × ½۲۴ سم.

مخونه : ۳٦

موضوع : دحضرت رسول (ص) دمعراج پېښې په نظم پکې خوندی شوی او ټول کتاب په اوږده بحر کې دقصیدې په ډول تر پایه لیکل شوی دی، په بر نیو ځنډونو دوهمه یاوره معراجنامه ده چې په لنډه مثنوی لیکله شوې ده.

## «۴۴۳»

## معرفة الافغانی

لیکونکی : پیر محمد کاکړ.

خپروونکی: ملا جان محمد او ملا بسم الله د کندهارد کتابونو تاجران.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۴۱ هق، اسلامیه ستیم پرېس لاهور

کچه: ½۱۴ × ۲۱ سم.

مخونه: ۳۸

موضوع : دا دپښتو زده کړې لومړنی کتاب دی ،چې دپښتو نامتو شاعر پیرمحمد کاکړ دلوی احمد شاه بابا دزوی شهزاده سلیمان په نامه لیکلی او دپښتو ورځنۍ خبرې او دځینو نومو نه یې پکې لیکلی دی او په حقیقت کې دپښتو د رسمي کولو لپاره دالومړنی کوښښ دی .

## « ۴۴۴ »

## مفرور

لیکونکی: میاں سید رسول رسا.

خپرونکی : یونیورسټي بک ایجنسی.

دخپرېدو کال : ۱۹۶۳ ، اول ځل ،زرتوکه.

کچه : ۱۲ × ۱۹.۱ سم.

مخونه : ۱۷۴

موضوع : یو رنګین انتقادی ناول دی او هغه کسان پکې غندل شوی چې خلک بې ګناه وژنی او بیا د قانون له پنچې نه دخلاصون په غرض فرار ته ترجیح ورکړی او مفرور شي .



## « ۴۴۵ »

## مکارم الاخلاق

لیکونکی : شیخ عبدالقادر مغربی.

پښتوکوونکی : ښاغلی قیام الدین خادم.

خپرونکی : دنشریاتو لوی مدیریت.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۳ ، دکابل عمومي مطبعه .

کچه : ۱۶ × ۲۱ سم.

مخونه : ۳۱۷.

موضوع : په دې کتاب که له اسلامي پلوه داخلاقو په باب بحث شوی ، او داخلاقو یوه هراړخیزه څېړنه ده .

( دا کتاب په پېښور کې هم خپور شوی دی . )

## « ۴۴۶ »

## ملی ادب

لیکونکی :سیال کاکړ.

خپرونکی: پښتو اکېډیمي، کوټه.

دخپرېدو کال : ۱۹۷۲ ع ،اسلامیه پریس کوټه .

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۴۸

موضوع : دپښتو يو ګڼ شمير متلونه د « الفبی » په ترتيب پکی خوندی شوی دی او په لوسړی برخه کی يې په متلونو خبره شوی ده او د پښتو داولسی ادب دخيړونکو لپاره ښه اخځ دی.

## « ۴۴۷ »

## ملی پسرلی

دملي شاعر خوشحال خان ختك په ياد پسرلنی سندره

و يناد : عبدالحی حبيبی دطلوع افغان چلوونکی .

خپروونکی: دطلوع افغان اداره، دخپلوا کی د يوويشتم کال هديه

دخپريدو کال اوځای : ۱۳۱۸ ، د طلوع افغان مطبعه .

کچه : ۱۳ × ۱۹ سم .

مخونه : ۳۲

موضوع : دخوږ او روان شعر په ترڅ کې د افغانستان ملي افتخارات ستايل شوي ، افغانان ملي وحدت ته رابلل شوي او دتېرو يادونونه نوي وخت ته درسونه دي .

## « ۴۴۸ »

## ملی دردونه

و يونکی : سيال کاکړ .



خپروونکی : په خپله .

دخپريدو کال : ۱۹۷۲، اسلاميه پريس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۸سم .

مخونه : ۵۶

موضوع : دسيال کاکړ دتودو احساساتو ، ملي جذباتو او افغاني خيالاتو ، يوه خوندوره مجموعه ده او دده خواږه ملي شعرونه پکې خوندي شوي دي .

## « ۴۴۹ »

## ملی سندرې

ليکونکی : محمدګل نوري .

خپروونکی : پښتو ټولنه .

دخپريدو کال : ۱۳۲۳ ، عمومي مطبعه .

کچه : ۱۹ × ۲۴ سم .

مخونه : ۱۷۶

موضوع : دپښتو ټولنه‌ی ، بابولالې او داتڼ نارې داستاد نوري له خوا پکې راټولې شوې ، چې دلنډيو شمير يې ۳۰۰۰ ، داتڼ د نارو شميريې ۱۰۳ او د بابولالو يې ۱۱۲ دی ، وروسته د دې کتاب په بنسټ د پښتني سندرې لومړی ټوك ، دزياتو مخونو او زيات شمير

لنډيو په لړلو سره خپور شو .

( وګوریء : پښتني سندرې لومړی ټوك )

« ۴۵۰ »

## ملي غيرت

ټولوونکی : عبدالمنان درد مند .

خپروونکی : داتفاق نشراتي مؤسسه .

دخپرېدوکال : ۱۳۳۹ ، د هرات دولتي مطبعه .

کچه : ۱۷ × ۲۰ سم .

مخونه : ۶۰

موضوع : د پښتونستان په باب معلومات ، مقالې او ځينې شعرونه پکې راغونډې شوې دي .

« ۴۵۱ »

## ملي قهرمان

ليکونکی : ګل پاچا الفت .

خپروونکی : دقبايلو مستقل رياست .

دخپرېد و کال : د ۱۳۴۴ کال جوزا ، د پوهنې مطبعه ،

۲۰۰۰ ټوکه .

مخونه : ۱۱۴



موضوع : د پښتو د ادب د لوی قهرمان خوشال خان ختك د اشعارو اوافکارو په باب يوه په زړه پورې ادبي څېړنه .

« ۴۵۲ »

## منتخب شعرونه

ويونکی : سيد شمس الدين مجروح .

خپروونکی : پښتو ټولنه .

دخپرېدو کال : ۱۳۳۷ ، زرټوکه ، د پوهنې مطبعه .

کچه : ۱۶×۲۳سم .

مخونه : ۴۹

موضوع : دښاغلي مجروح داجتماعي ، اصلاحي اورنګينوادبي اشعارو يوه ښکلې ګلدسته ده چې هم نوی رنګ او هم نوی خوند لري .

« ۴۵۳ »

## منطق

ليکونکی : ګل پاچا الفت .

خپروونکی : پښتوټولنه، د ترجمې څانګه.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۳۵ دولتي مطبعه ، لومړی ځل ، زرټوکه

کچه : ۱۴ × ۲۰ سم .

مخونه : ۵۳

موضوع : دمنطق په‌اساساتو یوعلمی بحث دی ، چې د منطق تعریف دمنطق لنډتاریخ ، دمنطق شرح ، تفسیراوترجمه ، په‌منطق کې‌غر بې تغییر ، د نوي او زاړه منطق کلي اختلافات ، د منطق مدخل ، پنځه کلیات ، تصورات ، تصدیقات ، صناعات‌خمسه او نورې‌کې راغلي دي او دمنطق دنویو زده کوونکو لپاره یو ښه لارښود کېدلی شي .

«۴۵۴»

## موری ششتی

لیکونکی : اشراف حسین احمد .

چاپ کوونکی: اداره ساهو لیکونکی .

دخپرېدو کال: ۱۹۶۳ ع، برقی پرېس‌پېښور، زرتوکه .

کچه: ½ ۱۲×۹ سم .

مخونه: ۲۰۱

موضوع : داشراف حسین دشپږو لنډوا جتماعی خوندورو کیسو مجموعه .



«۴۵۵»

## موعظه نامه

پښتو کوونکی: ملاغلام جان پښتو نویس .

خپروونکی: دافغانستان حکومت .

دخپرېدو ځای: دارالسلطنه مطبعه، ۱۳۱۱ ه ق کال .

کچه : ۱۳ × ½ ۲۰ سم .

مخونه: ۱۵۶

موضوع : هغه دینی نصیحتونه دی‌چې د امیر عبدالرحمن‌خان په امر پښتو شوی اوخپاره شوی دی .

«۴۵۶»

## مومن خان شیرینی

لیکونکی : همېش خلیل .

خپروونکی : دارالتصنیف پېښور .

دخپرېدو کال : لوسړی‌ځل ، د ۱۹۶۰ ع کال دسی‌میاشت‌دوهم ځل ، دهمدې کال سپتمبر ، زرتوکه ، پیلک آرټ‌پرېس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ½ ۱۷ سم .

«۴٦٠»

## نالیدلی سوات

لیکونکی : محمد نواز طائر

خپرو ونکی : ماسټر خان ګل.

دخپریدو کال اوځای : ۱۹٦۵ ع شاهین برقی پریس ، پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه : ۲۸۴ + ۱۱ = ۲۹۵

موضوع په : را پور تاژی ډول دسوات دسیمې حالات لیکل شوی او دسوات په سیمه کې لیدلی اوریدلی پکې راغونډ شوی، چې په تاریخی خېړنو کې دیوښه اخځ په توګه ګټه ترې اخیستله کیږی .

«۴٦۱»

## نړی په دوه زرم کال کی

پښتو کوونکی : م . عبدالخالق واسعی (له عربی څخه).

خپرو ونکې : پښتو ټولنه .

دخپریدو کال : د ۱۳۳٦ وری ، دولتی مطبعه ، لوسړی ځل زر ټوکه .

کچه: ۱۴ × ۲۰ سم.



مخونه : ۱۹۴

موضوع : دنړی دآیندې په باب د را دار پیشګو یی چې دبشر آینده په دوه زرم کال کې ښیی او دعلم او سا ینس د پر مختګ پیشګویی کوی .

«۴٦۲»

## نشان ( نښان )

لیکونکی : میر مهدی شاه مهدی.

خپرو ونکی : ادارۀ اشاعت سرحد.

دخپریدو نیټه : د ۱۹۵٦ کال دسمبر ، لوسړی ځل، پبلک آرټ پریس ، پېښور .

کچه : ۱۱ × ۱۷ سم.

مخونه : ۱۹٦

موضوع : دپښتو نستان دانقلابی شاعر اولیکوال میر مهدی شاه مهدی دانقلابی، حماسی، او سیاسی داستانونو ښکلې او رنګینه مجموعه.

«۴٦۳»

## نصرالله خان نصر

مرتبه : همېش خلیل .

خپرووونکی : نصر اکېډیمی ، پېښور.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۹۶۶ ، شاهين برقي پريس ، پېښور.

کچه : ۱۲× ½ ۱۷سم.

مخونه : ۲۳۰

موضوع : په دې اثر کې د پښتو د نامتو شاعر او د پښتو د لوی مېن مرحوم نصرالله پېژند ګلوی او دده په باب د پښتنو شاعرانو او لیکوالو تأثرات او اغیزی ، را غونډ شوی دی .

«۴۶۴»

# نظامنامه د تشکیلات اساسی

## دافغانستان

لیکونکی او خپرونکی : دافغانستان دولت .

کچه : ۱۵× ½ ۲۰سم .

مخونه : ۱۹۹

موضوع : په ۲۳۲مادو او ۱۹ملحقاتو کې دافغانستان داساسی تشکیلاتو نظامنامه ده ، چې داعلیحضرت غازی امان‌الله‌خان‌ددولت له خوا جوړه شوې او د لومړی ځل لپاره دهیواد اداری تشکیلات په اساسی ویش وېشل شوی دی .



«۴۶۵»

# نغمه‌زار

ویونکی : ایچ ، جی ، همېش خلیل‌تاکالی.

خپرونکی : (ددوهم چاپ) ، دارالتصنیف ، بابو حیدر روډ جهانګیر پوره، پېښور ښهر.

دخپرېدو کال : لومړی‌طبع ، ۱۹۴۸ ، پنځه سوه ټوکه، دوهمه طبع ۱۹۶۴ زرټوکه - شاهین برقی پرېس ، پېښور .

کچه .لومړی چاپ ½ ۱۳× ½ ۱۷سم.دوهم‌چاپ ½ ۱۲×۱۸سم ،

مخونه : لومړی چاپ : ۶۴ ، دوهم چاپ ۸۸

موضوع : دلرې پښتونخواد پیاوړی‌محقق همېش خلیل ، دخوانی دتنکیو احساساتو نه زېږېدلو ځلوریزو او غزلو مجموعه ده ، چې د پښتو دمعیاری او غوره ادب یوه په زړه پورې اضافه یې بللای شو .

«۴۶۶»

# ننګیالی پښتانه

لیکونکی :الحاج خانمیر هلالی.

خپرونکی : مکتبه جمهوریت، پېښاور .

دخپرېدو کال : ۱۳۷۷ ه ق ، دلوسړی خور اول .

کچه : ۱۲ × ۱۸ سم .

مخونه : ۴۰۰

موضوع : دغو تنو ننګیالو پښتنو د رزمي کر دار یوه خاکه ، دپښتنۍ ننګ او غیرت یوه ډکه ځولۍ، اود پښتون دبهادرۍ اوشجاعت ځو ناستو ځېرې .

«۴۶۷»

## ننګیالي پښتون

## (خوشال خان خټک)

لیکونکی : دلرې او برې پښتونخوا پښتانه .

مهتمم : محمد اکبر معتمد .

خپروونکې : پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال او ځای : ۱۳۴۵ ،دولتي مطبعه، ۲۰۰۰ ټوکه.

کچه : ۱۹ × ۲۴ سم.

مخونه : ۳۳۱



موضوع : په دې کتاب کې دهغه سیمینار دګډون کوونکو مقالې راغلې دی ، چې دخوشال خان خټک په نامه دلوسړی ځل لپاره په کابل کې جوړ شوی و ، په مقالو کې دخوشحالخان دژوند په بېلا بېلو برخو رڼا اچول شوې ده.

«۴۶۸»

## نور نامۀ کلان

وبرحاشیۀ نور نامۀ خورد مع صدوسی مسئله

ویونکی : غلام نوی ، درویزه ،فهیم.

خپروونکی : محمد امین تاجر.

دخپرېدو کال : ۱۲۸۰ ه ق ، مطبع فیض عام .

کچه : ۱۶ × ۲۴ سم

مخونه : ۴۰

موضوع : دحضرت رسول (ص) د نور په با ب روایا ت او حکایات پکې را ټول شوی دی .

«۴۶۹»

## نوی پښتون

### (د کابل سفرنامه)

لیکوونکی: امیر حمزه شینواری.

د خپرېدو کال: ۱۹۵۸ ع، دولس سوه ټوکه، منظور عام پرېس.

کچه: ½ ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۳۲۰

موضوع: د استاد حمزه د کابل سفرنامه ده چې د خپلې استوګنې د دورې ټول واقعات او جزئیات یې په ډېر مهارت او جذاب ډول ښکلي لیکلي چې ځای په ځای رباعي ګانې او کومیکې برخې هم لري.

«۴۷۰»

## نوی ترنګ

لیکوونکی: میا سید رسول رسا.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي.

د خپرېدو کال: نه لري، ضیاء آرټ پریس، پېښور.

کچه: ۱۸×۱۲ سم.

مخونه: ۱۷۶

موضوع: د ښاغلي رسا د یو لړ نویو شعرونو مجموعه ده، چې اصلاحي، انتقادي او اجتماعي مطالب لري.



«۴۷۱»

## نوی چپی

لیکوونکی: امیر حمزه شینواری.

د خپرېدو کال: نه لري.

کچه: ۱۲×۱۷ سم.

مخونه: ۳۱۴

موضوع: د پښتو یو بېساري رومانی او افسانوی اثر او شهکار دی چې سړی یې په مطالعه نه مړېږي او د پښتنو د سیاسي او لسي او مهذب ژوند یوه زړه پورې تصویر دی.

«۴۷۲»

## نوی روښنی

لیکوونکی: قاضي رحیم الله.

خپروونکی: یونیورسټي بک ایجنسي.

د خپرېدو نېټه: ۱۹۵۸ ع کال ـ دوهم ځل ـ زر ټوکه، منظور عام پریس، پېښور.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۲۵۹

موضوع: یو ډراماتیک اثر دی چې پښتنې دودونه، رواجونه، د هلکانو او نجونو تعلیم په باب او د مور او پلار اطاعت او په خوارو او بېکسو د ظلم کولو نتیجې ښکې تمثیل شوی، او یو اجتماعي او انتباهي اثر دی.

«۴۷۳»

## نوی ژبپوهنه او ژبنی مسایل

مؤلف: حبیب الله تږی.

خپرووونکی: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال: د۱۳۴۵ کال ثور، دکابل دولتی مطبعه.

کچه: ۱۴×۲۰سم.

مخونه: ۱۲۸

موضوع: د پښتو ژبې د گرامر جوړښت، لیکدود، معیاری پښتو، ژبپوهنې او د ژبې د سوچه کولو په باب علمی څېړنې او په زړه پورې لارښودنې لری، چې په پښتو کې یو نوی بې ساری اثل گڼل کیږی.

«۴۷۴»

## نوی ژوند

لیکوونکی: صدیق الله رښتین.

خپرووونکې: پښتو ټولنه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۳۳۰، د کابل عمومی مطبعه ۲۵۰۰ ټوکه.

کچه: ۱۷ × ۳۴سم

مخونه: ۱۸۰

موضوع: د پښتونستان د بېلو ـ بېلو سیمو، لنډه پېژندگلوی، د مشرانو وینااوی، د پښتونستان په باب څېنې نور معلومات، او د پښتونستان په باب شعرونه او مقالې پکې خپاره شوی دی.



«۴۷۵»

## نوی ژوند

مصنف: فضل غنی مجاهد

خوروونکی: رحمان نیوز ایجنسي، پېښور

دخپرېدو نېټه: نه لری، پبلک آرټ پریس، پېښور. ۷۵۰ ټوکه.

کچه: ۱۲×۱۹ سم

مخونه: ۱۹۰

موضوع: د فضل غنی مجاهد د مختلفو انتباهی، اصلاحی اجتماعی او عشقی اشعارو مجموعه.

«۴۷۶»

## نوی ژوندون

لیکوونکی: قیام الدین خادم

خپرووونکې: پښتو ټولنه

دخپرېدو کال: ۱۳۲۰، دکابل عمومی مطبعه، پنځه سوه ټوکه.

کچه: ۱۲×۱۸سم

مخونه: ۱۸۸

موضوع: د ښاغلی خادم د هغو ټولنیزو اجتماعی، او انتباهی ټوټو مجموعه ده، چې د نوی ژوند په رڼا کې د نوی ژوند دغوښتنو سره سمی لیکلی شوی او په عین حال کې د پښتو نثر غوره نمونې دی.

«۴۷۷»

## نوی سبک او نوی ادب

لیکونکی : گل پاچا الفت
خپرووونکی : دد اخلی نشراتو مدیریت
دخپرید و نیټه : نه لري ، د کابل دو لتی مطبعه ،
لومړی ځل ، ۵۰۰ ټوکه ۰
کچه : ۱۵ × ۲۲ سم
مخونه : ٦٣
موضوع : یولړ اجتماعی ، انتقادی او انتبا هی ټو ټی په نوی سبک او خوږه پښتو ۰

«۴۷۸»

## نوی سحر

لیکونکې : مبارك سلطانه شمیم
خپرووونکی : د ننگیالی اداره
دخپریدو کال : نه لري ، زرټوکه شاهین پریس ، پیښور ۰
کچه ۱۸×۱۲½ سم
مخونه : ۲٦۲
موضوع : د مبارك سطانه شمیم ، د پنځو مقالو ، ډرامو او رنگینو افسانو یوه رنگینه مجوعه ده ، چې پنځه مضمونونه یوه ډرامه ، او اووه افسانې پکې راغلې دی ۰



«۴۷۹»

## نوی فیشن

لیکونکی : عبدالوهاب د مردان شاعر ۰
خپرووونکی : حاجی فضل احد ـ د پیښور د کتابو تاجر ۰
دخپریدو کال : نه لري ۰
کچه : ۱۲ × ۱۸ سم ۰
موضوع : یوه فولکلوری منظومه کیسه او د کیسو په وقفو کې یو شمیر انتقادی او اصلاحی شعرونه راغلی دی شعرونه یې خواږه او له کیسې نه یې د فولکلور په برخه کې استفاده کیدای شی ۰

«۴۸۰»

## نوی قصه د

## رامدادخان

تصنیف : علی حیدر جوشی
خورووونکی : حاجی عبد المنان او محمد اجمل (اسلامی کتبخانه)
دخپریدو ځای : شاهین برقی پریس ، پیښور ۰
کچه : ۱۲ × ۱۸ سم ۰
مخونه : ٦۴
موضوع : د رامداد خان مومند یوه اولسی کیسه ده ،

چې د اولسي شاعر له خوا په ډېر خوند په مثنوي کې ويله شوې ده .

«۴۸۱»

## نوی قصه دشهزاده لال

## اونيلمی شهزادګۍ

مصنف : طالب ولی محمد خان .

خپروونکی : رحمان ګل اینډ کمپنی ، نيوکاکشال .

کچه : ۱۱ × ۱۸ سم .

مخونه : ۱۲۸

موضوع : ددوو مينانو يوه فولکلوري کيسه ده ، چې د اولسي نظم په قالب کې اچوله شوې او ځای په ځای لوبې ، لنډۍ او رباعيګانې هم د کيسې د رنګينۍ په غرض پکې راغلې دي .

«۴۸۲»

## نيک عمل

مؤلف : محمد عباس .

خپروونکی : يونيورسټي بک ايجنسي ، پېښور .

دخپريدو نېټه : ۱۹۶۸ - زر ټوکه ، منظور عام پريس پېښور .

کچه : ۱۲ × ۱۹ سم .

مخونه : ۳۱۲



موضوع : داسلام دلويانو او بزرګانو هغه افعال او وينا وې دي ، چې د نيک عمل او ښو کارونو ته بلنه پکې شوې او انساني فضايل او د انسان سره وړ کارونه پکې ستايل شوي ، او داخلاقو او شرع نه منافي کارونه پکې غندل شوي دي . دا اثر سربيره پر دې په پای کې د پښتو د مهمو کتابو يو فهرست هم لري .

«۴۸۳»

## نيم جام

ليکوونکی : فضل الرحيم ساقي .

خپروونکی : يونيورسټي بک ايجنسي .

دخپريدو کال : نه لري ، لومړی ځل - ۵۰۰ ټوکه حميديه پريس ، پېښور .

کچه : ۱۲½ × ۱۸½ سم .

مخونه : ۲۰۸

موضوع : دفضل رحيم ساقي دشلو ريزو يوه ښکلې مجموعه او د نيم جام تکمله او بشپړوونکې ده .

«۴۸۴»

## ورکه خزانه

## (اول ټوک)

ليکوونکی : هميش خليل

خپروونکی : دار التصنيف ، جهانګير پوره .

دخپريدو کال : ۱۹۶۰ - زر ټوکه ، پبلک آرټ پريس پېښور .

کچه : ۱۲ ½ × ۱۸ ½ سم.

مخونه : ۴۴۸

موضوع : دپښتو دخورلسوپخوانیو شاعرانوورك کلام اوژوند پېښې پکې راغلې، په دې شاعرانو کې داسې کسان هم شته چې پخوا چاته نه ؤ معلوم، دپښتو یوه قابل قدر تذکره، اودهمیش خلیل دزیار یوه درنه نمونه ده.

«۴۸۵»

## ورکه خزانه

### (دوهم ټوك)

لیکونکی : همیش خلیل

خپرو ونکی: دار التصنیف، جهانگیر پوره، بابو حیدر روډ، پېښور ښهر. دخپرېد وکال : د ۱۹۶۰ دسمبر، لومړی ځل، زرټوکه، منصور پریس، لاهور.

کچه : ۱۲ ½ × ۱۸ سم

مخونه: ۳۲۰

موضوع : دپښتو دپخوانیو ۳۷ تنو شاعرانو پېژندګلوي، اود کلام نمونې یې پکې راغلی، چې داټول شاعران تردې وخته دنورو تذکره لیکونکو له نظره پټ وو او که نوم یې موجود ؤ، د کلام نمونه یې نه پیدا کېدله.

«۴۸۶»

## وړې قصې (کیسې)

لیکونکی: حافظ محمد ادریس

خپرو ونکی: یونیورسټی بک ایجنسي.



دخپرېدو کال: نه لري

کچه : ۱۲ × ۱۷ سم

مخونه: ۱۳۰

موضوع: دماشومانو او زده کوونکو لپاره یو شمېر لنډې انتباهی او اجتماعی کیسې پکې راټولې شوې، چې هم یې نثر خوږ او روان او هم یې مطلب پوخ او ژوردی، او د پند او عبرت نه ډکې دي.

«۴۸۷»

## ولولې

مصنف : پیر گوهر،

خپرو ونکی:د رهبر اداره

دخپرېدو کال: ۱۹۶۰ع، پبلك آرټ پریس، پېښور.

کچه : ۱۵ × ۱۹ سم

مخونه: ۱۰۶

موضوع : دپیر گوهر، داصلاحی، انتقادي، انتباهی، اجتماعی او وطنی اشعار وخوندوره مجموعه.

«۴۸۸»

## وندر

لیکونکی : محمد جعفر اڅکزی

خپرو ونکی: جعفر پبلشنګ، هاوس ارباب کرم خان روډ کوئټه، بلوچستان.

دخپرېدو کال: د۱۹۵۹ مې، اول اشاعت، بلوچستان پريس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۹ سم

مخونه: ۱۷۰

موضوع: داد پښتنو شاعرانو يوه کوچنۍ تذکره ده، چې د پښتو ديو لړ مشهورو شاعرانو احوال او د کلام نمونې پکې راغلي او هم داقبال او قاضي نذر الاسلام دژوند حالات او د کلام پښتو ژباړه پکې شته.

## «۴۸۹»

## ونړيځی (ونيڅی)

تصنيف او تأليف: عمر گل عسکر

خپروونکی: پښتوا کيډيمی، بلوچستان، کوئټه.

دخپرېدو کال او ځای: ۱۹۷۲ع، اسلاميه پريس کوټه.

کچه: ۱۲×۱۸ سم.

مخونه: ۱۱۲

موضوع: د پښتو د يوې په زړه پورې لهجې (ونيڅي يا ترينو) په باب چې حتی ځينی کسان يې ځانګړې ژبه بولی، تحقيق او څېړنه شوې ده او د خلکو خبری يې راغونډې شوې دي. پردې لهجه باندی د کابل په آريانا مجله کی هم پوهاند عبدالحی حبيبی يوه رساله ترجمه او ترتيب کړې ده.



## «۴۹۰»

## هزار مسايل

پښتوناظم: نجابت.

خپروونکی: حاجی محمد عبدالخالق، فضل مالک

د خپرېد وځای: شاهين برقی پريس، پېښور

کچه: ۱۶×۲۴ سم.

مخونه: ۵۶

موضوع: په پښتو نظم باندې يوزيات شميرديني مسألې راغلی دي او ددې مسألو شکل مرکه ييز دی چې پوښتنې او ځوابونه دي.

## «۴۹۱»

## هغه وژړل

ليکونکی: غوث خيبری.

خپروونکی: دمطبوعاتو وزارت، دافکارو دتنوير رياست، د کتاب چاپولو مديريت.

دخپرېدو کال: ۱۳۴۴، دولتی مطبعه.

کچه ۱۳×۱۸ سم.

مخونه: ۶۲

موضوع: دانګريزانو په مقابل کې، د پښتنو د مبارزو هغه لنډې او خوږې کيسې دی، چې د تاريخی اسنادو په اساس، په داستانی شکل ليکل شوې، په دې مجموعه کی د: ستوارت مړشو، دانسا نيت په نوم، کپتان

دښځوپه جامه کې ، ديوحقيقت يادونه ، کپتان او بن من، د شهيدانوو ينې، اسيران، دلفټننټ مرگ ، استعمار مرده باد د مرگ کاروان ، ويس اوراباڼ ، هغه وژړل ، د مرگ تيا ره ، جنازه دتوب پهسر ، اودقهرمان په نومونو پنځلس لنډې تاريخي افسانې راغلې دی .

«۴۹۲»

## هغه وو يل

ليکونکی : جبران خليل .
اردوژباړن : قاضی عبدالغفار .
پښتوژباړن : عزيز الرحمن سيفی .
خپرو ونکې : پښتوټولنه .
دخپريدو کال : ۱۳۳۶ ، دولتی مطبعه ، زرتو که .
کچه : ۱۷ × ۲۵ سم .
مخونه : ۱۰۱

موضوع : دعربی نړۍ دلوی ليکوال جبران خليل د په زړه پو ری اد بی ليکنو روانه تر جمه ده ، چی د د غه ليکوال ادبی قوت ترې ښه ښکاری .

«۴۹۳»

## هلمند

(د کلتور په ساحه کی)
ليکونکی : محمد ابراهيم عطايی
خپرو ونکی: داطلاعاتو او کلتووزارت ، دآثارو او هنر دتشويق لوی مديريت .



د خپريدو کال : ۱۳۴۴ ، دولتی مطبعه .
کچه : ۱۵ × ۲۱ سم .
مخونه : ۱۰۵

موضوع : په دې رساله کې دهلمند په باب عمومی معلومات وړاندې شوی او مخصوصاً دهلمند په کلتوری اړخ زيات زوراچول شوی دی او ددې سيمې د خلکو کره وړه ، افسانې ، روايات او د ژوندنوراړ خونه په ښه توگه څېړل شوی دی .

«۴۹۴»

## هميشه بهار پښتو

و يونکی : سيدعبدالخالق .
خپرو ونکی : پخپله مؤلف .
دخپريدو ځای : اسلاميه پريس کوټه .
کچه : ۱۳½ × ۲۱ سم .
مخونه : ۳۲۵

موضوع : د کندهار د مجلسی شاعر، دهغو شعرونو مجموعه ده، چې په هندی مقامونو کې يې ويلی او د کندهار مجلسيان بې د ساز په خپو کې وايی ، د پښتو ادب په څېړنه کې د هندی طرزونو په برخه کې ښه اخځ دی .

«۴۹۵»

## هنداره

لیکونکې: زیتون بانو.

خپروونکی: ادارهٔ اشاعت سرحد.

دخپریدو کال او ځای: ۱۹۵۸ع سرحد الکتریک پریس.

کچه: ۱۲ × ۱۸ سم.

مخونه: ۲۲۰

موضوع: دزیتون بانو خورکی دوه اجتماعی ډرامې او دوولس لنډې کیسې پکې راغلې دي، د کیسې د لیکلو په اصولو سمې او ډیرې زړه وړونکې او خوندورې دي.

«۴۹۶»

## هنراو ښکلا پیژندنه

لیکونکی: م. ظاهر افق.

خپروونکې: پښتو ټولنه.

دخپرید و کال: ۱۳۵۴

دخپریدو ځای: دولتی مطبعه.

کچه: ½۱۳ × ½۱۸ سم.

مخونه: ۹۰

موضوع: دهنراو ښکلا په باب تردې سرلیکونو لاندې: «دهرې ټولنې اجتماعی شعور د هغې ټولنې په اجتماعی- اقتصادی جوړښت اړه لری، هرشی او پدیده وخپل ځان



ته ځانګړی شکل او مضمون لری، هنر د هنرله پاره تیوری دیوه ترخه ژوند نتیجه ده، ادب په هنری نړۍ کې یوه لویه برخه اشغالوی، ښکلا او ښکلا پیژندنه» خبرې شوې دی.

«۴۹۷»

## هوتکیان

لیکونکی: عبدالرؤف بینوا.

پښتو کوونکی: محمد یونس مراد.

خپروونکې: دتاریخ او ادب ټولنه.

دخپریدو کال او ځای: ۱۳۴۵، دولتی مطبعه او دپوهنې مطبعه.

کچه: ۱۷×۲۴ سم.

مخونه: ۱۶۷

موضوع: دهوتکیانو ددورې تاریخ په لاندې فصلونو کې: «دهوتکیانو دسلسلې شروع کیدل، دمیرویس دوره، دعبدالعزیز دوره، دشاه محموددوره، دشاه اشرف دوره، دشاه حسین دوره، دهوتکیانو ددورې نومیالی» ترسرلیکونو لاندې مطالب راغلی دی.

«۴۹۸»

## یوازینی پښتو

لیکونکی: د پښتو مرکې یوشمیر پښتانه.

دخپرویدو کال او ځای: دپوهنې وزارت تاپن ځای، ۱۳۰۱ش.

کچه: ۱۷×۲۰ سم.

مخونه: ۱۵۲

موضوع: د پښتو ژبې سوچه لغات او جملې دي چې په مقابل کې یې د دري ترجمه هم ورسره راغلې او د پښتو ژبې د زده کړې په منظور لیکل شوې او ترتیب شوې ده، په دې اثر کې هڅه شوې چې سوچه پښتو و لیکله شي، ځینې زاړه لغات راژوندي او ځینې پردیو نوموته نوي لغات جوړ شي. دا اثر د هیواد د بیلا بیلو سیمو د نماینده گانو پښتنو په وسیله لیکل شوی او د غازي امان الله خان له خوا د لوسړني جوړې شوې پښتو مرکې له خوا خپور شوی دی.

«۴۹۹»

## یوسف او زلیخا

ناظم: احمد جان.

ناشر: حاجي عبد الخالق.

کچه: ½۱۶ × ½۲۴ سم.

مخونه: ۱۸۴

موضوع: د حضرت یوسف او زلیخا مشهوره کیسه ده، په دولس څپه ییزه مثنوي لیکله شوې، او په پښتو کې د یوسف او زلیخا د نورو پښتو کیسو د تحقیق په وخت کې کار ترې اخیستل کېږي.



«۵۰۰»

## یوسف زلیخا

د: عبد القادر خان ختک.

خپروونکی: دیوان چهجو سنگه.

د خپریدو کال او ځای: مطبع یوسفي دهلی ۱۲۹۸ ه ق.

کچه: ½۲۴ × ۱۷ سم.

مخونه: ۱۵۲

موضوع: د یوسف او زلیخا مشهوره او خوږه کیسه ده چې د پښتو پیاوړي شاعر په ډېره خوږه مثنوي په اتله بحر کې ویلې ده.

## ددې کتاب په خپرولو کې دی لاندی کارګرو زیار ګاللی دی

سر مرتبین ښاغلو آقا محمد او صوفی عبداللطیف .

مرتبین : ښاغلو سید هاشم ، عبدالصبور ، محمد نسیم، دادخدا

محمد جمیل ، حبیب الله ، محمد سمیع .

ماشینکاران : عبدالوهاب ، سید عبدالقیوم ، او محمد سمیع .

همدا راز ښاغلو ګلبدین خان دحرو فچیني آمر ، محمد مهدی د طبع حروفی چاپ مرستیال او پیر محمد خان زیاته پاملرنه کړی ده چې د زړه له کومې مننه ترې کوو .